# د وخت ضرب
# که
# د ژوند کرب

محمد اکبر کرګر

www.sikaraam.com

## دکتاب پېژندنه

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | :: | د وخت ضرب که د ژوند کرب |
| لیکوال | :: | اکبر کرګر |
| خپروونکی | :: | پښتانه مترقي لیکوال پښتونخوا |
| د خپروونولړ | :: | |
| د چاپ شمېر | :: | ۱۰۰۰ |
| کمپوزر | :: | پخپله لیکوال |
| ډیزائن او ترتیب | :: | نوید آرین |
| د پښتۍ خطاط | :: | آرین |
| چاپ کال | :: | اګست ۲۰۱۹م |
| چاپ ځای | :: | لاهور |


www.sikaraam.com

## لړلیک

۱. د وخت ضرب او عطايي ملا که د پرون سهیک عطايي
۲. د وخت ضرب
۳. عشق او عرفان
۴. شعر او عرفان
۵. عشق او اروا پوهنه
۶. رمزونه او رازونه
۷. حسن او عشق
۸. عشق او د عمر نوستالژي
۹. د ژبې اغېز
۱۰. د تېر مهال ته ولنیزي تېر ارمان
۱۱. اسطوره او له هغو پوهاوی
۱۲. د هېواد او سني حالات او د شاعر مدینه فاضله او عرفاني لید
۱۳. ارزښتونه او انسانیت
۱۴. لوېديځ مدنیت او په هغه نیوکه
۱۵. د عطايي ملا د شعر فورم او ښکلی جوړښت
پایله

www.sikaraam.com

## دوهمه برخه
## د عشق کرامات

۱. ملا او د روښانتیا یا اشراق حماسه

۲. د روښانتیا حماسه او شوقي عرفان

۳. اشراق او روښانتیا یا رڼا

۴. ماخذونه

۵. د منظومې متن

www.sikaraam.com

ټړون

د پښتون وطن د ځوانمرګ شهید

ارمان لوڼي په نوم !

www.sikaraam.com

## ،، يو بسمل د بل بسمل د درد انځکی پېژندلی سي ،،

د ښاغلي عطايي ملا شاعري زما په وينه کي بهيږي او د عطايي ملا شاعري ما په هر صورت کي ( شعوري او غېر شعوري ) قبوله کړې ده خو د هغه د شعر د نقالۍ بې سوده کوښښ مي هيڅ وخت کړی نه دئ او نه دا کوښښ شعوري يا لاشعوري زما په وس دئ نه راته کوم ارزښت لري ...

عطايي ملا هم دا يو پېژندل سوی دئ دو هم عطايي ملا را پيدا کېدل به زمانې ونيسي ممکن هيڅ داسي ونيسي چي د يوه نوي عطايي ملا سره پښتني ټولنه او پښتو ادب اشنا سي .

يقيناً يو ارمان مي را تر زړه وو او کرار، کرار به راته دو ديدلو چي څوک داسي علمي او سپېڅلی د لفظ حرمت پېژندونکی د قلم امانتګر به را پيدا سي چي د عطايي ملا سره د رفاقت او مخلصتيا يوه اوږده سابقه ولري هم سپېڅلی وجدان او مثبت فکر ولري چي ( د استاد روهي په قول : سپېڅلی وجدان هغه دئ چي د ټولني اړتياوو او غوښتنو ته ځواب وايي ) د عطايي ملا شاعري لوستونکو ته دخپل علمي او ادبي استعداد په بنسټ ور وپېژني.

### د وخت ضرب او عطايي مُلا که د پرون سهيک عطايي؟

**۱. د وخت مفهوم**

د وختونو په ډېر ناوخته سبا راسره يو سپين ږيری او د سپينو اوږدو ويښتانو قلندر د لپ ټاپ په هينداره کي رامخامخ شو، لومړی خو يو زنګ

راغی نوم يې راته نا اشنا وو، د «وخت ضرب» خو چې مخامخ شوم، ومې پېژانده چې قدرمن او د وخت په ګوزارونو ريزمريز خو په معنويت کې هيندوکش او د هلمند سرکښه تن دی، دی عطايي ملا وو ...

زما يې د پوهنتون د دورې تصورات په دا بل مخ راواړول، هغه داسې چې:

«يوه ورځ غرمه مهال د پوهنتون د کتابتون څخه راووتلم، زه له خپل ګران او خوږ ملګري شهيد خان اباد وزيري سره ملګری وم ، په لاره د يو دنګ زلمي د سپيني څېرې خاوند چې له څېرې يې زړورتيا او پښتني هوډ له ورايه مالوميده، مخامخ شوم ، له يو چا سره يې يو تود سياسي بحث چې هغه مهال د پوهنتون په چاپېريال کې معمول وو روان وو، هم دې زلمي په بحث کې پريکنده کلمات کارول، د دې لارې د سر بحث کوونکي «سهيک عطايي» وو، جرأت، زړورتيا او سرشاري يې له څېرې او پخو ګامونو برېښېده، دی د تاريخ د څانګې محصل وو.

له ما نه دوه درې کاله د مخه وو...

استاد خان اباد راته راوپېژانده، بيا مې هم دا ځوان د شاعر په نوم هم وپېژانده ، په تېره کله چې د سليمان لايق د «کېږدۍ» اثر په هند کې چاپ شو او په پوهنتون کې د ګوندي ملګرو له خوا لاس په لاس ګرځيده ، په هغه کې يو شعر د هادي عطايي په نوم هم وو ، چې هغه مې څو واري ولوست.

لايق ورته په رښتينې ژبه ويلي وو :

يــه د هلمنــد د غور ځنګونــو عطــا
د يــاغي ســين د فريــادونو عطــا
د ويــدو دښــتو پــه ســره سينه کــي
د يــو ملـــت د عـــذابونو عطـــا

www.sikaraam.com

***

د هـر ماښـام لـه وینـو ډک ګوګـل نـه
سـتا د خـوږمن زړګـي نـارې اورم
د هـر غمجـن نسـیم پـه ښـکلې ژبـه
سـتا د دردونـو اشـارې اورم

***

د تـا رګـو تـه چـې کـوم ساز راځـي
مـا تـه یـې دغلتـه آواز راځـي
تـه د آغـاز د لـذتونو کـافر
مـا تـه ارمـان اوس د آغـاز راځـي

***

د سرې شـپې پـه اوسـیلو کـې ولـې
مـا تـه رالیـږې دا سـرې سـاوې
دا د ناصـورو ځیګرونـو زګیـروې
دا د پیږیـو د غمونـو نـاوې

***

تـه وایـې وسـوم، زه دې سـوی غـواړم
چـې سـوی نـه وې خـو پتنـګ نـه وې
تـه د حرمـان پـه چـړو ژوبـل ښـه یـې
چـې ژوبـل نـه وې خـو د جنـګ نـه وې

***

پـه ارامـۍ کـې دې زوال ویـنم
شـاعره ګـوره چـې خـراب نـه شـې
یـاغي ځپـه شـه د دریـاب پـه زړه کـې

ګردابــه ګــوره چــې ســراب نــه شــې

***

شــــرم دی شـــرم د ســـارا اغـــزي تـــه
چـــې رنـــګ او عطــر د ګلانـــو لـــري
پیغــور پیغــور دی د توپــان مرغــه تــه
چـــــې لطافـــــت د بلانـــــو لـــــري

***

کلـــه چـــې ونځیـــړي تـــوري څپـــې
کلـــه چـــې وځړیـــږي خـــړي لـــړي
کلــه چــې وایښــې ســپینکي څګونــه
کلـــه چـــې وځپـــې دغرونـــو تـــړي

***

کلـــه چـــې ووژي لـــه یـــاغي وریځـــو
د قهر جنــــــــو تنــــــــدرونو آواز
کلــه چــې یــو شــې د دریــاب کړیکــو
پـــه یرغلـــو کـــې د برښـــناوو پـــرواز

***

هلـه دریـاب، دریـاب، دریـاب ښـکاري
د قـــــدر تو د عظمتونـــــو زانګـــــو
ستر بریښي، ښکلي او ژونـدی بریښـي
د حرکـــــت او بـــــدلونونو زانګـــــو

***

هـم دې یـاغي، یـاغي، یـاغي تـه ګـوره
خـــومره قـــوي اوهیبتنـــاک ښـــکاري

www.sikaraam.com

رعـــب او ویـــره او پـــرتم خـــوروي
آزاد او ښـــکلي او بـــې بـــاک ښـــکاري

***

تـــه هـــم دریـــاب یـــا د دریـــاب زوی شـــه
د ســـره هلمنـــد د ســـیلاوونو شـــاعر
یـــا د وطـــن د ســـوځوونکوورځـــو
د یرغلونـــو، ګردشـــونو شـــاعر

***

شـــه د ساړه رغلـــي پـــه مړو ایـــروکـــي
د بیـــا لمبـــو د بلیـــدو هـــادي
شـــه د څپـــو د شـــوګیریو همـــراز
شـــه د هلمنـــد د ترانـــو هـــادي

***

هلمنـد خـو مسـت دی، د مستیو شاعر
زمـــوږ د هیلـــو د هســـتیو شـــاعر
د زمـــانې د سرکښـــانو ســـرکښ
د دې وطـــن د بدمســـتیو شـــاعر

***

لکـــه لـــه زغـــرو تښـــتېدلی ښـــامار
لـــه هـــري تیـــرې ســـره تـــن وهـــي
پـــه هـــره پرخـــه بانـــدي خولـــه لګـــوي
نویـــو ســـیلیو تـــه لمـــن وهـــي

***

دی د محمـــود د حماســـو شـــاعر

دی د مســـــعود د تلوســــو شــــاعر
دی د آســـمان د تنـــدرونو ویانـــد
دی د ســـرو وینـــو د کاســـو شـــاعر

***

دی د افغـــان د عظمتونــــو راوي
دی د میــــرویس د یرغلونــــو راوي
دی پــه ایـران کـي د هوتکــو ورونږــو
د ترخـــــو مـــــانو او مرګونــــو راوي

***

دی د وطـــــن د کړاونـــــو نـــــاره
دی د تـــاریخ د مرســـــلانو امیـــــر
دی د جهـــان د حوادثـــو نهنـــګ
دی د زمـــان د آســـمانونو قجیـــــر

***

دی د کلونـــو پـــه تیـــاره تونـــل کـــي
پـــه ســـختو لارو د مزلونـــو هـــادي
دی د پیړیـــو پـــه ســـتومانه زړه کـــي
پـه اوږدو شـپو کـي د صـبرونو هـادي

***

کــه تــه رښــتیا یــې د هلمنــد شــاعر
دیــاغي ســین د غورځنګونــو هــادي
نــو د پیــړۍ پــه کړکیچنــه لار کــي
شـــه د زلمـــو د ارمـــانو هـــادي

***

ورځــه راويښ کــه د غضــب بادونــه
په سپين ميدان شه، د توپان هادي
ورځـــه مـــاښو شـــه، د نجــات مـــاښو
پـــه ســـختو لارو د انســـان هـــادي

***

بانــدي راوځــه د جګــړې ډګــر تــه
لويـــو ننګونـــو تـــه قـــوت ورکـــه
لـــه کلکـــو ګـــارو ســـره وجنګيـــږه
ځوانـــو موجونـــو تـــه طاقــت ورکــه

***

د دښت بادونـه چـې ځګريـږي عبـث
ورکـــه دا تـــه د جنګيـــدو ژبـــه
د دې بيـــدياو د خــــورو پر ګنـــــو
د ويښــــېدو او جګيـــــدو ژبـــــه

***

دې تـــورو تـــورو غـــرو تـــه وغـــږوه
د خپلـي سـرې فلسـفې سـره شـعرونه
دغـــو ســـړو خـــاورو تـــه ننـــه باســـه
لکـــه د اور غونـــدي تـــاوده شـــعرونه

***

دې کنـــو خلکـــو تـــه غورونـــه ورکـــه
پر پـــږده چـــې واوري د توپـــان اواز
دا لـــه جهانـــه يتـــيم شـــوی وطـــن

www.sikaraam.com

پر یــــږده چـــي واوري د جهـــان اواز

***

شــــي د ځپــــو دیر غولونــــو وطــــن
د انقـــــلاب د ارمـــــانونو وطـــــن
د تنـــدرونو تـــر اورونـــو لانـــدي
د نـــوې ژونـــد د تکلونـــو وطـــن

(۱۰: ۷۳-۷۸)

دا ځېره د شعر په لوستلو سره وار په وار راته تداعي کیده، خو بیا کلونه تېر شول، د وخت ضربونو دی هم تېپي کړ او د وخت قمچینو زما په تن او بدن هم تغمې جوړي کړې، په دې ډول یې زموږ د دواړو په روح او روان کي تېپونه جوړ کړل.

د صادق هدایت په قول چي وایي :...

په ژوند کي داسي تېپونه دي چي د **خووري** ( ښره، شوره ) ، په ځېر کرار کرار روح په یوازیتوب کي خوري او توږي یې ، دیوال ویجاړول یا پایمال ، دا دردونه نه شي کیدی چاته وویل شي دا ځکه چي په عامه توګه عادت لرو دا نه باوریدونکي دردونه د اتفاقاتو او نادرو او عجیبو پیښنو برخه وبولو او که څوک ووایي یا یې ولیکي خلک د خپلو جاري عقایدو او باورونو له مخي هڅه کوي چي شک وکړي او پرې ملنډي ووهي . »(۵: ۵)

په هر حال ځمکه کروي ده، د روزګار تېریدنګ هم څرخ ته ورته دی، پخوانیو شاعرانو «زمان» بې ځایه څرخ فلک نه دی بللی؛ بلکې زه او دی په سکایپ کې مخامخ شو ، هغه راته خپلي خاطرې وویلې، دوام یې ورکړ:

«د ثور پاڅون په لومړي کال زه د ښووني او روزني وزارت د تالیف او ترجمې د ریاست مسلکي کادر وم، امین په تره کي کودتا وکړه، د نور محمد

تره کي پلويان يې يو په بل پسې په مخه اخيستي وو ، شاه محمود حصين بندي شو، زه د تاليف او ترجمې رئيس خدای بخښلي خيرمحمد ساد شينواري وغوښتم ( د دې کرښو ليکوال هم له خدای بخښلي ساد نه ډېري ښې خاطري لري ) او راته ويې ويل، چي بل ځل ستا وار دی بندي کوي دي، ښه به دا وي چي پيشکي معاش درته حواله کړم، هغه واخله او پښې دي سپکي کړه ، ما هم دا مشوره ومنله او ترهغې چي امين او د هغه باند خبريده، زه له هيواده وتلی وم ، ډېر کلونه په پاکستان کي وم، په پېښور او کله په کوټه کي او بيا امريکا ته ولاړم ، لا تر اوسه په امريکا کي يم له ما نه زيات شعرونه ورک او يا چا غلا کړل.»

ده په خپلو خبرو کي د خيرمحمد ساد شينواري چي په پښتو ټولنه کي يې کار کاوه او په سر معلم صيب مشهور وو د مېړاني او ښه ملګرتوب يادونه وکړه.

عطايي ملا د خبرو په پای کې ژمنه وکړه، چي د خپلو شعرونو ټولګه راوليږي، څو ورځي وروسته د هغه د شعرونو ټولګه د «وخت ضرب» په نوم را ورسيده، سم له واره مي په لوستلو پيل وکړ...

کتاب او شعرونه يې په ما پوري کلک ونښتل، اوس که ما کتاب پرېښوده زه يې نه پرېښودم، ما د هغه د شعرونو په باب داسي تصور نه کاوه، چي کتاب دې ما تر پايه په ځان پسې راکاږي، بالاخره شعرونه مي ټول ولوستل، زه د خپل ذهن او روان له مخي له شعر نه ځانګړې توقع لرم ، زما توقع د «وخت ضرب» اکثريت شعرونو شا ته ونه غورځوله؛ بلکې په ځان پسې يې راکاږلم ، زما په نظر شعر يوازي يو مقفا او موزون کلام نه دی ...

دا دی د هم دې ټکو وروسته د عطايي ملا د «وخت ضرب» ګوزارونه ګورو او په شعر يې خبري کوو.

## ۲. د وخت ضرب

شاعر خپل اثر ته د «وخت ضرب» نوم ورکړی دی ، که لږ ځير شو دا پوښتنه بايد راسره پيدا شي چې ولي د وخت ضرب؟

د وخت ضرب او ګوزار خو بايد وګورو، وخت په اساطيرو کي په افسانو کي ژور مفهوم لري، د فيلسوف ،،**شيلينګ**،، په قول اساطيري زمان له تاريخ نه مخکي زمان دی، نا ويشيدونکی زمان يعني زمان پخپله دی، که وغواړو هر زمان ورته منسوب کړو نو هغه بايد د يوې شيبې په توګه وګڼو، پيل يې عيناً لکه پای داسي دی، دا ځکه چي د بيلابيلو زمانو له تسلسل نه جوړ نه دی او د لايب نيتس،، په قول له تېر نه ډک او د راتلونکي زيږونکی دی ، اساطيري زمان لکه چي ومو ويل، يوازي او هر څه او د پېښو پيل دی خو دا چې دونيا او د هغه روزګار د آئين او کيت او مقرراتو پوري تړلی دی، نو له دې امله د اساطيري زمان آئين او مراسم هره شيبه نوي کيږي، هغه ته حرکت ورکوي او ازلي پيښي له سره نوې بڼه غوره کوي.(۳: ۱۳۱)

په اريايي اساطيرو او زردشتي کيت کي هم وخت او زمان خپل تقدس او خپل دوه ګوني نقش لري:

در آغاز نوری بود ، که آن ماهيت و اصل همه اشيا بود و در ورای ثواشه (مکان يا سپهر) زروان (زمان) مقر داشت، نور موجوداتی نوراني وربانی بيافريد که بزرگترين انها زروان (زمان بې پايان) بود که اورا زروان بيکران و زروان درنګ خدای مينامیدند ، زيرا سلطنت او ابدي و دايمي است.

پس زروان بيکران هزار سال قرباني کرد تا در بطن او دو فرزند پديد امد ؛ يکی اورمزد که به برکت قرباني خلق شده بود و ديګري اهريمن که ثمره ديد و وسوسه ای بود که ګاهګاه در دلش راه ميیافت. زروان نزد خود ګفت، هريک ازاين دو فرزند زودتر نزدمن بشتابد بادشاهي عالم را بدو خواهم

www.sikaraam.com

داد.(۵: ۴)

په دې اساس د وخت ضرب د زمان او د هغه په اوږده ساره کې د روزګار د سختو ګوزارونو او د راپیدا شویو تپونو استازیتوب کوي، هلته چې ماضي شا ته پاتې کېږي، شاعر یې د حال زمان له ستېج نه په مستقبل کې هم د خپلو تپونو زګیروی له خپل ځیګره اوري، خو دردونه یې په مستقبل کې ځلیږي، موږ دلته د شاعر پېژندګلوي نه کوو، هغه تاسو ته درپرېږدو؛ خو د هغه په وخت ضرب کې یو لنډه سریزه شته، په سریزه کې یې یو پراګراف رااخلو، دا پراګراف د کومې شننې لپاره نه؛ بلکې د ربښتینوالي او صداقت لپاره چې شاعر څنګه خپل احساس بیانوي او کله ناکله د ژوندانه په سترې ستومانه سفر کې خپلې ماضي ته مخ اړوي، خو چې ګوري یوازې یاس او خپګان ترې شپول تاووي:

«زه چې څلور، پنځه کلن ماشوم وم او خپلې مورکۍ به ودونو ته ورسره بوتلم، نو د غوړو سوو تورو پیکیو او تورو سوو سترګو له ښکلا نه به مې د ځان دننه یوه ګونګه شانتې مزه اخیسته او خوندور احساس به مې کاوه، دغه احساس به مې پاپۍ وتخنولې او ماشوم ځان به مې په شرمیدلي او ښبنه نیولي انداز د یوې ښایستې څنګ او کله غېږې ته ورساوه او هغې به هم یا د سترګو په ژبه یا د لاس په لمس یا د مچکو په تودوخه استقبال کړم.»(۷: سریزه)

**په یو غزل تم کېږو اوهلته د مینې کرشمه ګورو**
**مینه حسن لېونی کړه لټوي د صحرا لارې**
**ښوغره ته کډه وکړه، جوړوي د وفا لارې**
**امید بیا په وعده تېر ووت، منتظر جنون ژوندی سو**
**تولوي له کوڅو کاږې، پاکوي د سبا لارې**

www.sikaraam.com

**دا دستور د ښار د ښکلو، چې پر ښکلو لارو درومي**
**موسم توی کړه د ګل وینه، رنګوي د ښکلا لاري**
**څه بې لمر د تندي ګورم؟ د کاکل په توره شپه کې**
**خانه! دا توري لښکري، بندوي د رڼا لاري**
**شیخه ستا د عذاب دروند ږغ، د رندانو په محله کې**
**نړوي جنتي خوني، ورکوي د دعا لاري**
**یو خوا حسن، بل خوا مینه، ربه! ستا آدم مظلوم دی**
**په دې خته کې لړ اور دی، ورشیي د ګناه لاري**
**ملا څه له لمن نغاړې؟ د فتنو له سنګبارانه!**
**دا رانجه د هغو سترګو چې څاري د بلا لاري**

(۷: ۱۱)

د خدای او نیکۍ په حقله هغه (عطایي ملا) لیکي: «انساني هستي بس دغه دوه توري دي **مینه** او **حسن** د کایناتو، د خلقت دوام، د دونیا او اخرت ټول جنجال، د ځمکي او اسمان ټولي نقشې او فیصلې، د، د بني آدم د خلقت راز، د ده ټوله دننه او بهر، د ده ټول جسم او روح، د ده ټوله پرون او نن او سبا، د ده جبلت، د ده مسیر ممات او مقصد حیات بس د دغه دوو تورو په دایره کې چورلک وهي.

زه چې د وخت د استاد ضرب تر دې ځایه راورسولم، نو مې د خپل دې سبق د پخیدو او تکرار په غرض د دنیا له مشغلو نه ځان راپرې کړ، د قال د جنجالي ښار یې نه مې د حال و خاموش کلي ته هجرت وکړ، د امریکانیو هوښیارو سپین مخو د طلایي قفس نه راوالوتم، دلته مې د دې ساده خړمخو کلیوالو ته پناه راوړه او په خپله خاورینه هوجره کې معتکف سوم.(۷: سریزه)

www.sikaraam.com

شاعر وايي:

**د ځان غم دي په سر بار دئ، په دې وره کې نه ځائيږي**
**دلته ټوله «دی او دی» دئ «ته په ده» کې نه ځائيږي**
**دوی وايي زړه د مومن لوی دئ، عرش د رب پکې ځائيږي**
**کافر عشقه! څومره لوی سوې؟ چې مې زړه کې نه ځائيږې**
**ګوره کومه غلا دې کړې، تا له ښهره د خوبانو؟**
**دا د چا بد درپسې دي، چې په غره کې نه ځائيږې**
**تلبيه په زړه کې وايم، اې لبيکه! معذوري ده**
**خوله مې ډکه په يو نوم ده ته په خوله کې نه ځائيږي**
**خان که جوړې فيلخانې کړي د مزاج تنګي يې نه ځي**
**عقله هر څه زور به وکړې خو په خره کې نه ځائيږي**
**اوښکې! روی د ګريوان ګوره، څه د زړه و حرم سرای ته**
**اخر! کلې د پښتو دئ په ليمه کې نه ځائيږې**

(۲۶ :۷)

په پورته غزل کې شاعر د «دی» او «ده» په ضمايرو خپله خبره پيلوي، شاعر له دې او له هغه نه او هم يې د وګړو او هم يې د چاپېريال نه ځان ګوښې احساسوي، له ليرې يې نظاره کوي، په هم دې پرديوالي کې خپل ځان ته ګوته نيسي چې ته په «ده» کې نه ځايږې او ستا ځای هم په کې نشته، خو کله چې له چاپېريال نه بهر کيږي يو لوی کهکشان ته داخليږي او هغه د عشق دونيا ده، سمندر ته داخليږي...

هغه چې کله زړه ته مراجعه کوي او له خپل روان او روح سره وصلت پيدا کوي، نو وايي چې د مومن زړه خو د هر څه لپاره د ځايولو ظرفيت لري، دا خبره کومه کتابي او عقلاني هغه نه؛ بلکې عرفاني ده، خو هغه زړه چې هر څه

په کي ځايېږي، د عشق د ځايولو ظرفيت نه لري عشق او لويت پيدا کوي ...

خو د فنا په پړاو کي چي په خپل اشراقي سير کي د فنا او امحا په زينه پښنه ږدي، په جهر د عشق د عظمت داستان وايي، خو کله چي انسان ته راځي وايي چي انسان لا د دې عشق په خپلولو کي غرق شوی دی، خو له عقله لاره نيولې وايي چي عقل د داسي روح او روان د ځايېدلو ظرفيت نه لري...

خر زموږ په شرقي فرهنګ کي د بې عقلۍ او ناپوهۍ سمبول دی او کله کله هغه انسان ته چي يوازي د خېټي او شهوتو غم ورسره وي هم ويلي شي.

او په پای کي وايي:

**اوښکې! روی د ګريوان ګوره، څه د زړه و حرم سرای ته**

**اخـر! کلـی د پښـتو دئ، پـه ليمـه کـي نـه ځـائېږې**

### ۳. عشق او عرفان

۱- د «**وخت ضرب**» شعر دی په رښتينې مانا شعر چي هلته د سارتر په قول کلمات په نڅا راځي، خپله ځانګړې وينا اوروي ، هغوی چي په دې ژبه لږ و زيات پوهيږي، د هغو مثال لري چي د افلاطوني سمڅي راوتلي وي، لمر ويني، روښنايي ويني، انسانان ويني، د دوی روح او روان ته هينداره ږدي چي خپلي موخي او غوښتني په کي ووينې، خو هغوی چي له دې ژبي سره سر وکار نه لري او پرې نه پوهيږي، د شاعر کلام هم ورته عبث يا «ابسورد» بريښي.

د کارل ګوستاويونګ په وينا چي باور لري «هر خلاق شخص يو ثنويت لري يا په طبيعي توګه د تناقضاتو يو ترکيب دی، له يوې خوا هغه د خپل شخصي ژوند په مقياس يو انسان يا بشر دی، په داسي حال کي چي له بلي خوا هغه يو غيرشخصي خلاقه جريان هم دی، هغه د بشر په توګه کولی شي

له وحشته ډک اواز را پورته کړي، نو موږ باید د هغه رواني جوړښت او اډانې ته هم پام وکړو، چې د هغه غوښتني او شخصيت پکې ومومو، موږ یوازې هغه وخت دا کار کولی شو چې هغه وپېژنو او د یو هنرمند په توګه د هغه د هنري برياوو د ليدلو او کتلو له لارې د هغه ظرفيت وګورو.»

یعنې ترو روستي بريده له یو چا او یا له یو څه سره مینه او لېوالتیا دا یوه ترکيبي عاطفه ده، جسماني تمایلات، د ښکلاپالني حس، له ټولني سره احساس او مینه، حيراني او عزت النفس او نورو څخه دا عاطفه ترکيب شوې ده ، عشق یو بیخي زیات او له بريده وتلې لېوالتیاا و، غالباً نامعقوله غوښتنه ده، چې کله هم د زړه بداوي نه ډکو هيجاناتو سبب ګرځي او دا د بيلابيلو ټولنيزو مظاهرو څخه ګڼل کيږي، چې غالباً د نفساني غوښتنو یوه برخه ده.

خو د متصوفينو او عارفانو په باور د نړۍ او کایناتو او هستۍ بنسټ پر عشق ولاړ دی او د هغه پر اساس د وجود ټول خوځښت او جوش یې نیولی وي، نو اساسي کمال باید په عشق کې وپلټو.

له بله پلوه عشق د عاشق او معشوق له یو بل سره یو مفرط او له حده زیاته لېوالتیا ده چې د حب او دوستۍ مانا لري ، په لغوي مانا کې عشق له «عشقه» په نامه له یو داسي بوټي اخستل شوی چې له ونې څخه تاویږي، او بيې خوري او رنګ یې زیږیږي ، له یوه وخته وروسته یې پاڼي رژیږي .. د صوفيانو په باور عشق چې کله کمال ته رسيږي نو ځواکونه یې شنډیږي، حواس له کاره لوېږي ، اشتها ورکيږي، یو ډول ملال او غمګيني ایجادیږي ، د غير دوست کس له خبرو نه خپه کيږي، ناجوړه کيږي، ليونی کيږي، وایي چې عشق اور دی چې په زړه کې پېښيږي او محبوب سوځوي ، عشق د بلاګانو سمندر الهی جنون او د زړه قيام دی.

www.sikaraam.com

د اسلامي نړۍ ستر ،،متصوف شیخ محی الدین عربي،، چي په ،،شیخ اکبر،، مشهور دی وایي:

«عشق افراطي محبت دی چي په قران پاک کي په حُب تعبیر کیږي ، هغوی چي ایمان راوړی دی، له خدای سره سخته او تر وروستي بریده مینه لري ، په قرآن پاک کي وایي:

«قد شغفها حُبا» یعني د زلیخا مینه د یوسف په زړه کي لکه شغاف وه ، شغاف یو نرم او باریک پوست دی چي له زړه نه تاو شوی دی، په دې اساس خپل حق په شدت سره حُب یا مینه توصیفوي.

هم دا رنګه په هم دې بحث کي په یوه بله برخه کي ابن عربي وایي:

«زه د عشق له مذهبه پیروي کوم ، د عشق سپاهیان په هر لور تاخت کوي ، عشق زما ایمان او عقیده ده، ځیني کسان د عاشقانو ترمنځ شته لکه بشر هند او خوریې یا قیس او لیلا هغه مهال او غیلان ما ته داسي بیلګي دي...

هغه په شرح کې وایي، هر وار چي زما په اوږو رنځ او کړاو ایښودل کیږي، قبلوم یې. هیڅ لاره او مذهب د عشق له مذهبه عالي او لوړ نه دی، پایه او بنسټ یې په عشق او له معشوق سره په شوق چي زه یې پرستش کوم ولاړ دی.،،

**یونګ** زیاتوي:

«موږ باید یوه داسي غمګینه او ناخوښي هڅه وکړو چي د یوه ښاغلي انګریز د ژوند طرز او اکر تشریح کړو یا د پروسي افسر او یا د یو مذهبي کاردینال په اصطلاح شخصي عناصر توضیح کړو ، د غیر شخصي رول په توګه د ښاغلي افسر او مذهبي روحاني نقش او د هغه د رواني جوړښت د نااشنا هدفونو په توګه ارزښت پیدا کوي، خو موږ باید د دې تضمین وکړو ، چي د هنرمند نقش او فعالیت یو رسمي ظرفیت دی چي متضاد اړخ یې هم

www.sikaraam.com

حقیقت ته نژدې دی.

هنر یو ډول ذاتي او طبیعي حرکت دی چې له بشریت سره سروکار لري او هغه وسیله ګرځوي ، هنرمند یو داسي څوک نه دی چې په پرله پسې او ازادانه توګه چې پخپله پای لري، هستونه وکړي.خو، هغه یو ځلي هنر ته اجازه ورکوي چې هدف یې له دې لاري پوهیدنه ده ، د یو انسان په توګه کیدای شي داسي چلند ولري او د شخصي تمایلاتو اهداف ولري خو د یوه هنرمند په توګه هغه یو فرد دی چې عالي احساسات لري، هغه یو اجتماعي فرد دی ، داسي فرد چې پر مخ ځي او د بشریت تحت الشعور او فزیکي ژوند ته بدلون ورکوي، د دغه ستونزمن جریان یا بهیر پر مخ وړل کله ناکله د هغه لپاره اړینه بریښوي چې د خوښۍ لپاره ځان قربان کړي او هر هغه څه چې ژوند جوړوي، د یو منظم او معمول بشري موجود لپاره ګټور ژوند رامنځ ته کړي.»

یونګ «د **شعر هنر**» په لیکنه کي دا خبره شاربي:

«دا عجیبه نه ده چې هنرمند په ځانګړې توګه د اروا پوه لپاره ځانګړې قضیه نه ده ، د هنرمند ژوند پرته له دې چې له لانجې ډک وي، نه شي کولای په خپل درون کي له دوه ځواکونو سره جګړه وکړي ، له یوې خوا د عامه بشري خوښۍ د دوام او د ارضا او قناعت لپاره او له بلي خوا په ژوند کي د مصونیت لپاره مبارزه کوي، په دې اساس د هنرمند ژوند د یو قانون په توګه په لوړه پیمانه د نه ارضا کیدو جوګه دی، چې البته دې ټکي ته تراجیک نه شو ویلی، دا ځکه چې د هغه دروني اضطراب چې د بشر په دننه کي شته، تداوي نه لري بلکې وجیبه لري.»

## ۴. شعر او عرفان

عرفان هم د شعر او ادب په څېر یوه فرهنګي ټولنیزه پدیده ده، چې د هغه

www.sikaraam.com

بنسټ د انسان احساس او عاطفه جوړوي هغه څه چي په عرفان کي مطرح دي، هغه دا نسان روح او روان دی ...

د شیخ محی الدین ابن عربي په عقیده ډېر قوي او خلاق شعر د صوفي له شعر نه بل نشته، دا ځکه چي دیني وجدان راویښوي ، شعر له موسیقي او نغمو سره یو ځای او داوریدو پر مهال د اوریدونکي وجدان بیداروي چي زیاتره د غزل په بڼه څرګندیږي او عطایي ملا هم د خپلو فکرونو کاروان د غزل په رباط کي تم کړی دی، که د شعر او لوستونکي په هدف پوه نه شو یا قصیده چي شاعر یې په مینه او انساني عشق سره وایي او په الهي مفهوم یې زمزمه کوي، فرق نه شو کولی.

وایي چي فارسي او عربي شعر به هیڅکله دومره لوړ معراج ته نه وای رسیدلی خو د صوفیانه نغمو په مرسته یې وکړای شول چي په عرفاني ادب کي چي ډېر مشهور یې هغه رباعیات دي چي د **رابعه** او **ابن فارض** او **ابن عربي** له خوا ویل شوي ...

شعري حالت د دې سبب کیږي چي صوفي شاعر د وجودي مانا او له خدای سره د مطلقي میني سره وصل کوي ، حُب او عشق د هستۍ راز او لومړی سبب دی، په پښتو ژبه کي هم ستر او د اعتبار وړ لومړي شعري دیوانونه روښانیانو ایجاد کړل، هغوی هم کمال کړی دی، د عشق او میني په ډګر کي نه په ځان اړوو او نه یې د دوښمن پروا کړې ده ، زما په نظر خو تر اوسه د میرزا خان انصاري سیال په پښتو شعر کي نشته...

د یو منتقد په قول شعر دوه سرچیني لري چي یوه یې شرعي سرچینه ده لکه د ځینو شاعرانو کلام چي وروسته په عرفاني اشعارو بدلیږي او بل یې عاشقانه یا غنایي سرچینه ده لکه عاشقانه رباعیات، چي تفسیر او تأویلاتو کي صوفیه شیخانو بیا عرفاني وجهه ورکړې ده ...

www.sikaraam.com

په لنډه توګه ځمکنی معشوق او ځمکنی عشق په اسماني او ابدي عشق تأویل شو، لکه څنګه چې **شیخ ابوالسعید** یې په **اسرار التوحید** کې په ډاګه کوي ، **هجویري** هم عرفاني سمبولیزم ته اشاره کوي، خو غندنه یې هم کوي؟

غزل

**شیخ یې خاري د پله نښي، ما یې کور لیدلی دی**
**ده کتلي د عشق توري، ما یې زور لیدلی دی**
**دا اوږده قیصه د زلفو، دا لنډی دعوه د زهد**
**ده یې تار لیدلی نه دی، ما یې تور لیدلی دی**
**چا ته وژاړم چې څوک مې، سوځوي د خاطر خونه**
**نه یې دود، نه یې لمبه شته، نې چا اور لیدلی دی**
**عقل خوار سودایي ګرځي، جنون مست موج د خندا**

**یو اور بل تر پلو لاندي او بل خپور لیدلی دی**
**«پښتني په کتو نه دي» ګراني زما ابې ویل**
**«ورور یې ګوره خور یې غواړه» ما دي ورور لیدلی دی**
**پنجابي تېل یې وهلي، لاس یې نه ټینګوي لاس**
**ربه! خیر مو کړې پښتو ته، خان لا هور لیدلی دی**
**زماني! موسی دي څه شو؟ محراب ونیو سحرګرو**
**سامري ته په سجده مي «دلدل سپور» لیدلی دی**
**ورځ منبر، عتاب او وعظ شپه بد نام بازار د حسن**
**«سپین پګړی» مي په سیاسرو کي سرتور لیدلی دی**
**د دې ښار غسل واجب دی، د قدرت شیطاني خوب**

## هـم قاضـي، هـم محتسـب، هـم مـلا تـور ليـدلی دی

(۷: ۵)

په پورته غزل کې رومانتيزم او عاشقانه جريان له ټولنيزو حالاتو سره يو ځای شوي دي يا په بل عبارت شاعر د خپل انساني هدف د بيان لپاره ليريکه (عاشقانه) ژبه خپله کړې ده ، په هم دې اوچت غزل کي د دوو ليد تو ګو ترمنځ خط کاږل کيږي ، يوه د تشرع لاره ده چي يوازي د کتاب په کلماتو تاکيد کوي، خو بله عرفاني ليدتوګه ده ، عرفاني ليدتوګه افق، پوله او سرحد نه لري، بند نه لري، په کلماتو او تورو کي نه کتل کيږي ، بلکې د هغې نخښې او ځرکونه ډېر وړاندي په اصطلاح ناکجا ابد (نا اشنا ابادۍ) څخه تر سترګو کيږي، دا سترګي هم ځانګړو عينکو ته يعني د معرفت هغو ته اړه لري، د زلفو اوږده کيسه د عرفان او اشراق کيسه ده ، د روښنايي او لمر څرک کيسه ده، د زهد ، ريا او تظاهر کيسه ډېره لنډه او د چا خبره موسمي هغه ده.

شاعر د عرفاني ليد په وزرو ورو ورو ځمکي ته راکوزيږي ، د ريا او تظاهر، د چل او دوکې ټګۍ او برګۍ او يا د رجاله وو (ښځنوکو) چي کله ناکله شاعر د هجړه کلمه هم ورته کاروي، په دونيا يې ملنډي وهي، بيا هم هماغه زمان ته چي ځان د زروان يا ناپايه زمان بچی بولي، پيغور ورکوي چي اوس دې محراب او منبر جادوګر او مداريانو ونيو ، موسی دي څه کړ؟

ايا هغه دي اوس بدل کړ چي پرون دي يوه دعوه کوله خو نن هماغه چي په دلدل سپور وو ، اوس سامري ته په پښو کي پروت دی.

عرفاني شعر او ليدتوګه تل په خپل بيان او انداز کي په متشرع او فقيه باندي سترګي راباسي، برندي، برندي ورته ګوري او ورته وايي:

«څه شول هغه وعظ او تبليغ، زهد او تقوی چي اوس له سپيني پګړۍ

www.sikaraam.com

سره په سیا سرو کې ناست یې.»

عطایي ملا هغو دوه مخو عقیدتمندانو ته چې له ریا او تظاهر نه مالامال دي، ګوته نیسي او هغوی د پنجابي تیلو او د لاهور په استعاره کې ترسیموي ، دی د هغو ریاکارو له عقیدې نه پرده اوچتوي چې وایي د دې ښار غسل واجب دی خو ، دوه مخي عقیدوي پلویان یې په خپل شیطاني خوب سره ښار او یا د د ه د خاپوړو کلي ته د وینو غسل ورکوي او غمیزه لا هماغه شان په شرنګ او برنګ روانه ده.

که په پوره ته غزل کې رومانتیسیسزم او عاشقانه جریان د تولنیزو حالاتو سره موازي پر مخ ځي او یا په یو بل ډول ، شاعر یوه رنګینه ژبه کاروي ده چې له مینې او عشق څخه یو څپک هم لیري نه ده. هغه د عشق لیوال او مجنون دی خو د کوم عشق؟

اړیو چې یو څه د غه عشق ویې پېژنو او د عشق په زینه لږ څه د شعر د اسمان لمنه ونیسو.

**۵. عشق او اروا پوهنه**

معاصره اروا پوهنه د عشق مفهوم او عرفاني پړاو ته د هغه توپ په دې ډول ځېړي.

مشهور اروا پوه او فیلسوف کارل ګوستاو یونګ د عشق د ریښو په اړه لیکي: «لکه څنګه چې پوهېږو، د تمدن ظهور د هغه څه له تدریجي ایل کولو څخه عبارت دي چې د انسان په وجود کې حیوانیت ګڼل کېږي. په واقعیت کې ویلي شو چې متمدن کېدل یعنې اهلي کېدل چې البته دا کار د انسان د حیواني طبعیت له سرکشۍ او مقاومت پرته چې د ازادۍ تږی دی، تر سره به نه شي. غرور او سرمستي کله ناکله په بشریت لاسبري کېږي، خو د تمدن په قیضه ځان مهاروي، لرغونی دوران د دغه سرمستیو او بې قیضې

www.sikaraam.com

کیدلو نه ډک وو ، په ځانګړې توګه کله چې د شرابخوارۍ او ډېر خورۍ مراسم جوړیدل چې دا عادت او رسم له شرق نه اخیستل شوی وو او بیا په نوره نړۍ کې خپور شو، تر هغه ځایه چې دا د شرابخورۍ او د ګیډې د مړولو مراسم د دې سبب شول چې له میلاد نه تر مخه پیړۍ کې روح د هغه په وړاندې یعنې د سختیو د زغم برده باری او ریاضت ارمان په زیاتره مذهبي فرقو او فلسفي مکاتبو کې وده وکړه او رامنځ ته شو، په دې ډول وه، چې په دغه فضا کې په زیات شمېر خدایانو عقیده لکه **میترا**، **مسیح** چې په ریاضت ولاړ وو، رامنځ ته شول.(۱۲: ۱۸)

په دې اساس د عشق مفهوم د انسان د روح او تن سره تړاو لري ژور او بنسټیز اشتیاق دی، له مادي نړۍ ورهاخوا په عرفان کې هم دا مفکوره ډېره غځیدلې ده او په هغه فلسفي ښوونځیو او مذهبي مکاتبو کې یې هم غځوني وکړې، ډېر ښه مثال یې بودایي کیت او د ذن طریقت دی، هم دا علت دی چې تر زیاته حده دغه ایډیا او مفکوره په شرقي عرفان کې وینو، په زردشتي او بیا ویدي مدنیت کې، عشق په روحاني دونیا کې د تعالي او ترانسیندنتال ایډیا جوته وینو، بودیزم هغه مکتب دی چې نیروانا ته رسېدل د ډېر کړاو له تېرولو وروسته ترلاسه کیږي ، په هم دې اساس ځمکني عشق په عرفان او عرفاني دونیا کې د خپلې تعالي مسیر طی کوي.

خو کله چې شعر ته مخه کوو، شعر د انسان په تن او روان کې د یوه ځانګړي حالت زیږنده دی، شاعر ته داسې یو حالت پیدا کیږي چې کله چاپېریال، شیانو یا انسانانو ته ګوري له هغو سره ذهني رابطه پیدا کوي ، دا رابطه یو اروایي رابطه ده چې شیان په مطلقه توګه فیزیکي او مادي حالت له لاسه ورکوي او د شاعر د فکر او احساس یوه موقته برخه رانیسي.

موږ چې کله د عطایي ملا او پر هغه د وختونو ضربې ګورو، نو د خپل

www.sikaraam.com

روان او د خپل باطن داستان وايي، له هم دې لارې يې وايي چې مو ږ وويل.

شاعر په داسې حالت کې د شيانو له جادويي او کوډګر حالت نه اغيزمن کيږي، د هغو رمز او راز د منطق او رياضياتو او د علومو له لارې چې د شعر له مقولې جلا هغه دي، له هغو پرته د خپلو وينو او احساس په وسيله کشفوي، شاعر د شعر د تخليق په مهال داسې حالت کې ځای نيسي چې د يو ډول خلسه او بې خودۍ حالت ته ورته وي.

څرګنده ده چې په شعر کې يو عارفانه حالت موجود دی او د شيانو په ناپايه دونيا کې يو ډول له ځانه بې ځانه کيدل هم دي، شاعر هغه عارف دی چې غواړي له شيانو سره پيوند پيدا کړي، يا شاعر هغه عارف دی چې د شيانو او انسانانو په عبادت ځای کې په سجده پروت دی او دا ځانګړني له ورايه د عطايي ملا په نورانيت او د سپينو وېښتانو په شبخون کې وينو.

**ځان خبر نه وله ځانه، سترګو مينه کړه رسوا**
**تغافل وکه غفلت و؟ خانه! دا د چاګنا**
**عشق بيعت له وفا اخلي، عافيته! خبردار!**
**ښار مقتل د فرزانه وو دښت ميدان د کربلا**
**سترګو! پټ پردو کې ښه دی ها د حسن مصلحت**
**د جلوې په يو اندازيې نړېدلی غر موسا**
**مينه څومره غيرتي ده؟ حسن څه د فتنو لار؟**
**د يعقوب د نظر غشي، يوسف شومه کړ د ځا**
**بصيرت د جنون غواړي هر قدم د ليلا کور**
**افلاتونه بې خبره! د رندو د ښار باچا**
**د وسواس سرسام زياتيږي، د شيخانو په دمو**
**که ايمان له مرګه ساتئ، بس يو مست هل د دعا**

www.sikaraam.com

**ها چې وايي توري وريځې، د اور کاڼي اوروي**
**همدغه د سترګو جنګ دی همدغه توره بلا**
**ستا د ميني مرموز متن په عيان کې پټ پنهان**
**په حاشيو کې سرګردانه، که طالب دی که ملا**

(۷: ۲۳)

پورتنۍ غزل په ضمايرو پيل کېږي، البته دا بايد زياته کړو چې هم دا ضماير فلسفي او اروا پوهنيز مفهوم هم لري ، د «ځان» مفهوم، د خودۍ، ځان له ځانه ناخبري يعني د نه خبرتيا جريان چې له «مطلقي خودۍ» معرفت يې لا نه وي حاصل شوی، مفهوم افاده کوي، په غزل کې خبره دا ده چې عشق ولې له وفا بيعت اخلي ، وفا ټينګ دريدل، هوډمن او ثابت قدم کيدل دی چې کربلا او د منصور اناالحق او داسي نور زيات يې مثالونه دي.

دا معرفت د راز و رمز خبره ده او د حسن مصلحت هم دا دی چې خبري په پرده کي وشي منصور له دې رازه ووت چې نور صوفيان يې مشروط شاګرد بولي، هم دا راز عرفاني ادب او زياتره ديني متون په تأويل او رمزي ژبه ولاړ دي ، په هم دې رازدارۍ کي ښه مثال د موسی يوه جلوه بس ده، چې د کوه طور د نړيدو سبب شي، د يعقوب د نظر غشی او د هغه مفرط عشق له يوسف سره هم د دې سبب شو چې په سترګو ړوند شي.

ولي توري وريځې د اور کاڼي وروي، دا توري وريځې هغه توفان ته اشاره ده چې په اسطورو کي او د قرآن په آيتونو کي يې هم يادونه شوې ده، يعني جوړ محشر، د ښکلو سترګو د اړولو او د عشق د توفاني کيدلو استعاره ده.

## ۶. رمزونه او رازونه

د عطايي ملا په شعر کي تر زياته حده او په ټوله اډانه کي د سمبولونو،

رمزونو او استعارو سره مخامخ کېږو، يو سبب يې دا دی چې هغه غزل پنځولی دی، بلهٔ دا چې غزل يې هم ناسوتي رنګ نه بلکې لاهوتي رنګ لري، د دې لپاره چې دې بحث ته داخل شو اړينه ده چې لږ تر لږه د رمز، سمبول او استعارې ماناوې هم را وسپړو.

د عرفاني ادبياتو يوه ځرګنده ځانګړنه دا هم ده چې د رمز او سمبول ژبه کاروي، د فارسي ادبياتو ستر عارف او صوفي **عين القضات همداني** چې د تمهيداتو په نوم زيات شمېر اثار لري او د **منصور حلاج** په څېر د متشرعينو له خوا تورن شوی دی، په خپل عارفانه خلاقيت کې د رمز او سمبول په کارولو تاکيد کوي خو د شعر په باب هم په زړه پورې نظريات لري، هغه وايي:

«جوانمردا! اين شعر ها را چون آيينه دار! آخر دانی که آيينه را صورتي نيست، در خود، اما هر که در او نگه کند، صورت خود توان ديدن که نقد روزګار او بود و کمال کار اوست و اګر ګويی شعر را معنی ان است که قايلش خواست، و د يګران معنی ديګر وضع کند از خود، اين همچنان است که کسی ګويد: صورت آيينه صورت روی صيقل است که اول ان صورت نمود.»(۸: ۶۳)

**عين القضات** شعر يوه رمزي او سمبوليکه پديده بولي. **بودلر** چې د سمبوليزم د نهضت سرغندوی دی، هم ورته نظر لري، دی ليکي:

«دونيا له علايمو او اشارو نه ډک يو ځنګل دی، حقيقت د عادي خلکو له سترګو پټ دی، يوازې شاعر په ادراکي قوت سره چې لري يې د دې علايمو د تعبير او تفسير په وسيله کولای شي هغه احساس کړي.»

زياتره صوفيان هم **عين القضات** ته ورته نظر لري. **شيخ شهاب الدين سهروردي** ان د قرآن کريم په باب دا عقيده وړاندې کوي، چې لکه څنګه چې عين القضات شعر ائينه بولي. هر څوک په کې د خپل وخت او شرايطو نقد په

هغه کي ويني. **سهروردي** هم وايي چي قرآن پاک داسي ولوله چې فکر وکړې چي ستا په حال، طبع او کار باندې نازل شوی دی.» دا خبره او دا قول پرته له دې چې د انسان د خلاقيت او د الله تعالی د اوامرو کومه پرتلنه وي، له دې حقيقت نه سرچينه اخلي چې قرآن پخپله يو رمزي اثر دی، دا ځکه چې د دې خبرې مانا دا ده چې قرآن پاک داسې هينداره ده چې هر څوک په هغه کې خپل حال او شان ليدلي شي. له دې خبري داسې پايله رااېستل کېږي چې الهی کتاب يوه باطني مانا هم لري چې يوازې خاص کسان د خپلو مراتبو او مقاماتو له مخې چې هغه معرفت او روحاني سلوک ولري او د دې وس لري چې په مانا يې پوه شي.

عرفان پخپله د راز و نياز د پالني مانا هم لري. د **اخوان الصفا**» د مشهوري ټولني رسالې هم په هم دې لړ کې له زياتو قراني آياتو او تأويلاتو نه ډکې دي. **ابن سينا شيخ الرييس سيد ابوعلي**» هم په دې اړوند مستقله رساله لري.

په عرفاني ادبياتو کې د **منصور حلاج** ديوان يو ځانګړی او بې مثاله اثر دی. د **زرين کوب**» په قول: »نه مدح لري او نه هجوه، نه فخر لري او نه رثا يا ساندې. عشق د هغه په ديوان کې څرګند نقش لري خو نه هغه عشق چې بنسټ يې په هوا کې وي، زهد هم پکې شته خو نه تريخ زهد، داسي زهد نه چي دونيا د انسان لپاره د اوښکو او افسوس په دره بدله کړي، هغه څه چې په ټول ديوان کې ځليږي مفکوره ده، د انسان په باب مفکوره، د برخليک په باب مفکوره او د خدای په باب.»(۳ : ۱۴۵)

رښتيا هم د **منصور حلاج** په اړوند چي اوس په تصوف او عرفان کي يو اسطوره يي څېره ده، شعر يې فلسفي او عرفاني رنګ لري، حلاج خپله د شخصي ژوندانه انعکاس ته ليواله نه، بلکې د يوې ځانګړي مفکورې پيرو

دی، د نوموړي په افکارو کي تل د انسان او له انسانه پورته پوري اړه لري، د منصور حلاج افکار په انسان کوډي کوي، حیرانوونکي دي او د افکارو نوې کړکۍ د لوستونکي پر مخ پرانیزي.

مشهور مسیحي **اسکولاستیک** فیلسوف توماس اکویناس دا پوښتنه مطرح کوي چي ایا «په سپېڅلي کتاب کي کېدای شي یوه کلمه څو مفهومه ولري؟» دې پوښتني ته د هغه ځواب د لفظي مفهوم له مخي ابتدایي او قطعي ثابتوي، هغه مفهوم چې هر روحاني تفسیر ترې ترلاسه کېږي، دا ځکه چي لفظي مفهوم داسي څه دي چي د هغه له مخي کلمات په اشیاوو دلالت کوي، خو داسي مفاهیم هم شته چي هم دغه شیان په خپل وار سره په نورو شیانو هم دلالت کوي، دا هماغه روحاني مفهوم دی چي په اخلاقي او عرفاني تمثیل ویشل کېږي.

په وروستیو پېړیو کي د زردشتیانو پر سپېڅلي کتاب اوستا هم زیاتي څېړني شوي دي، هلته هم داسي ورته تاویلونه شته، د منځنیو پېړیو راوروسته کله ناکله په زردشتي کیت کي د شیطان یعني اهریمن مفهوم په «انسان کي د شر د تمایلاتو» په نوم تاویل شوی دی...

په یوه رساله کي چي اغلباً په ۱۹۱۱ کال خپره شوې ده د اهریمن درک پکي نشته، یو زردشتي مذهبي شخص د زردشت پیغام په رساله کي وایي چي تقریبا هره عقیده یو رمز دی، هغه دا مثال رایادوي چي غرونه، سیندونه او نور جغرافیوي نومونه چي په یو طبیعي محل دلالت نه کوي، بلکې زیاتره یې د انسان د جسماني – روان نښانې دي او په جسم کې دننه د نفساني جریانونو مانا لرلی شي.

د لویدیځ سور ریالیزم او شرقي عرفان یوه ګډه وجهه هم لري او هغه دا ده چي د واړه د تعالي پر لور درومي، دواړه غواړي چي غیر فیزیکي کمال ته

ورسیږي ، یو غیر عیني کمال معنوي او روحي مقام او د نه لمس وړ تعالي ته ورسیږي ، عارف د سمبولونو او اشارو او د دونیا له کثرت نه د یو پل په توګه کار اخلي او د وحدت عالم ته لار پیدا کوي ، عارف چي هر ګام پورته کوي شیان، انځورونه او سمبولونه وسیله کوي چي ځان په بې خودۍ کي ډوب کړي ، د عارف سیر و سلوک له یو پړاو نه بل ته او بالاخره د وحدت په عالم کي تم کیږي ، دا پخپله یو ډول شعر دی، رښتینی او صادقانه شعر چي له بالقوه حالت نه بالفعل ته راځي.

اوس چي د پورته شننو په رڼا کي د عطایي ملا کلام ګورو، د هغه غزلیات هم د رازونو او رمزونو، نښانو او سمبولونو او استعارونه ډک دي. خبره دا ده چي هغه شعر ته د داسي کلماتو په اوږو حرکت ورکوي چي هغه د محسوساتو له نړۍ سره کار نه لري ، د هغه شعر هم هینداري ته ورته دی چي د لوستونکي په وړاندي یې ږدي، لوستونکي او د ادبیاتو لاروي لوستونکي پوري اړه لري چي خپله بیره او بریت کي سپین ګوري که تور.

دلته د عطایي ملا د شعر څو لنډ سمبولونه او نښاني را اخلو.

**د زمان د هار زینته**

**د زلفو اوږده کیسه، د زهد لنډۍ دعوه**

**دا د لمر د تندي اور، د حسن خیال اباد**

**دا هستي او نیستي دواړه، د جانان د کلي لاري**

**د باغ پوله او د هدیرې لور**

**د ډبرې بت، د ځان بت**

دا د ملا عطایي د شعر ډیر لږ او محدود مثالونه دي، هر شعر او غزل په واقعیت کي د رمز او راز په ژبه پر مخ ځي او د سمبولونو او نښانو او اشارو په ژبه خپل هدف او رسالت بشپړوي او هغه په وړاندي بیایي، دلته دا لاندي

www.sikaraam.com

غزل زموږ ادعا وو ته څه ځواب ورکوي.

دا جلـوه د چـا د حسـن کـه زمـا د سـترګو رنـګ دئ
دا نغمــه سـرود د مینـي کـه زمـا د ربـاب ترنــګ دئ

***

د هستی پـه عشـق ابـاد کـي بیـا مـین کـاروان تېرېږي
د مجنـون د زنځیر شور دئ د لیلا د پایزیب شرنګ دئ

***

چـي ډېـري پـه نرمېـږي چـي ګلونـه پـه غـورېږي
د مینــو ســترګو اوښــکي د حســینو پیــالو بنــګ دئ

***

تسـلیمي د جــلاد تېـغ تــه مجبــوري ده بېوســي ده
یه خـودکش غېرتـه جار سم همدغه د ایمان ډنګ دئ

***

بغــاوت مســته نشــه ده مصــلحت وســواس د عقــل
مرګ جانان ته په خندا ځه د ذلت ژوند نفس تنګ دئ

***

یــه کــافر عقلــه پاګلــه ! ځــه آســمان پــه کــاڼو ولــه
لېونی لا وزګار نه دئ له خپل ځان سره په جنګ دئ

***

یوه شپه راته عطایي ملا د تیلیفون پر لیکه د خپل یو بل شعر په هکله وویل:

«دا شعر مې په ۱۳۵۵ کال په هلمند کي پیل کړي وو، خو هغه مهال مي

www.sikaraam.com

نه وو بشپړ کړی، او س په دې وروستیو او ونیو کې مې بشپړ کړ، تاسې ته یې دراستوم او ویې ګورئ.»

ما چې کله شعر و لوست، زه یې وتخنولم او دې ته یې وهڅولم چې یو څه پرې ولیکم، ما ویل ستا د اشعر او د **ګویټه** «فاوست» اثر هم سره ورته والی لري، **ګویټه** د فاوست اثر په ځوانۍ کې پیل کړی وو، خو بیا په کې ځنډ راغی او د عمر په وروسته کلونو کې یې بشپړ کړ.

د عطایي ملا شعر دا سې دی.

## بې فیضه چینه

**د مکـــان پـــر ســـپېره دړه**
**د زمـــان کرښـــه ختلـــه**
**د تـــور جبـــر ســنګین تـــل تـــه**
**ارمـــاني ډولـــــی لوېدلـــه**
**د اوچـــت غـــره پــه لمــن کـــي**
**وچـــــه دښـــــته غزېدلـــــه**
**د مجبـــورو کـــړدی مـــارو**
**ســـــترې کـــډه لېږدېدلـــه**
**د اهـــاړ تـــــوده غرمـــه وه**
**پـــه خولـــو کـــي لمبېدلـــه**
**لـــوږه هېـــره وه لـــه تنـــدي**
**ســـاه و څـــک تـــه کړېدلـــه**

*****

**د ختـــین کـــږلېچ لـــه لـــوړي**
**یـــو ژوره راښـــکاره ســـوه**

www.sikaraam.com

د وچ پـــاڼ پــه ژور تـــل کـــې
د چینـــې رڼـــا خپـــره ســـوه
جــــــل وهلیـــــو ماشــــــومانو
د اوبـــو اوبـــو نـــارې کـــړې
څـــو ســپین ســرو تـــور پوړینـــو
تــږې غـــاړې ورکـــږې کـــړې
زوړ کـوچی زلمـی ګوربـت سـو
د نظــر غشــي یـــې سـیخ کـــړه
د پـــاڼ ســـر، د درې تـــل تـــه
بیـــا یـــې وکتـــل و ځـــان تـــه
خـــوږ قـــدم تـــه، دې تکـــل تـــه
ځـــان یـــې ننـــوتئ «ځـــان» تـــه
ږغ یـــې وکـــړ و خپـــل تـــوان تـــه
پاخـــه هـــوډ، اومـــه اټکـــل تـــه
مـــات سـپاهي، تسـلیم اتـــل تـــه

*****

د تـــلاش توســـن چـــې شـــل ســـو
ورک او تـــت د هیلـــو پـــل ســـو
اوبـــه وې خـــــو لاره نــــه وه
لــــه ناکامــــه چـــــاره نــــه وه
اوښـــکې ګـډې پـــه خولـو ســوې
شـونډې وازې پـه سـلګو سـوې
مـــخ یـــــې واړاوه لــــه ځانــــه

www.sikaraam.com

پــه ګيلــو ســو لــه آســمانه

******

کـاش دا لـوړه ځـوړه نـه وای،
مــخ د مځکــي وای يکســانه
يــا مــو زور د متهــو بــر وای
بــدلولای مــو ســوای لاره
کـاش د مرګ زهـر خـواړه وای
ژونــد کاذبــه اســره نــه وای
د بــې لاري درې تــل کـــي
دا بــې فيضــه چينــه نــه وای

ما ورته وليکل: «شعر مي دوه واري ولوست. شعر بې مثاله اوچت او عالي شعر دی خو زما شننه که ناسمه وه هم ما پوه کړه او که سمي ته نژدې وه هم، ما په غوږ ووهه، خو زه دلته ليکم چي زمان او مکان لومړني سمبولونه دي...

په سپېڅلي کتاب کي د پيدايښت د سفر پيل ښايي له دې امله موږ ته په زړه پوري هم وي چي ټولي پېښي په بې زمانۍ او بې مکانۍ کي تېرېږي. په پيل کي الله تعالی اسمان او ځمکه هست کړل – مطلقه بې مکاني، د ځمکي او اسمانونو له هستېدو تر مخه موجوده وه – ځمکه شاړه، وچه او تورتم پرې حاکم وو ، د خدای روح د اوبو سطحه ونيوله، خدای وويل، چي روښنايي دي شي او روښنايي شوه، ماښام وو، سهار وو لومړی ورځ – مطلقه بې زماني د ورځي او شپې د پيدايښت تر مخه – د مجبورو کيږدۍ مارو کاروان د انسان د ژوند کاروان دی، چي سر او پای يې نه مالومېږي خو روان دی خو دوی يا ماشومان د اب حيات په لټه کي دي، اوبه شته خو لاسرسی

ورته نشته...

انسان د خپل عزم او ارادې په مټ هڅه کوي، چې لاسرسی ورته پیدا کړي خو انسان محکوم دی، وس نشته چې هغه ته ورسیږي، ژوند هم داسي د ګړنګ له پاسه دی، هر آن یې خطرات ویني، اوس نو که خپلو محسوساتو او عیني نړۍ ته راشو نو شاعر د یوې تولني او د یوه ولس داستان وایي، هغه ولس چې هر څه لري خو لاسرسی او توان ورته نه لري، د ژوند او مرګ په دوه لارې کي دریږي او وایې:

«کاش د مرګ زهر هم لږ خواږه وای.» او یا د ژوند د چینې هلته لیاره وای، یا په بل عبارت دا شعر د ټولني د انسان داستان دی، د انسان یاس او نا امیدي سرې ته د **البر کامو** د «سیزیف افسانه»ور یادوي چې ټول عمر په دې محکوم دی چې ډبره د غره تر څوکې وخیژوي، خو ډبره بیرته را رغړي.

د **ادونیس**» په قول:

«شعر د خپلي غنا او انسانیت له مخي له ښکلا پیژندني سره ډېره علاقه او لیوالتیا لري او دا لیوالتیا له بل سره رامنځ ته کوي، دا ځکه چې د ذات د کشف لپاره ډېر زیات ځواک لري او هم دارنګه د ذات په یو بل بعد کي هم ډېر زیات وس لري، ذات چې دې بعد ته اړتیا لري نو یوازي د دې لپاره چې له هغه سره همسان او یو او متحد شي بلکې د فردانیت لپاره هم دا لیوالتیا شته، بل غرابت یې دا دی چې شعر لوی ذات زما ذات ما ته راڅرګندوي او ما له هغه سره اشنا او بلدوي. هم دارنګه شعر د دې لیدني امکان برابروي، په داسي حال کي چې زموږ هستونه او نوی تخلیق په یوه نوي نړیوال انساني وحدت کي اعاده کوي، شعر موږ د سرمستۍ حالت ته وړي چې هماغه د بیدارۍ خوب دی، په دې خوب کي چې بشپړه بیداري ده انسان د نړۍ د بدلون لپاره په ورورۍ سره کار کوي تر هغه چې د **هر اکلیتوس** ها خبره

تکرار شي، چې انسانان په خوب کې د ورېو په څېر هڅه کوي چې بهتره دونیا جوړه کړي.»(۳: ۲۲۱)

**۷. حسن او عشق**

دا دوه مفاهیم د عطایي ملا په شعر کې زیات په تحرک کې دي خو د حسن او هم له عشق نه د شاعر تعبیر او تفسیر ځانګړی دی، د هغه تا ویل او تفسیر تر زیاته حده عرفاني او د انسان په روح او روان پوري اړه لري، د افلاطون د ښکلا یا حسن په اړوند د «مېلمستیا» په مکالمه کې له ښکلا سره له یوې بلې زاویې مخامخ کېږو، دغلته ښکلا علت نه؛ بلکې معلول دی، په دغه مکالمه کې څو واري ښکلا د عشق پایله ګڼل شوې ده ، عشق یا اروس ګڼل شوې، البته د افلاطون په باور ښکلا د د شهواني عشق او رښتیني عشق

**Eros and Thanatos**

نه راولاړېږي. «هر اروس نه شو کولی وستایو بلکې یوازي هغه اروس ښکلی او د ستاینې وړ دی چې موږ وهڅوي چې په ښکلې توګه یې لیوال شو.»

خو د دې بحث له دوام نه د افلاطون مقصد نه ترلاسه کیږي، البته په دې برخه کې هنري ښکلا د نن ورځې په مقیاس د بحث وړ نه ده بلکې خبره په طبیعي ښکلا کې ده، د افلاطون په هیڅ یوه اثر کې د ښکلا کلمه دومره زیاته تکرار شوې نه ده لکه په مېلمستیا کې چې شوې ده، دا ځکه چې عشق، ښکلا او د کار سم ترسره کول له یو بل سره ترادف لري ، کله چې دغه خبري پای ته رسیږي او ښکلا د میلمه پال یعني **اګاتون** له خولې له نیکۍ سره یادیږي، نو سقراط د «**دیوتیما**» په نوم یوه ښځه یادوي او وایي چې دا ښځه د عشق په کار کې زما ښوونکې وه او یو لړ کرامات یې هم درلودل چې

يو کرامت يې دا وو چي لس کاله يې وبا د آتن له خلکو ليري ساتلې وه...

سقراط له ديوتيما سره د خپلو خبرو له شرح وروسته د ښکلا په باب د هغې خبره رانقلوي وايي: «د عشق هدف د هغه څه پر خلاف چي تاسي يې بولئ پخپله ښکلا نه ده، بلکې د ښکلا کتورتوب دی.»

هغه د دې ټکي په توضيح کي ښکلا او د هغې د کتورتوب لپاره هڅه د ابديت سره تړي، هغه چي د عشق په لار کي ټول پړاوونه وهي، په هغو کي له ښکلا سره ډېر اشنا کيږو، په پای کي له حيرانوونکي ښکلا سره مخامخ کيږو، هغه دا چي هستي ابدي او تلپاتي ده، نه رامنځ ته کيږي او نه له منځه ځي، لنډه دا چي ښکلا مطلقه ده يعني نسبي نه ده...

«داسي څه دي چي په خپل ذات کي او د خپل ځان لپاره چي تل هماغه ډول پاتي کيږي هيڅکله بدلون نه مومي او ټول ښکلي شيان يوازي په دې سبب چي له هغې بهره لري ښکلي دي.»

(۳: ۵۷)

دلته به بې ځايه نه وي چي د عطايي ملا يو غزل وګورو او هلته د عشق او ښکلا د تړاو سيل ته کښينو.

**ياره! زړه خومي تنګ نه دی، راځه ته په کي ځائيږې**
**خيال او ميني ته ورپوري، خوله په خوله په کي ځائيږې**
**کرامت دعشق ته ګوره په دې يو موټي زړګي کي**
**هم اووه اسمانه غم دی او هم ته په کي ځائيږې**
**ارزو! دا ښايسته کميس چي تاته «ژوند لالا» جوړ کړی**
**په اوږده ښکاري لنډوکی، په بره نه په کي ځائيږې**
**خيږه غير علاقې ته، پټ د څنو تور ځنګل ته**
**ښار د سترګو ګولې ځاري، ژونده! نه پکي ځائيږې**

www.sikaraam.com

یــو دریــاب د ظلمتونــو، بــل د نــور آســماني څــاځکی
نــه یــې ســتا غېــږه لایقــه، او نــه تــه پــه کــي ځــائېږې
د نــواب ســندا خــو نــه یــې چــې قلبــې غــواړې د ځمکــو
دغــه دوه ګــزه پــه درې کــي مــلا نېــه پــه کــي ځــائېږې

(۷: ۳۸)

## ۸. عشق او د عمر نوستالژي

نوستالژي یوه اروا پوهنیزه ګڼنه ده چي نن ورځ یې ادبیاتو ته هم لاره کړې ده، نوستالژي یا افسوس یا تېر ارمان د هغه شاعرانو او لیکوالو تېر ارمان او خواشیني ده چي تېر ته په کتو سره یې د هغو په اثارو کي ظهور پیدا کړی وي او لوستونکو ته یې وړاندي کوي، ما له داکتر مجاور احمد زیار نه د دې ګڼني د پښتو معادل اړوند وپوښتل هغه راته تېر ارمان مفهوم یادونه وکړه، په دې اساس کله ناکله د نوستالژي سره د تېر ارمان کلمه د معادل په توګه هم کارېږي.

نن ورځ دغه ګڼنه یعني نوستالژي په دوه استقامتونو یا د دوه لوریو په موجودیت کي تعبیر او تفسیرېږي چي یو یې فردي او بل یې ټولنیز استقامت دی ...

یو هغه لوری یا استقامت دی چي فرد د ځان ناخبري شعور له لاري رابرسېره کیږي او بل هغه لوری دی چي د ټولنیز ناخوداګاه یا ناخبري شعور له لاري راڅرګندیږي ...

دا سمه ده چي دا ګڼنه له اروا پوهني سره تړاو لري، خو دا هم جوته ده چي اروا پوهنه د څه پوهنه ده، د انسان د روان پوهنه ده ، د انسان د روان سره د انسان د غم او خپګان، تاثراتو او اندیښنو، خاطرو او یادونو مفاهیم ملګري دي، خو په ښکلي طرز او خپه کوونکي اغېزناک اواز د کلام او

www.sikaraam.com

لیکني له لاري د دې سبب شوی، چي په ادبیاتو کي هم یوه لاره پرانیزي، لیکوال او شاعر دی چي د خپلو موجودو امکاناتو نه په ګټي اخیستو سره خپل خپه احساسات او له درده ډک افسوسونه او یا د تېرو لیري وختونو خاطرات د ګړنو او کلماتو قلمرو ته ننباسي او بیا هم دغه جملې او عبارات دي چي پر لوستونکي یا مخاطب باندي د شاعر د احساساتو په انتقال کي جادویي او اساسي نقش لوبوي...

شاعران او لیکوال چي همیشه د بدیو او ناوړتیاوو نه د ازادي ارماني ټولني په لټه کي دي، په ځان خبري او تر زیاته حده په ځان ناخبري توګه خپلي تېري نیکۍ ماضي ته مخ اړوي، په دې لټه کي ټولنیزه نوستالژي د دوه چنده قدرت او ښکلا نه برخمنه ده...

نوستالژي یوه فرانسوي ګړنه ده چي د **Nostaligia** چي د یوناني له **Nostos** یعنې تېر ته ستنېدل او **Alogos** درد او رنځ مانا لري ، د لغاتو په قاموسونو او فرهنګونو کي د تېر ارمان، د غربت غم او د لیري والي درد مانا راوړل کیږي، نوستالژي په ادبي څېړنو کي هغه ډول هستونو ته ویل کیږي چي د هغو په بنسټ شاعر یا لیکوال په خپلو شعرونو او لیکنو کي تېر ته پام کوي او یا د هغه سرزمین او هېواد چي یاد یې په فکر کي راځي په ډېر افسوس او درد سره یې ترسیموي ، کېدای شي دغه حسرت او زړه تنګي د خپل پلرني ټاټوبي او د هېواد د کوچنیوالي دوران، ښه سیاسي، مذهبي او اقتصادي حالت او له تېر سره شوق او مینه وي ، نوستالژي یو لړ ځانګړتیاوې هم لري لکه د تېرو خاطراتو او تمایلاتو یادونه، تېر ته ورستنیدنه او داسي تمایل چي بیرته خپل ټاټوبي ته د ورتللو مینه او شوق، ارکاییزم یا لرغونپالنه، اسطوره جوړونه او ارماني دونیا ته پناه وړل دي چي په متن کې د دغه ډول مشخصاتو موجودیت په تېرپسي د شاعرانو افسوس

او یا ارماني راتلونکي پسې د شاعر تمایل جوتوي، په دې لړ کي د ارکاییزم (لرغونپالنه) په اړوند ګړنو کي د زمان او مکان یا د اوس په معاصر شعر کي ډېر کارول کېږي. (۱۱:؟)

نوستالژي په دوه برخو یعني په سملاسي او دوامداره یا تلپاتي برخو ویشل کیږي یا پېژندل کیږي ، له فردي او سملاسي نوستالژي د اثر د هستوونکي په خپل تن او روان کي تېرو شیبو ته میلان دی ، پرله پسې او دوامداره فردي نوستالژي د شاعر یا لیکوال د ټول اثر نه عبارت دی، هغه شاعر یا لیکوال چي د دې ډول نوستالژي نه اغیزمن دی په ټول اثر کي په بشپړه توګه په تېر زمان بحث کوي.

په تېر مهال پالي مفهوم کي لوستونکی له تېر مهال یا د تېر مهال خاطراتو او پیښو سره چي د شاعر د ټولنیز هویت لپاره پیښ شوي، اشنا کوي، له ټولنیز پلوه هغه څه چي د شاعر په ژبه راځي، هغه دردونه او قهرونه دي چي د ټولي سیمي د خلکو فکر او روان یې خپه کړی او ټول یې په ناوړه حقیقت کي کډ کړي دي ، لکه څنګه چي یادونه وشوه د تېر ښه دوران یاد د شاعر له خولې، ټولنیز او جمعي ارمان په اذهانو کي ژوندی کوي، په جمعي نوستالژي کي شاعر یا لیکوال ځانګړي ټولنیز موقعیت ته پاملرنه کوي ...

د هم دې شنني له مخي کله چي د عطایي ملا شعر او غزل لولو، د هغه د ځوانۍ او زلمیتوب او د هغه د وطن او د شاعر د ارمانونو بوی ترې راځي ، هغه د یو ژوندي انسان په توګه د یو داسي چا په حیث چي هیلي یې درلودې، ارمان یې درلود، له خلکو سره ناسته ولاړه یې درلوده خو نن له دې ټولو بې برخې دي بلکې د فلک څرخ د داسي دونیا یوه کونج ته ورګوزار کړی چي هغه یې تصور لا هم نه کاوه ، په دې اساس د هغه خلاقیت له دې راز محرومیتونو او نهیلیو مالامال دی، د دې لپاره چي یو څه یا دغه ورکه جبیره

www.sikaraam.com

کړي، نو معنوي دونیا او انفسي نړۍ ته پنا وړي، هلته ځان ګوښی کوي، د هغه په نوستالژيک شعر کي هم دا دوه نړۍ تر سترګو کيږي، يوه هغه د محسوساتو دونيا ده چي دی په کي ژوند کوي او «اب و دانه» لري او بل هغه د معنويت دونيا ده ، دلته ده چي شعر د هغه لپاره ښه وسله ګرځيدلې ده...

په تېر مهال پالي فردي نوستالژي کي شاعر يا ليکوال شيبه يا خپلي تېري شيبې ترسيموي او په هغو پسې ارمان کوي ، پرته له دې چي نور په دې ارمان او غم کي له ځان سره شريک کړي، ځيني مفاهيم لکه فريادونه، له زړښت نه شکايت، سپين وېښتان، په ملا کړوپيدل، د ځوانۍ، ثروت او له لاسه تللي ملکيت په يادولو سره رامنځ ته کيږي.

**۹. د ژبې اغيز**

ژبه د هرډول مفاهيمو او مسايلو په انتقال کي مهم رول لوبوي، شاعر او ليکوال هم د خپلو افسوسونو او ارمانونو، دردونو او غمونو په انتقال کي له ژبي کار اخلي. نوستالژي چي په رواني او دنني ځانګړنو نظارت کوي په ظاهر کي تر زياته حده د ژبي په محتوايي او نامحسوسه ځانګړنو اتکا کوي خو په دې برخه کي تامل يو بل حقيقت رابښيي...

که چيري ګړني او کلمات يا ايماژ (شاعرانه تصاوير او صور و خيال) رنګونه او د ژبي قابليتونه د متن د فضا په نوستالژيکولو کي د هغه مهال علي او معلولي پټي او ښکاره اړيکي راوسپړو، وبه وينو چي د دواړو خواوو ترمنځ ځومره نږدې اړيکي موجودي دي، کلمات د رنګونو تداعي کوونکي دي او رنګ د محسوساتو په حوزه کي ډېر برجسته او ځرګند عنصر دی. په عين حال کي د کلمې له بطن نه تداعي کيږي ، له بلي خوا د رنګ او کلمې د دواړو اړيکي د تصاويرو او شاعرانه ايماژونو په عيني

www.sikaraam.com

کولو او د شعري تصاويرو د اجزاوو ترمنځ د روابطو په توضيح کي مرسته کوي...

بايد زياته کړو چي دغه ژبني قابليتونه (**کلمه**، **ايماژ**، **رنګ**) تر زياته حده د فرديت د ماضي له نوستالژي سره اړه لري يعني، شاعر يا ليکوال کله چي خپله شخصي ماضي ياد ته راوړي او داسي مسايل لکه په ځواني پسي ارمان کول او د زړښت غم، د هېواد نه ليري والی، د کورنۍ څخه د ليري والي ارمان او يا د ځوانۍ او ماشومتوب يادونه بيانوي نو له دغه ډول قابليتونو او ظرفيتونو څخه کار اخلي، خو په مقابل لوري کي په ټوليزه نوستالژي کي چي په ټولنيز ناخبري شعور کي (**جمعي ناخوداګاه**) ځای نيولی او د زړګونو افسوسونو او ګډو قومي يادونو د تېر ياد محصول دی. د نورو نوستالژي ځانګړنو لکه اسطوره يي ارکائيزم او مدينه فاضله (ارماني ښار) ته په تمايل کي د ژبي له اغيزنه کار اخيستل کيږي...

موږ دغه ډول ټولي نښي نښانې او څرګندوني د عطايي ملا په شعر کي ګورو او ليدلی يې شو:

**د وهمونو ټال ته ناست يم، تېر يادونه زنګومه**
**شپې تياره دي لړه راکړه، د خيال ستر ګي تورومه**
**راغئ راغئ خان د حسن، د ګلاب پر پاڼو باندي**
**اورئ اورئ اوښکو اورئ د ښو ګر زيې پاکومه**
**د ځوانۍ ګل مي ورک سوی، ژونده! ستا وختونه غله دي**
**مرګه! دومره مهلت راکړه، د خزان لاس بويومه**
**د جنون ريګستان ټوله، سجده ريز د ارمانونو**
**جانان تللی په دې لارو، هر قدم يې ښکلومه**
**ساقي زما برخې را دوې کړه، مستي نه ده مجبوري ده**

www.sikaraam.com

**زړه کي ناست بت مي مينوش سو، هغه هم نن اوبومه**
**چي دا ستا ظالم خاطر يې په ليدو پريشانه نه سي**
**د نامراده ارمان څلى، نن په خپل لاس نړومه**
**بيګا حسن ومستى دواړو په جنون توبه کړه ذبحه**
**افسون ړغ کړه وينې زما ده، زه معبد په رنګومه (۷ : ۳۹)**

شاعر او ليکوال د خپل درد او افسوس د ترسيم او تصوير لپاره داسي کلمات او ګړني کاروي چي مخاطب يا لوستونکي د خپل غم، تاثر، خپګان او يا خوشحالۍ سره ملګرتيا کوي، د مثال په توګه کله چي د «شول» د شعري رديف په موقعيت کي رابنکاره کيږي، د دغه فعل د تکرار او دوام مانا ته په پاملرني سره او د هغه ځای په بيت او د شعر په محتوايي او مانايي فضا کي کولی شي، د تاثر د ژوروالي او جديت نښانه وي، د يو څه له لاسه ورکولو ارمان دی، يا يو څوک چي موقعيت لري د کلماتو دا ډول کارول په ژبپوهنه کي «**نحوي اواز**» بولي ، نحوي اواز يا ګرامري اواز د سبک او مفکورې يوه برخه ده.

دا داسي يو عبارت دی چي د عمل يا بيان شوي حالت ترمنځ اړيکي بيانوي، د جملې له عناصرو (فاعل او مفعول) نحوي اواز امکان لري د دوه فعلونو په وسيله چي فعال وي يا منفعل وي او يا انعکاسي وي ، د شاعر په بيلابيلو دورو او حالتونو کي د هغه له شعر څخه د کلماتو په وسيله دفاع کوي يعني څه چي په ټاکلې دوره کي د شاعر د انديښنو او روحي او رواني حالتونو انعکاس دی ...

په وروستي غزل کي هم د شاعر نوستالژيک احساس په ډاګه ليدلی شو :

څنګه د رسم ستا د رشل ته، له چا وپوښتم ستا حال؟
زه ذره د يو ذرې، ته جلال د ټول جلال

www.sikaraam.com

**داسي ښکاري چي مين سوم، زه او زما اوښکي دليل**
**داسي ښکاري چي بل نسته، ته او ستا حسن مثال**
**شاه باز پرې کړله تارونه، ساز لمبه کړلې پردې**
**د اووم آسمان «راګني» سوې سور مي نه نيسي ستا تال**
**رب جانان حسن مي خان دی، زه دميني «وجودي»**
**دوحدت کثرت دا لوبه! د ماشوم د بوډۍ ټال**
**ما له ځانه سره يوسي، د مازيګر د وړانګو لهر**
**تا له ځانه سره راوړي، د سحر مهين شمال**
**د کعبې پر بام ويده دی، اوږد کميسی ابو جهل**
**له دهشتې امام ګونګ سو، اذان هېر سو د بلال**
**بدلوي د کتاب(!) توري ړندوي د ايمان سترګي**
**که يهود دی که سعود دی که ډالر دی که ريال(۷: ۶۷)**

خو دلته د شاعر تېر ارمان يوازي حسرت او غم نامه نه ده، د ده نوستالژيک احساس له توند انتقاد سره ملګری هم دی. شاعر که له يوې خوا وايي:

**شاه باز پرې کړله تارونه، ساز لمبه کړلې پردې**
**د اووم آسمان «راګني» سوي سور مې نه نيسي ستا تال**

خو د حالاتو ناوړه راګرځون او د فلک د چارو ناخوالي هغه دې ته هڅوي چي ووايي، چې ابو جهل له اوږده کميس سره د کعبې پر بام ختلی دی ، هغه څه چي بايد نه وای سوي هغه وسول ، ان د بلال نه اذان هم هېر دی . . .

په نوستالژي کي بله خبره د ايماژ او تصوير خبره ده، هغه شاعرانه تصويرونه دي چي د تشبيه او استعارې، مجاز او کنايې په مرسته لوستونکي ته وړاندي کيږي او هغه له ځان سره راکاږي، دغه شاعرانه

www.sikaraam.com

تصاویر او تابلوګاني داسي مسایل دي چي فضا ترسیموي او د تېر مهال فردي ځانګړني د اوسنيو ځانګړنو په وړاندي موقعيت لري چي په هنرمندانه توګه د شاعر مخاطب په ذهني ډول اړ باسي چي يادو حالاتو ته عينيت وروبخښي ، رنګونه هم ډېر ځله په نوستالژيک احساس اغيز کوي او دغه احساس د رنګونو په بستر کي هم ځلېږي...

رنګونه د روابطو په ایجاد او د بیلابیلو مفاهیمو په اتکا او د حالت په تعبیر او د چاپیریال په ښودنه او د روحي حالت په ښوولو کي اغيزناک دي ، د مثال په توګه، سره او شنه رنګونه د خوښۍ رنګونه دي، زېړ، خړ او تور رنګونه ساړه او بې روحه د غم او خپګان رنګونه دي . البته دا ځانګړني هم د فرهنګ، ادابو ، رسومو او جغرافيوي چاپیریال او رواني ځانګړنو پوري اړه لري، د مثال په توګه، د جهالت په دوره کي اعرابو ، شين رنګ چي د لوړو ځايونو او ښرځايونو نښه وه، د هر رنګ په نسبت يې زيات خوښاوه، په بدل کي يې له سور رنګ نه کرکه درلوده، هغوی سور رنګ (السنه الحمرا) د وچکالۍ او سره مرګ په مانا د مرګ ډېر بد شکل باله ، سور باد يې هم ډېر ناوړه باله، په دې اساس د رنګونو د مانااوو پېژندل او د هغو اغيز د افرادو د روحي حالاتو په بيان کي له ډېرو زمانو راهيسې موجود وو . نن ورځ هر رنګ د اروا پوهني له نظره اهميت لري او هر يو يې د ټاکلو رواني خصوصياتو بيانوونکی دی، اصطلاحات او کلمات پر مفهومي مانا سربېره بصري مانااوي هم لري او د رنګينو کلماتو کارول داسي وسيله ده چي شاعرانه تصاوير په کي عينيت پيدا کوي . د شعري تصاويرو د اجزااوو په منځ کي کشف د او تفسير د روابطو لپاره وسيله ده.

په يو وروستي ازاد شعر کي هم دا ځانګړني ليدلی شو :

**هل**:

**رنګ د ګل غزل غواړي**
**ژبــــه د بلبـــــل نســـــته**
**لمــر د تنـــدي وســـومه**
**تــوره شــپه کاکــل نســته**
**لــوی جهــان د ګلــو ســته**
**ډک خمــان د ملــو ســته**
**خنګـــه چــا تــه وخانـــدم**
**زمــا جانــان کابــل نســته**

یا دا چې وایي ...

**کـــور هـــم ســـته کـــالي هـــم ســـته**
**دال او چپـــاتي (!) هـــم ســـته**
**ژونـــد د زهـــرو خونـــد کـــوي**
**بـــل وطـــن دی خپـــل نســـته**

یا ...

**زه یـــم د خپـــل ځـــان مـــلا**
**تـــه یـــي د خانـــانو خـــان**
**زمـــا پـــه رنګـــي صـــد هـــزار**
**ستا په شانتي بل نسته(۷: ۸۹)**

هم دا ډول اسماني، زیړ، سور او شین اصلي رنګونه دي، دغه څلور رنګونه رواني برتري لري او څلور اصلي رنګونه نومیږي. هر یو رنګ په یوازي والي او کله هم د یو بل رنګ په خوا کي په جسم، روح او د شخصیت په روان باندي سیده اغیز لري ، ارواپوهانو په دې برخه کي یو لړ څېړني کړي

او نتایجو ته رسیدلي دي یعني دا چي هر یو رنګ اغیزناک قدرت لري.

سپین رنګ په خپل مثبت مفهوم سره داسي مانا لري لکه رڼا، سپېڅلتوب او معصومیت خو، په منفي مانا کي د مرګ، وحشت او ماورالطبیعي عناصرو سمبول دی. سپین رنګ په منفي مانا د ماتم لباس و چي د غزنویانو په دوره کي کارېده ، داسي بریښي چي سپین وېښتان د شاعرانو په اشعارو کي په هم دي مانا دي، د زېړ سمبول هم دوه خواوي لري په منځنیو پیړیو کې زېړ او طلايي رنګ د مینې نښه ده او کمرنګه زېړ رنګ، د ویر او ماتم رنګ دی ...

د «**ساڼ**» په نامه یو عالم د سره رنګ ځانګړني په دې ډول شمیري:

«دا رنګ نوی ژوند او نوی پیل له ځانه سره تعبیروي، هلي ځلي، قدرت، استقامت، جسماني قوت د دې رنګ ځانګړني دي، سور رنګ د ژوند، قدرت قربانۍ او میني سمبول دی...

شین رنګ ډېر مطلق او د رنګونو ډېر ارامونکی رنګ دی، دا رنګ هیڅ ډول انعکاس نه لري او په هیڅ لور حرکت نه کوي بلکې ارام، ساکن او له ځانه خوشحال دی.»

کله چي شاعر او لیکوال د تېر زمان په تشریح او د ځوانۍ په یاد کي څه وایي د خوشحاله او د مثبتي مانا لپاره ترې کار اخلي او کله چې اوس مهال او جاري حالت توصیفوي نو مخاطب د سړو او بې روحه او په منفي مانا رنګونو سره مخامخوي، د دې کار د اړتیا ټکی په دې کي دی چي خاص رنګ، شین یا زېړ نه دی، بلکې په دې ځای کي له خاصو ځانګړنو نه په کار اخیستني سره القا کیږي او متن یې د اصطلاحاتو په وسیله رنګینوي.

**۱۰. د تېر مهال ټولنیزي تېر ارمان**

د دې ډول نوستالژي یو مفهوم د تېر جلال او عظمت پر بایللو افسوس

دی ، په هېواد یا یوه ټولنه باندې د ناکسو او بې مانا څېرو لاسبری او په دې ډول د ټولو ارزښتونو د له منځه تلل، د علم، عدالت له منځه تلل د شاعر ژبه انتقادونو ته خلاصوي چې د دغه انتقاد په بطن کې د تېر ترلاسه تللي زمان او دوران شوکت له لاسه ورکول د مخاطب په ذهن کې ترسیموي ، زموږ افغاني ټولنه او د مجاهدینو د ادعاوو او د هغوی عملي کړني دا ډول نوستالژي ډېره ځلولې ده.

د عطایي ملا شعر دا ځانګړني او مثالونه هم زیات لري، دا چې وایي:

**«پنجابي تېل يې وهلي لاس يې نه ټینګوي لاس**
**ربه خیر موکړې پښتو ته خان لا هور لیدلی دی»**

او دا سې نوري زیاتي بېلګي شته.

همدا رنګه عشق یا له یو څه سره بنسټیزه لېوالتیا هم هغه څه دي چې د ښکلا پېژندني له بحث سره تړاو لري او دا هم د شعر ماهیت او مضمون په څېر یو اروایي نه فیزیکي او جسمي څه دي ، هغه څه دي چې د انسان له روان سره او د هغه د احساس او عاطفې سره تړاو لري. عشق په اساطیرو ، فلسفه، اروا پوهنه او په ځانګړې توګه په عرفان کې خاص ځای او مقام لري.

د عطایي ملا په شعر کې هم عشق او ښکلا د روح په دهلیزونو کې یو له بله سره مخامخ کېږي ، په دې غزل کې وینو چې په یو ډول نوستالژیا پیل کېږي ، یوه شیبه ترسیموي، د ژوند وروستۍ شیبه، هلته چې ارمانونو کډه کړې وي، هغه مهال چې امیدونه او هیلي د صفر ټکي ته ورنږدې کېږي، خو شاعر لا د میني په خوند سیراب نه دی او ښکلا هم سراب شوی دی چې هر څه هلي ځلي وشي، لا نوره هم لیري وځي.

یوې فلسفي نقطي ته هم اشاره کوي چې وایي:

**«ژونده! لږ انصاف خو وکړه! نوم دي مرګ نه دی، نو څه دی؟»**

www.sikaraam.com

«**زیګموند فروید**» د **اروس** او **تاناتوس** په مفاهیمو کې همدا مساله څېړلې ده چې وايي د ژوند او مرګ غریزې دواړه په تقابل کې دي اروس (د ژوند غریزه) بالاخره خپل ځای د مرګ غریزې ته پرېږدي، په هم داسي حالت کي د ایمان غزل جوتوي چي د میني او عشق په جلوه کي مستان د ژوند په هم داسي شېبو کي چي د ابدیت په لور د رومي میله کوي خو شیخ له معنویت نه خبر نه دی. دلته هم دا غزل لولو.:

**مرثیـــه د بېلتـــون ژاړي، روح لـــه تنـــه پـــه واتـــه دی**
**پام تر پښویې لاندي نه کړئ په دې خاخکوکي یو زړه دی**
**امیـد سـپین کفـن اغوسـتی، عرفـات تـه د دیـدن ځـي**
**وفـا سـر پـه سـجده ایښـی، دا زیـارت دګـران د پلـه دی**
**زه د مینــي جـل وهلـی، سـتا ښایسـت د سـراب مـوج سـو**
**ژونده! لږ انصاف خووکړه نوم دي «مرګ» نه دی نوخه دی؟**

یا

**د تقـــدیر او تـــدبیر جنـــګ ســـو، ایمـــان دا غزلـــه وایـــي**
**د مســـتانو مېلـــه جـــوړه، د شـــیخانو لاس پـــه خولـــه دی**
**سـپوږمۍ ګـوري پـه اوبـو کـي، رنـګ د حسـن ائینـو کـي**
**مخامخ چي کتای نه شې ملا دا خوی دي دغله دی(۷: ۳۰)**

### ۱۱. اسطوره او له هغو پوهاوی

د وخت ضرب ځای ځای د لرغونو اساطیري کیسو یاد کوي او یا په بل عبارت که وو ایو اسطوره په نن مهال کي حضور پیدا کوي او د اوسني ژوند له تراژیدیو لپاره هینداره کیږي.

**هندوسـتان راغـی خـتن تـه کـه دي بـاد ځنـي خـورې کـړې**

کوم موسی ده جلوه غوښتې بیا کوم غر ذرې ذرې کړې؟
شپه او ورځ یخ او ګرمي دي، خپل جاګیر، ته په پوهېږې
خو د هجر ورځې لنډي او د وصل شپې اوږدې کړې
یو درخواست لرم امیره! ستا په ملک کې یو حسین دی
ما تر زړه پورې راوستی، کې لږ نور هم رانژدې کړې
جنون تږی د دیدن دی، حسنه! ستا «پرده» پرده ده
د مجنون زنځیر ماتېږې، که لیلا پورته پردې کړې
د ډېرې بت ماتېږي، که د زړو وي خرڅېږي
د «ځان بت» په سر اخستی، طوافونه د کعبې کړې
یو پردیس زاهد راغلی میخانه په دعا سر ده
جام چې شونډو ته نژدې کړې ربه! هېرې یې توبې کړې

(۷: ۱۹)

شاعر په خپل کلام کې ځای ځای د موسی او د یعقوب او د یوسف او د کنعان، کوه طور، کنعان، منصور، یزید حسین، کربلا او داسې نورې ډېرې رایادوي ، هم دارنګه هغه اساطیر چې په اسلامي مدنیت او په ابراهیمي ادیانو کې ډېر ځله تکرارېږي په حاضر زمان کې ترسیموي او یا په بل عبارت د اسطورو په اډانه کې د شاعر د زمان پېښې ترسیموي...

خو شاعر په ټول شعري جهان کې له دوو کرکترونو سره مخامخ دی، ،،**ملا** او ،،**خان**، هغه د خپلې ټولنې په بوده تنسته کې دا دوه ښکرور وینې چې یو بل ته تن نه ورکوي، کله خو دا دوه کرکتره د شاعر په تن او روان کې هم یو له بله سره جګړه کوي او د جګړې په پایله کې شعر پنځېږي، خو که له یوې خوا یې ستایي نو له بلې خوا ورته برګ برګ هم ګوري، د دې خبرې مانا دا چې د دواړو موسسو په اړوند یو دوه ګوني احساس لري.

www.sikaraam.com

کله خو د خان کلمه مشهور فلسفي شاعر چي د عطايي ملا هم ورسره لکه زما ډېره مينه ده، غني خان ته خطاب کوي خو ډېر ځله د خان د مخاطبې او بيانيې شخه د خان کلمه د شاعر شعري الهيه افاده کوي چي په مثبته مانا يې کاروي . خان يعني اصيل زاده، لکه د سخاوت او د سترخوان خاوند، لکه د غرور او مېړاني سمبول، د جرګې او مرکې سړی ، هم د ظاهري جوړ د ښايست سمبول . او ، ملا هم د پوه ، فاضل او په معنوي ، عرفاني رموزو باندي آګاه او خبردار . خو کله ناکله هم د ملا مطلب د شاعر خپل (نوم) ځان ته خطاب کوي. د شيخ او زاهد په مفاهيمو کي هماغه شه وايي چي حافظ شيرازي يې وايي.

شعر علم او د تجربو پر بستر علمي تعاملات او تعقلي احکامات نه دي، هغوی چي غواړي يوازي د تولني عکاسي وکړي تور تور او سپين سپين وښيي، هم شعر نه وايي بلکې ځان تېر باسي... هغوی چي شعار ورکوي، په شعر کي امر و نهي کوي، هم ځان تېر باسي اويا له جيبه قباله راباسي، هم شعر نه وايي بلکې په ناخبره توګه هڅه کوي چي نور کسان يا د شعر لوستونکي تېر باسي او د هغو په سترګو کي د شعر په نامه شګي او خاوري ور وپاشي ، خو ، نور يا لوستونکي پرې نه تېر ووځي بلکې دغه کسان په ځان ملنډي وهي...

هغوی د نورو پيښې کوي، غواړي د بل احساس او عاطفه او خيال غلا کړي، خو دا جوته ده چي هر څه به غلا شي خو احساس هغه امانت دی چي نه غلا کيږي .

موږ دا مساله د عطايي ملا د شعرسره د نورو... په تعامل کي په ډاګه وينو . عطايي ملا د ځان د شهرت لپاره شعر نه وايي او نه په هر واټ کي د خپل بکس نه زړه کتابچه راباسي او خلک دروي، چي شعر پرې واوروي، او

www.sikaraam.com

نه خو په ستیج را د بره شو چي یو پنډ کاغذونه لاندي باندي کړي او د شعر په نامه د خلکو غوږونه کاڼه کړي او په دې خوشحال شي چي څوک غږ کړي چي بیا وایه بلکي عطایي ملا قلندر دی، یو ملنګ دی چي په کچکول کي یو بیت ځایوي او ډېر لږ شعر وایي، شعر د شعر لپاره نه وایي بلکې هغه خپل احساس او عاطفې ته مادي تجسم ورکوي او یا که ووایو خپل احساس او عاطفه د سیند په توګه د فرهنګ او ټولني په پراخه دره کي په غورځنګ راولي، په دې اساس که عطایي ملا زر ځله ځان د حضرت خضر په څېر نادرکه کړي، په شعر کي د شعر مریدانو او پیروانو ته په حضر او سفر کي ځان ورښکاره کوي او خپل رښتیني کلام ورته وایي، دا ځکه چي د عطایي ملا احساس خپل دی، خیال یې خپل دی او عاطفه یې خپله ده او په کلماتو رقص او اتڼ یې خپل دی، بل څوک د هغه په پل پل نه شي ایښودی او دې هم د بل تقلید نه کوي ، د عطایي ملا په شعر یوازي هم دا خبره صدق کوي چي شعر یې له رښتینولۍ، صداقت او پښتنولۍ نه جوړ دی.

عطایي ملا د شعر له دریځې شعر وایي، د شعر دریځه او لاره عرفان او اشراق دی، هغه له عوالمو سره سر وکار لري ، د عرفان لاره د روان او عوالمو لاره ده، هلته نوې دونیا رامنځ ته کیږي، نوې دونیا جوړېږي او نوي بنسټونه په کي کینل کیږي، خو دا ټول کارونه په احساس او عاطفې سره کیږي، هم دا عاطفه، احساس او خیال دی، چي انسان له حیوان او نورو ژویو نه په واټن کي دروي، د انسان روح او روان صیقل کوي او یو ملکوتي موجود ترې جوړوي.

په دې وروستي شعر کي هم د شاعر د تېر عمر تېر ارمان یا نوستالژیا څپې وهي:

**ستا چې یاد ومه ځواني وه، تا چي هېر کړم اوس زړېږم**

www.sikaraam.com

مســـت اتـــک وم بهېدمـــه، درونـــد خیبـــر ســـوم رانړېـــږم
دا د لمـــر د تنـــدي اور دی، د مـــالګینو شـــوندو زور دی
تنــده نــه ســوه یــوه بــلا ســوه ډوب پــه بحــر نــه اوبېــږم
تــور او سره رنګونــه یــو دي، د وخــت لمر تــه نــه ټینګېږي
کــه لــه ســترګو دي کــړم لــري نــو د شــوندو هــم هېرېــږم
پــه پېــرزو د یــاراني مــي، شــهادت را خــراب نــه کــړئ
د ګــدۍ یــارانو !واورئ لاس مــو نــه غــواړم ډوبېــږم
د ســحر د ســترګو پرخــه، د مــازیګر د غــروب کرښــه
ستا د حسن خیــال اباد کــي پــردېس خیــال یمــه تېرېــږم
خوله مي بوی کړه بېګناه یم نه څه څکلي نه خوړلي
دې محلــه کــې د رنــدانو، شــیخه تــا نــه لــرې پټېــږم
تـا وې غېرې تـه را ړنـګ شـه، زمـا د غـم «پښتو» د غاړې
ستا د وروړ د بـدۍ یمـه، خولـه مـوره دي شرمېږم (۷ : ۱۰)

نوستالژیا یا تېر ارمان سره اخښلي او ترینګلي اړیکي لري ، یو په بل کي خپله هستي لټوي، په دې مانا چي که د حرمان سرچینې ته د خلقت په اسطوره کي د بابا آدم او د حوا له جنته ایستلو او بهر کیدلو سره تړاو ورکړو، نو دا انده او غمیزه د ټول بشریت په بوده تنسته کي پاتي او دوام کوي او له هم دې کړني او بهیر نه راپیدا شوی احساس یا د غربت احساس د شعر د جاري کیدلو سبب شوی دی...

موږ که عطایي ملا د یوې شیبې لپاره لومړنې بشر فرض کړو چي له خپل ګران او پلرني ټاټوبي لیري شوی دی، نو هم دې اندیښنو هغه هم عرفان او اشراق ته وربرابر کړی او هم یې دغه یاس او حرمان د هغه په خوله د شعر په

بڼه را جاري کړی دی، هغه که څه هم یو ډول عرفاني او قلندري دونیا لري، خو د خپلو کوڅو او مالتونو شورماشور نه هېروي او که لږ نور هم زیات ځیر شو نو پوهیدای شو چې د شاعر د فکرونو او خیالونو سیلاب له هم دې درو او ورشوګانو جاري کیږي او په کنډو کمرو او ملکونو لاره کوي او د فکرونو یو لوی سمندر ته غېږ ور کوي.

**د مینوشــو کــال ابــاد شــو، د شــرابو ارزانـــي ده**
**عقل بند پر بند ماتېږي، د بدمست جنون خاني ده**
**توبې مړه لور دې پیدا سه، زهده! غبرګ ځامن دي ومره**
**هلتــه وار د پیـالې تېـر سـو دلتـه پاتـه لا ځـواني ده**
**په دوزخ د بېلتانه کې ما ستا رنګ ساتی په زړه کې**
**ګلــه! وینــه دې ترخــه ســوه د زقومــو ابیــاري ده**
**کله مست موج د خندا سي کله غم په غم زنګېږي**
**د حــالاتو جبــر نــه دی د ژونــد ختېــه شــرابي ده**
**تــوره شــپه د بېلتانــه ده تــور د مینـــي تــوره تبــه**
**ســتا د ســترګو د یــاد بــزم، د تورانــو مهمــاني ده**
**مقـدس جنونـه پـام کـړه لاس دي ساته لـه ګرېوانـه**
**مینـه پټـه پـه پـرده کـي، درنـه پېغلـه سـارایي ده**
**د آدم د ګنــاه بیـــه د فـــردوس د بـــاغ ګلونـــه**
**ملایانو ځان خبر کړئ دا خبره کتابي ده(۷: ۱۶)**

په دې را وروسته غزل کې شاعر رندانه انداز کې هستونه کوي ، ربښتیا دې ټکي ته باید پام وکړو چې دلته د رند او رندانه مفهوم په مثبت او هغه څه چې په فرهنګ کې په واقعي مانا دې کارو و ، دا مفهوم له سنایي نه وروسته

زياتره په فارسي ادبياتو کي سعدي او يا حافظ کارولي دي ...

دا د عرفاني انسان پېژندني په برخه کي اساسي مفهوم دی، د رندۍ مفهوم يا د حافظ په اخلاقي او چلندي قلمرو کي د هغه داخليدلو ته ور رسيږي، دا چي د هغه دريځ په دې برخه کي څه دی او په هستۍ کې د انسان نقش څه دی او څه ډول بايد ژوند وکړي، حافظ د رندانه ژوند سپارښتنه کوي، هم دا رنګه د هغه په افکارو کي د رندۍ مفهوم اساسي هغه دي چي هم په چال چلند او اخلاقو او هم دا هغه د افکارو په پېژندلو کي اساسي نقش لري، نو په دغه دستګاه او يا فکري سيستم کي د رندۍ مفهوم څه دی بايد وپلټو، د حافظ په افکارو کي د رند او رندۍ مفهوم د زړ بېلګي يا **ارکيتايپ** سره تړاو لري.:

**مـــرا روز ازل کـــاری بـــه جـــز رنـــدی نفرمودنـــد**

**هر ان قسمت که انجا رفت از ان افزون نخواهد شد**

يا :

**ان نيســـت کـــه حـــافظ را رنـــدی بشـــد از خـــاطر**

**کـــاين ســـابقه ی پيشـــين تـــا پســـين باشـــد**

يا :

**عيـــب ام مکـــن بـــه رنـــدی و بـــدنامی ای حکـــيم!**

**کـــاين بـــود سر نوشـــت ز ديـــوان قســـمت ام**

www.sikaraam.com

یا:

**روز نخســـت چـــون دم رنـــدی زدیـــم وعشـــق**

**شـرط ان بـود کـه جز ره این شـیوه نسپریم(۵: ۲۹۱)**

له کومه ځایه چي پوهیږو د رندۍ مفهوم د عیارۍ او کاکه توب او یا غیتوب په مانا چي ارزښتونو ته څوک ارزښت نه ورکوي، په دي اساس رند د خپلو کړو له مخي د زاهدانو او پرهیزکارانو مخالف قطب کي واقع دی، خو دلته د حافظ او عطایي ملا په هستونو کي رندي د آدم له ازلي برخلیک سره غوټه خوري چي جنت ته شا کوي او د قلندر په څېر ځان په دې پراخه دونیا کي اواره کوي.

په عرفاني ادبیاتو کي کله چې آدم ابوالبشر ګناه وکړه او په ټولو کائیناتو کي رسوا شو، نو زاهدانو سپېڅلي عالم او رباني خلایقو هغه وراټه، هغه رسوا شو، نو له ظاهري زهد نه یې هم لاس واخیست او په رند بدل شو، هم دا سبب دی چي رندي او رندانه حرکات د سنایي او عطار په اشعارو او نورو صوفیانو په شعرونو کي زیات لیدل کیږي...

خوشحال خان خټک هم وایي:

**شـیخ دي لمـونځ روژه کـا زه بـه ډکـي پیـالې اخلـم**

**هــر سـړی پیــدا دی خپــل خپــل کــار لــره کنــه**

داسي نور زیات مثالونه هم شته، خو د عطایي ملا مثالونه هم په زړه پوري دي:

**کاشـکي ژونـد مي تـوره شپه سي، او یار ورکه کړي د شپې لار**

www.sikaraam.com

کاشکي بخت مي سپين سحر شي، او ورک راولي پر دې لار
زړه مـي لاس کـي را اخيسـتی، د لـيلام لـيلام نـارې کـړم
مونـده نـه سي پـه درسـت ملـک کـي، د دلبـرو د کـوڅې لار

بيګا ټول خمار خمار وم، سود او زيان ته مې پام نه و
محتسـب نـه مـي پوښـتله، سـتا د پټـي ميکـدې لار
دا هسـتي او نېسـتي دواړه، د جانـان د کلـي لاري
يـوه ښـکلې د بـاغ پولـه، بـل سـپېره د هـډېرې لار
د شيطان سره يې جنګ دی، د آدم د رباب ترنګ دی
«د شـيخۍ لاره کچـه ده، ښـه پخـه ده د تـوبې لار»
ای پـرديس د غـره ګلابـه! د شـهۍ څکـر تـه څمـه
راځـه! مـا تـه رامعلومـه د ګلونـو د بـاغچې لار
پښتنې اوښکې رهي سوې، فريادي د خان درشل ته
دمظلـوم خـاطر تسل وي، دمجبـورو د جرګې لار(۷: ۱۸)

نو ګورو په دې پورته غزل کي زموږ پورتنۍ خبره صدق کوي، دی هم وايي:

«د شيخۍ لاره کچه ده، ښه پخه ده د توبې لار».

**۱۲. د هېواد اوسني حالات او د شاعر مدينه فاضله او عرفاني ليد**

عطايي ملا سره له دې چي اوس يو قلندر دی، خو دی هغه مست قلندر هم دی چي د مدينه فاضله د جوړولو ارمان يې په ذهن او شعور کي غځوني کولې.

«لا وارث دولـت د حسـن» د سـپېرو خـاورو يـو مـوټی
شـش محـل د ولايـت و اوس د کلـي هـډيره سـوه

چیرته حورې جنتونه؟ چیرته سرې سترګي جامونه؟
مــلا نــه یــم قلنــدریــم، زمــا دغــه آب و دانــه ســوه

یا:

ننګ د میني جنګ د حسن، د سرو سترګو اشنایي ده
بڼو تېغ له تېکي ویوست، ګرانه اوښکه زنداني ده
ساه به ورکړم تا به ساتم، غمه! زما مور پښتنه ده
د لغړي زنــي یــاریــې، تــر لحــده مــو یــاري ده

یا:

ســتا د حســن لــه غــروره، زمــا د مینــي لــه غیرتــه
د پښتون تقدیر نصیب مو، په وصال کي جدایي ده
و درشل د عشق ته تلمه، په مقتل د سترګو پېښ شوم
ملاجانه! کتاب ګوره، دا قصاص که قرباني ده؟(٧: ٣٤)

د لاندي شعر پیل ته هم پام پکار دی، د لیکلو په وخت دې کي شک نشته چي شاعر د هېواد جاري حالت ځورولی دی، خپل خوږ او ښکلي وطن او پر هغه راخپور ناورین له ورایه ښاري او پر هغه اوښکي تویوي، هغوی چي د دروغو دعوې کوي په خپل خیال کي یې لوڅ دروي او خپلو خلکو ته یې ورښیي:

امامــان د تــذویر راغلــه، فاتحــه د ایمــان اخلــي
فرشتې تښتي له کرکي، شیطان ځان ساتي له شره
مجنون خوب کي جنت ولید، هر څه وه لیلا یې نه وه
وې یارانو جنت شړ دی، ځان ساتئ له دې سقره
د آدم ژبه خــو مینــه پــوه پــه خونــد د هجــر و وصــل

**دا جنت دوزخ لا څه دي؟ لږ خو پوی مي کړه دلبره!**
**زما سجده خاوري کېده دي، ستا معراج ځانته کاته دي**
**مست تقدير د ګناهونو، شيخ تدبير دی بې هنره(۷: ۳۶)**

د زرواني کيت په اساطيرو کې چي وايي ,,**زروان** دوه مولوده وزيږول چي يو **اهورا** او بل **اهريمن** وو، خو خبره وخت ته پاتي شوه چي ثابته کړي چي کوم يو په خپل قول و قرار ثابت قدم دی او کوم يو د ريا او تذوير استازي دي، زموږ د ګران هېواد اسطوره يې پيښي چي په خيالاتو کي هم نه ګرځيدی او په تصوراتو کي يې هم حضور نه پيدا کاوه خو د فلک په څرخ راغلې او پيښي شوې. طبيعي خبره ده چي که چنګيز راغلی وای او د مذهب د ټيکه دارانو جوړ ناورين يې ليدلی وای چي د الله اکبر د کلمې په ويلو په خلکو څه کانې کوي حيران به تللی وای ...

وايي کله چي چنګيز د منځنۍ اسيا له پراخو دښتو راتېر شو او بلخ ته راغی نو خپلو لښکرو ته يې وويل چي دا ښار مه ورانوئ او مه يې سېځۍ، د دې ښار امير به ښار په خپله پريږدي ، چنګيز په ښار ننووت، بلخ يې ونيو، د بلخ امير ځای پرېښود او چنګيز خپل يو ځوان هلته امير وټاکه ... چنګيز له دغه ځايه ولاړ او د ختيځ په لوري يې حرکت وکړ، لا په نيمايي لار کي وو چي د بلخ خلکو بغاوت کړی وو او چنګيزي زلمی يې وژلي وو، هغه بيرته راوګرځيد او خپلو لښکرو ته يې امر وکړ چي اوس نو ژوندي څوک پاتي نه شي هم داسي وشول.

هغه خپل افسران راوغوښتل، له يوه نه چي د قصاوت او بې رحمۍ نه جوړ شوی وو، ترې ويې پوښتل: «ايا داسې پيښه دي وليده، چي پښيمانه شې؟»

www.sikaraam.com

هغه په ځواب کې وويل: «هو، يوه پيښه وه.»
څنګه؟

هغه کيسه کړه، چې په يوه کور وردننه شوم، دروازه مې ونړوله، يوه مور چې ماشوم يې په غېږ کې وو، ناسته وه، ترهيدلې وه ، ما پرې د توري وار وکړ، دوه نيمه مې کړه، ماشوم ترې وغورځيده ، ماشوم ليرې پرېووت بيا مې خپله له وينو ککړه توره د ماشوم خولې ته ورنږدې کړه، ماشوم د توري خوله په خوله کې زبېښله، فکر يې کاوه چې د هغه د مور تی دی، په رودلو يې پيل وکړ، زه حيران او په تعجب کې شوم خو زر مې ماشوم هم په توره دوه نيمه کړ.

چنګيز هماغه افسر ته لوړ منصب ورکړ، دا ځکه چې په هغه کې د انسانيت هيڅ نښه نوره نه وه پاتې.

پېړۍ وروسته په هماغه بلخ کې عبدالمنان نيازي اعلان وکړ، چې شيعه بايد يا ووژل شي يا دي ملک پرېږدي او يا دي مسلمان شي، خو لږ کلونه وروسته چې د بي **۵۲** الوتکو په اسمان کې کورونه او کلي جوړ کړل، پنځه زره جنګيالي په کانتيرونو کې واچول شول، په کانتينرونو او جنګي کلا کې ووژل شول، ويني له کانتينرونو لاري وکړې او د ليلي دښته کې اوس هم د شپې له خوا د بګوو اوازونه اوريده شي...

په غزني کې مړي پراته وو، بهرني افسران او يرغلګر راغلل پرې، ودريدل او په مړو يې ميتيازي وکړې، په ودونو او جنازو بمبارد وشو او داسې ډېري پيښې دي چې کيسه نوره هم اوږدوي، دا **اسطوري** نه دي نو څه دي؟ دلته **اسفنکس** او يا **ابولهول** کاروانونه نه دي تم کړي نو څه دي؟ موږ کومه خوا نه يادوو، يوازي د انسانيت هسته مطرح ده او شاعر هم په دې ټکي تمرکز نه کوي چې قاتل څوک او مقتول څوک خو په انسانيت فکر کوي، نو ځکه خو وايي، چې دلته اوس د ايمان فاتحه واخيستل شوه،

پرښتې په تېښته دي او ان شيطان هم له دې ځان ساتي، د جنت او دوزخ افسانه يې بربنډه نه کړه نو څه دي؟ دوزخ نور څه ته وايي؟

**امامـان د تـذوير راغلـه، فاتحـه د ايمـان اخلـي**
**فرشتې تښتي له کرکې، شيطان ځان ساتي له شره**

له هېوادڅخه د ليري والي او د غربت په دهکده کي د شاعر هستوګني د هغه نوستالژيک احساس لا پسې ژور کړ، يو قلندر او ملنګ ملا هم دې ته نه پرېږدي چي په خپله حجره کي څادر له ځانه تاو کړي او په څه غرض ونه لري . خو، نه په هغه کي هغه څه لا شته چي بايد خپله خبره وکړي او په خوند او شرنګ يې وکړي، لکه وروسته شعر چي وايي:

**دا ښو چې خنجر کښلی، ساقي تايي سترګي سرې کړې**
**تنکی حسن قاتل نه دی، عشقه تا چړې تېرې کړې**
**د قضا د مسند مشره! په نومونو دوکه نه شې**
**مرګ** اووه رباطه ليري، **ژوند** زما غاړي راپرې کړې
زه **کابل** وم د خيالونو ته **فرنګ** د هوسونو
**تا راوران کړل محلونه، ما درجوړي هديرې کړې**
**د «پنجاب» زهريله خړه د اټک تر ستوني راغله**
**ساده خانه! لا لګيا يې د بچاو بچاو ناري کړې**
**دا عذاب د کوم تقصير دی؟ که وچ جبر د تقدير دی؟**
ژوند خولا روه ورکه کړې، مرګ هم هېري زموږ کوڅې کړې
**سپين کاليو جلوس جوړ کړ چي اډې د حسن سوځو**
**شهی! ستا پر کور چي راغله، هغو هم جنډې کږې کړې**
**د کتلو فتنه څارئ، بنايست هسي يو ګپ شپ دی**
د ملا کتابي سترګې، يو **کوري طالب** ړندې کړې(۷:۴۴)

www.sikaraam.com

قلندر شاعر په هم دې غزل کې بیا هم رند شي او په زغرده خپله خبره وکړي، چې که تا محلونه را وران کړل، نو ما هم هدیرې در جوړې کړې. دې ته وایي بې باکانه جرات او زړور توب چې د خپل بدیل پر سر جنډه پورته کوي او پرې ویاړي.

یا:

**که شپې لار لیدای د زلفو، راختلی به لمر نه وای**
**که بې سوزه سازېدلای، دا دلسوز به دلبر نه وای**

**که ګلان د مینې نه وای، د ښارګ د وینو تړې**
**کربلا! ستا په لمن کې، چا پرې کړی به سر نه وای**
**که ښامار د ظلم مخه اړولای وخپل غار ته**
**معافي به ووکار کړی، د دې خیر که شر نه وای**
**آدم زاد که د خپل عقل قدر خپله پېژندلای**
**دانا پوهه دا سر زوره، بد کرداره به خر نه وای**
**ژونده! ستا اغزنه شپه به ما په یو آه وه سوځلې**
**که یې ګل مخ ته سپر نه وای، که امید د سحر نه وای**
**که شوم نیت د لالا نه وای که مې کور کې بلا نه وای**
**خانه! ستا څنګ ته به ناست وای، زه به خوار په سفر نه وای (۷:۴۸)**

یا دا غزل:

**د خوښی جام مې نسکوره، له اسمانه رالیله سو**
**غم د ژوند بدي په غاړه، پر پښتون کور مې مېلمه سو**
**چې مظهر مې د سجدې و چې قاتل مې د توبې و**

هــا محــراب ســو لــوټي لــوټي هغــه بــت ذره ذره ســو
د رنګــین خــاطر شــباب و، وختــه ســتا مغولــو لــوټ کــړ
تــه بــه وایــي جــوړ کابــل و پــه بمونــو ویرانــه ســو
یاران وایي بهار رنګ دی، دا خوسم د تورو جنګ دی
د غــوټۍ لړمــون ســوځېږي، ګــل پــه وینــو کــې غوټــه ســو
اجابــت د دعــا ګــوره، د شــهید ارمــان مــزار تــه
مــا لا شــم بــل کــړی نــه و، ژونــدون ټــول لمبــه لمبــه ســو
نــن ســحر قــاتلان راغلــه، بېګــانۍ ډېــوې یــې مړې کــړې
ښه چې ژر دې ځان لمبه کړ، پروانې! مرګ دې پرده سو
(۷: ۵۰)

په هېواد کي جنګ او جګړو هر څه په دا بل مخ کړل، ارزښتونه یې بدل کړل، فرهنګ یې بدل کړ، سنت او دود یې بدل کړ او لنډه دا چې اوس چې کوم انسان په هېواد کي ژوند کوي، هغه جنګي انسان دی، جنګي فرهنګ لري، جنګي معنویات لري، هغه یوازې د فتح او وړلو او وژلو او ورانولو په باب فکر کوي، شاعر له دې خبرو هم متاثره دی، د دې علت به دا هم وي چې یوه پښتو ټپه یې انځور کاږي...

ما خو به دا ویلي نه وو
چې دي ملنګ شم در په در دي وګرځمه

شاعر د مدینې فاضلې یا د هغه ښار د جوړولو افکار په سر کي ګرځوي، کوم چي په ځوانۍ او زلمیتوب کي یې په دغه سمندر کي لامبوزن وو، هغه مهال لاړ، زمان نوري پیښې او نور زامن وزیږول، داسي زامن چي خپله زمان ورته ګوته په غاښ دی، نه یوازې د مدینه فاضله مساله ورسره شته بلکې د دوزخ د جوړولو په مساله غور کوي، شاعر ته له دې نه نور زیات د ځوریدلو

او کړېدلو بدترین حالت نشته.

په ټوله مانا ارماني شاعر د انسان ټول روح په داسي حال کي فعالیت ته رابولي، چې بیلابیل څواکونه او بیلابیل مهارتونه د دې روح چي د ارزښتونو سره متناسب وي، یو له بله پیروي کوي، د یووالي او وحدت روح پنځوي، کوم چي د هغه په رڼا کي دا ټول څواکونه او قابلیتونه سره ګډېږي یا په بل عبارت ویلي کیږي او یو په بل کي ورکیږي ، دا کړنه د هم دې جادویي او ترکیبوونکي څواک په وسیله ترسره کیږي چي موږ ورته تخیل وایو او هغه د شاعر په کلام او افکارو کي شته او ځلیږي.

د ژوري اندیښني او مفکورې سره د ژور احساس یووالی، د مشاهدې سمښت او د تخیلي څواک ترمنځ ظریفانه تعادل او توازن چي وکړای شي د مشاهدې وړ شیان رامنځ ته او بدل کړي او له دې ټولو مهمه دا چي هغه اصیل موهبت چي د دې وس لري د ژورو او لوړو سره یو ځای ارماني او مثالي اهنګ او فضا رامنځ ته کړي او د عالم د اشکالو په ګرد چاپېر کي پیښني او موقعیتونو ته پراختیا ورکړي.

**۱۳. ارزښتونه او انسانیت**

**څه چپه باد راالوتی، ژوند له خپله ژونده تنګ شو**
**غېرت ویلي سو له شرمه، دووس ستر سو دله دنګ سو**
**خر قاضي، لیوه چوپان سو، مېږه مږ سو هجږه خان سو**
**پادري وخوت منبر ته، خانزاده (!) زوی د فرنګ سو**
**څه بدبخته تراژیدي ده، د دوستانو دښمني ده**
**لاس مي مات له خپله لاسه، سر پردیو ته قلنګ سو**
**ما حساب دی غلط کړی، که خو کړی دی یارانو؟**
**دلاس ټول پاخه اومه سوه «بدرنګي» د «میدان رنګ» سو**

**هر یو ځان د ځان دښمن دی دلته غیر او اغیار نشته**
**شم په خپله لمبه سوځي، ګل په خپلو وینو رنګ سو**
**یو جابر سلطان د حسن، بل سر تېر فقیر د مینې**
**خوار مېړیه عقله تښته! د فیلانو زله جنګ سو**
**میکده ماتم کده سوه له همسا جوړه ډنډه سوه**
**خم چپه ساقي سر ماتی، زهریله بوټی د بنګ سو**
**ګام په مځکه ننوزي ساه زړه سوه نېغه نه ځي**
**سیخه لار دیار د کلي، جوړ پیچومی د سالنګ سو**
(۷: ۵۶)

د شاعر خبري ټولي دردوونکي دي، که یوازي یو تصویر او خیال وړاندي کوي، هغه هم په خپل متن او بطن کي یو څه لري، په پورته شعر کي که د شعر په ژبه د هېواد اوسنی حالت تابلو کېږي او زموږ په مخ کي ایښودل کېږي، خو د خاصو الفاظو په کارولو سره د اکار کوي، د مثال په توګه: **د چپه باد را الوت، ژوند له ژونده تنګیدل، دووس ستریدل د دله دنګیدل ... خر قاضي، لیوه چوپان، هجره خان، د فرنګ خانزاده زوی، سر پر دیو ته قلنګیدل، د لاس پاخه اومه کیدل** «بدرنګي» د «**میدان رنګ کیدل**» ... **ځان د ځان دوښمن، د حسن جابر سلطان**، د میني **سر تېر فقیر**، **خوار میړی عقل، دفیلانو جنګ، میکده په ماتم کده بدلیدل، د بنګ بوټی زهریله کیدل**... او په پای کي دا بیت:

فرنګی پر بېړدۍ چې غري، په بمونو نه ختمېږو
سامري **ډالر** تباه کړو، **غازي**! ډېز په دې (!) **د جال** کړه
(۷: ۵۸)

په پورته شعر کي داسي بريښي چي شاعر ته ويل شوي وي يا ورته هاتفي اواز شوی وي چي وليکه! د خپل هېواد د غميزي تاريخ وليکه! په هغه کي د هجرا، د خانزاده د زوی او د فرنګ يادونه هم وکړه ! چي، په لوی لاس يې د خپل کلي او د جومات واک د پلار قاتل ته ورکړ، وليکه ! چي دې هجرا څه کارنامې پرېښودې؟ شاعره ! د پښتون فرهنګي ارزښت قاتل يعني چي څوک دووس شي يا هجرا شي، ميکده په ماتم کده بدله کړي، رسوا يې کړه! ... شاعر منبر ته خيژي او په رسا اواز د اوسنۍ زمانې د شرم پرتوګ رسوا کوي، خو دا هم وايي، چې موږ په بمونو نه ختميږو، سامري ډالر تباه کړو. غازي! په دې دجال ډز کوه، هم دا رنګه په نورو شعرونو کي هم دا کيسه غځوي او وايي:

**څه د غم اغزي يې شنه کړه، د باروتو بارانونو**
**څه خودکش غضب يې ويښ کړ د بمونو اوازونو**
**زموږ سل مري د ده يو مري فرنګي تيغ بندي کړې**
**زورور اثر يې وکړ شکرانې د ډالرونو**

يا دا چي يو اصيل افغان يا پښتني دود ته اشاره کوي، اساطيري بنياد هم لري، چې له هېواد سره يا د زېږد ټاټوبي سره د مفرطي ميني ښکارندوي کوي، بايد وجود هما لته خاوره شي، له کومه ځايه چي جوړ شوی دی :

**بير تې وړو و خپل وطن ته، رسوو خاوره تر خاوري**
**امانت مو دي سپارلي جنازې د ارمانونو(۷: ۶۰)**

په عرفاني ادب کي مرګ د ژوند انتها نه ده ، غني خان يې هم يو ځای يادونه کوي او هادي ملا هم دې ټکي ته اشاره کوي او وايي:

**مرګه جار دي تر پنجوشم، د جانان په لور مي بيايې**

www.sikaraam.com

**خو دا سترګي کړه لږ نرمي، د ارمان په لور مي بيايې**
**دا اوږده درانــه کلونــه، د زنــدان دوزخـــي کنــدي**
**تــا د بــاد وزري راوړې، د رضــوان پــه لــور مــي بيــايې**
**ژونده ! درې کاڼي طلاق دی که بيا سترګي دربښکاره کړم**
**زه د مرګ سترګو اخيستی، د رُمان په لور مي بيايې(۷: ۶۱)**

ځومره ښکلی انداز په پورته کلام کې نغښتی دی، په عرفاني دونيا کي مرګ انجام د هستۍ نه دی، مرګ له ابديت سره يا له مطلق ذات سره پيوستون او وصلت دی، په دې شعر کي هم شاعر مرګ د ابديت په لور او د وصال په لور تګ بولي، مرګ شاعر د ارمان په لور بيايي خو پوښتنه دا ده چې دا کوم ارمان دی؟ په روحاني او عرفاني دونيا کي د انسان لپاره ستره مساله هغه مهال پيښه شوه چي آدم ابوالبشر له جنته راووت، شيطان وسوسه ايجاد کړه او ځمکي ته راغی، آدم ته د بيرته ورستنيدو نوستالژيک ژور احساس ورپيدا شو، خو يوازي په دې يې بسنه وکړه چې د مرګ په وسيله او د قيامت په ورځ به دا وصلت حاصل شي ، د عارف ارمان هم دا دی، عارف ته دا دونيا يو جوړ دوزخ دی ، د دې دونيا کندي او عذابونه ټول يو زندان ته ورته دي ، له هغه اراده او اختيار ا خيستل شوی دی، نو ځکه زموږ عارف شاعر له ژونده موړ دی، مرګ دی چي هغه د خيالي او روماني دونيا په لور بيايي.

دعطايي ملا په کلام کي کله ناکله هم عرفان له **پاتريوتيزم** سره جوش خوري او يو اواز خپلوي، د مثال په توګه:

هېواد د ځمکي پر سر يو جوړ دوزخ دی، دوزخ هم د انسان د زجر او کړاو بتيې ده او هېواد هم داسي ګرځېدلی دی ، خو دا دوزخ چي د شاعر په هېواد

www.sikaraam.com

کي جوړ دی، د بل انسان په لاس جوړ دی. د **ژان پل سارتر** خبره تداعي کيږي چي د دوزخ په ننداره کي د يو کرکتر له خولې وايي:

«ګارسن مجسمه لمس کوي، بالاخره وخت راورسېد، دا مجسمه هم دلته ده، هر وخت چي يې ګورم پوهېږم چي په جهنم کي يم، هر څه له مخه اټکل شوی دي، د دې بخارۍ په مخ کي زما په څېر کاته پيل کوي (سملاسي ستنيږي) تاسي له دوه کسو زيات نه ياست، خو زه فکر کوم چي ډېر زيات خاندي، نو دلته جهنم دی، هيڅ وخت مي باور نه کاوه، ستا په ياد دي چي د جهنم په باب يې څه ويل؟ جهنم له اوره ډک، سيمي قمچيني، په اور سره ګرزونه، څومره د خندا وړ ده! د شکنجې وسايلو ته هيڅ اړتيا نشته، جهنم نور دي، جهنم تاسي ياست.»(۴: ۵۶)

په دې اساس هغه دوزخ چي په سماوي کتابونو کي ذکر شوی، ليدو ته يې حاجت نشته بلکې دوزخ جوړ دی، هم دا دوزخ چي نن دروغجن او رياکاره ملا جوړ کړی او هجراګان هم ورسره شريک دي، هم دا دی، نو چي د يو حساس ذهن او د لطيف ذوق خاوند ونه ځوروي، څوک به ځوروي؟ په دې وروسته شعر کي هم دا ګورو ...

**زړه چاودون ته رسېدلي، لري لري ديار خياله**
**د خودکشي حملې وار دی، د رقيب پر سېپره ځاله**
**رحم څه وي؟ بدله اخلم، فرنګي مو پوروړی**
**د بوډۍ توره ټيکريه! د شهی زرغونه شاله**
**د خنزير ډالر په وازګه غوړوې ږيره ناپاکه**
**رب دي غرق کړه سامريه! له خره ولوېږې دجاله**
**شپه تېرېږي ډاکو تښتي سنګر مه پرېږدئ ياړانو!**

**ژر بـه لمر تنـدی ښـکاره کـړي د کنـډو غـره لـه دیوالـه**
**بختـه جـوړ افغانسـتان سـوې، د غـم کـاڼي پـه دراوري**
**لـــه مشـــرقه لـــه مغربـــه، لـــه جنوبـــه لـــه شـــماله**
**دامـنم زلفـي تـړل کـا، دا مـنم سـترګي ویشـتل کـا**
**خو ته سیخ په زړګي لګې، یه ! د شونډو د کونج خاله**

(۷: ۶۴)

په پورته شعر کي شاعر شعار نه ورکوي او نه خو بربنډه خبره، هغه د شعر په ژبه چي د راز او رمز خبره ده، وايي خو په رومانتیک اندازيې وايي.

**د خودکشي حملې وار دی، د رقیب پر سپېره ځاله**
**رحـم څـه !وي؟ بدلـه اخلـم، فرنګـی مـو پـوروړی**

یا دا

**د خنزیـــر ډالـــر پـــه وازګـــه غـــوړوې ږیـــره ناپاکـــه**
**رب دي غـرق کـړه سـامریه! لـه خـره ولـوېږې دجالـه**

یا :

**بختـه جـوړ افغانسـتان سـوې، د غـم کـاڼي پـه دراوري**
**لـــه مشـــرقه لـــه مغربـــه، لـــه جنوبـــه لـــه شـــماله**

په شعر کي د شاعر مخاطب روښانه دی، دا هماغه دووس او هماغه سامري او هماغه د دین سوداګر او د ډالرو په وازګه د غوړي ږیري خاوند دی چي په رندانه اندازيې لوڅوي او تاریخ ته يې سپاري...

د شاعر په ذهن کي د خپل هېواد او خلکو د ځورونکي حالت دردونه د هغه له تحت الشعور نه راپورته کیږي، هغه خوب کي هم سرسامه وي، هغه خپله شیبه د سیوري سره ګوزران بولي، سیوری د انسان د شخصیت او

موجودیت هغه تېر ایستوونکی حالت دی، چې د خوب د خاوند د غولولو او تېر ایستلو سبب کېږي، په معاصره اروا پوهنه کې سیوری څه دی؟

**کارل ګوستاویونګ** سیوری د غرایزو قهرجنه او د طبعیت حیواني جنبه بولي، په دې اساس سیوری د غرایزو ټول بولي چې د هغه په فکر هغه غرایز دي چې له اسلافو او یا د بشریت له ابتدایي مراحلو تر اوسه د انسان په ناخوداګاه کې ځای شوي دي او شکل یې نیولی دی. نامناسب احساسات او افکار چې صیقل شوي نه وي په سیوري کې تجلي کوي، خو انسان یې معمولاً په ماسک او پرده کې له نورو څنګ ته کوي او یا دا چې شا ته یې وهي او شخصي ناخوداګاه ته یې سپاري.

زموږ شاعر هم له دغه سیوري یا سیورو نه سرټکوي.

هغه وخت او زمان ته ګوري او ژوند ته هم سر ورښکاره کوي، دوه متضاد ځواکونه چې یو د هغه په تن پوري «**ژوند**» او بل د هغه له ارادي بهر ,,**زمان** درومي، یو پادشاه دی او بل غلام، خو خپله اصلي خبره په دې ټکي کې کوي.

**خپله خاوره مور چې نه وي د بل فرش د ګلو څه کړم**
**د مېرې بالښت اغزنه! خوب دي نسته، بس شپه تېروي**

دلته ګورو چې د شاعر عرفاني لیدتوګه او د هېواد تراژیدي سره او د هغه د غربت احساس یو مثلث جوړوي.

پایله دا چې پښتون تصوف وچ او د حجرې او چله کې د ناستي تصوف نه دی، هغه د ستونځو په بنیاد مطرح کیږي، که په عربو کې دویمه دریمه هجري پېړیو کید عرب اشغالګرو او بې رحمه فاتحانو او د هغه د مال او ثروت د ناروا ټولولو په وړاندې د تصوف تر نامه لاندې جریان راپورته شو،

نو موږ هم د لمس وړ روښاني غورځنګ، د فقير اې پې، ملا پونده او نور ليدلی شو.

ټوله شپه يې په خوب وينم، چې راويښ سم خوب مې هير وي
ټوله ورځ يې پل څارمه، يا راغلی نه يا تېر وي
دا څه ستړې ده راپېښه، د سايو سره ګذران سو
يا په سيوري مې غېږ ډکه، يا ښکالو رانه چاپېر وي
وخت باچا شانته روان دی، ژوند مجبور اسير غلام دی
زه يم ناست تلم کلونه، ښادي پاو خيژي غم سېر وي
خپله خاوره مور چې نه وي، د بل فرش د ګلو څه کړم
د ميرې بالښت اغزنه! خوب دي نسته، بس شپه تېر وي
تنکی حسن چې لوئېږي، د ديدن تنده ګرمېږي
سباوون لمر ته کاته سي، غرمه نه سي تاويې ډېر وي
د تن سر خو د بل سر دی، ورکول يې دي اسانه
تل ژوندی شهيد هغه وي چې د ځان (!) له سره تېر وي
«جنت غرب» صوفي ته وايه، لږ حيا درب له ستر ګو
حوري غواړې بې شماره، خو ذکرونه دي په شمېر وي
ځواني ولاړه شهی راغله، اوس به څه ګلان کرمه
چې نصيب يې مستي نه وي، وخت او بخت يې تېروېر وي

(۶۵:۷)

يا دا چې:

باغ او يار، ځواني او مينه خوږ ستار ترڅه جامونه
دا په ګلو کې ګلونه، په خوندونو کې خوندونه

www.sikaraam.com

د جانان په رنګي خوږ وي، د ارمان په شانتي لنډ سي
د ژړي مـــازيګر وصـــل، د ســـحر درانـــه خوبونـــه
هومره سوز دآدم خوله کي، څومره اوريې دی په زړه کي
دا پـه اور پـخ سـوې خټـه، کـه پـه خټـه کـي اورونـه؟
پـه کـوم جـرم اسـير سـوی، زمـا ازل سـتا پـه ابـد کـي
دا د مينـــي بغـــاوت وو؟ کـــه د عقـــل زنځيرونـــه؟
چې قطره زړه کي يې ځای کړ، اباسين درياب د ميني
د هغـــو نظـــر تـــه ښـــکته، د آســـمان د غـــرو ســـرونه
مينه حق ده او حق راز دی، په سوزونو کي پټ ساز دی
منصور ځکه سنګ باران سو، چي ويل يې پټ رازونه
قلنـــدر لـــه ښـــاره ووت، د خـــودی کچکـــول پـــه غـــاړه
څومره لوی سوې زما وجوده؟ څومره تنګ سوه دا ښارونه؟
جنـون حسـن تـه پـټ ووې، زړه کـي نسـته د ګـل مينـه
د دې قـوم خـواري عبـث ده، بـې قبلـې همـه لمنځونـه
د مسـتی، تـروری، زوی سـوی، لـه درانـه ږغـه يـې سـاتو
مـــلا برکلـــي تـــه مـــخ کـــړه، هلتـــه وښـــي اســـخاتونه

او په يو بل شعر کي د مرګ و ژوند افسانه او د وحدت او کثرت مسأله راسپړي.

عطايي ملا يو نګه شرقي انسان دی، شرقي انسان يعني د معنويت لېوال انسان د انسان د تعالي ليوال، خو په لوېديځ کي ميشت دی هغه نه يوازې جلاوطني ځوروي؛ بلکې همدارنګه د لوېديخ تمدن ناخوالي او هغه بې بندوباره حالتونه يې ځوروي،هغه د **دلته** په نوم يو ازاد شعر کي د دې ټکو ته

اشاره کوي.

## ۱۴. لوېديځ مدنيت او په هغه نيوکه

عطايي ملا په يوه اوږده ازاد نظم کي لويديځ مدنيت ننګوي او د هغه رامنځته شوي ارزښتونه د خپل شرقي فرهنګ له زاويې ګوري، هغه په ډاګه کوي چي دلته انسان څومره له ځانه پردی کيږي،د فرهنګ، تمدن او ازادۍ په نوم د انسانيت ټول معيارونه تر پښو لاندي کيږي، يوازي د ثروت او شهوت له داستان څخه سندره جوړيږي...

مادي او فيزيکي پرمختګ په لويديځه نړۍ کي زيات پر مخ ولاړ خو د انسان رواني او روحي بيارغاونه ونه شوه، دويمي نړيوالي جګړې او په بل عبارت د جنګ او جګړې ويري او ترهي د انسان روان تل په پنجو کي نيولی او يو ډول ويره او ترهه يې پرې لاسبري کړې ده ، له جنګونو نه ډار او ويره يوه عمده پيښه وه. له ياده ونه باسو چي د نړۍ دا برخه چي موږ يې غربي تمدن بولو، له اوږدو مودو راهيسې له يو رواني بحرانه رنځ وړي، چي په غربي انسان کي د **نهيليزم** (بې ګټي والي يا **ابسورد**) سبب شوې ده، د **زيمل** په نوم يو متفکر په دې باب په ډاګه کوي چي دا ډار او ترهه د انسان فرديت له نابودۍ سره مخامخ کړی...

انسان د يو لړ شرايطو لاندي ژوند کوي، هغه اړ دی چي له ځانه پردی يا الينايز شي، هم دا ډار او يا ترهه د دې سبب شوی چي انسان وجودي فلسفې يا **اګزيستانسياليزم** ته پناه يوسي.

په اروپا او امريکا کي زيات انسانان په دې باور شوي دي چي ماشين د انسان معنوي او روحي ارزښتونو ته ګواښ کوي او دا ورته سخته ده چي ومني چي ولي تېرو نسلونو د تکنالوژۍ په وړ دي کلک ايمان درلود، البته دا

باور له منځنيو پېړيو نه وروسته موجود وو، تر دغه وخته انساني فرد ځان د جهاني نظام يو کلی او جهان شموله او نه جلا کېدوني پديده بلله چي ټول مادي او معنوي وده پکي ګډل کېدله، خو ورو ورو يې پام شو چي بې ريښې شوی دی او له خپلو ارزښتونو او معنوي جونګړي جلا شوی دی.

موږ د عطايي ملا په دې نوي شعر کي دا پېښه ليدلی شو، چي څرنګه ارزښتونه نه يوازي له شرقيانو نه بلکې د غربي انسان د روح او روان د ګډوډۍ سبب هم شوي دي.

دلته!

**دا دورکــو مغــزو (!) ښــار دی**
**د ماشـــــين حکمرانـــــي ده**
**دا د لوخـــو ســـپرو (!) کلـــي**
**د دلـــــه ملـــــک خـــــاني ده**

**دلتـــه هـــر تـــرازو مـــات دی**
**دلتـــه هـــر وزن بـــې وزنـــه**
**دلتـــه هـــر دکـــان قـــانون دی**
**دلتـــه هـــر سـر خپلســـري ده**

**دلتـــه هـــر بـــدن ســـتومانه**
**دلتـــه هـــر ضـــمير پريشـــانه**
**دلتـــه هـــره رشـــته پـــرې ده**
**د اســـرو ســـره خپلـــوي ده**

www.sikaraam.com

یا

**دلتــه هــر افغــان انګریــز ســي**
**دلتـــه هــر عــرب یهــود ســي**
**د مــردۍ جــوهر نــابود ســي**
**مـــړه هـــوا یـــې اثـــري ده**

## ۱۵. د عطايي ملا د شعر فورم او شکلي جوړښت

د عطايي ملا د وخت ضرب شعرونه زياتره د غزل په فورم کي ويل شوي او ايجاد شوي دي، غزل هم اکثره يې په اوږده سيلابيزه جوړښت. په پای کي ډېر لږ شعرونه ازاد او يا له ويل شوي قيد نه بهر دي، د عطايي ملا شعر کي له ورايه جوتيږي چي د هيڅ پښتون شاعر تر اغيز لاندي نه دی او نه يي هم تقليد کړی دی، هغه شعر ته په يوه ځانګړې مانا ګوري، شعر هغه ته د نفسياتو او رواني حالاتو بيان او تصويرونه دي، سمه ده چي هغه د لايق ليوال دی او د غني خان شعر يې خوښيږي،

د غني رندي او په مثبته مانا بې باکي يې خوښيږي خو هيڅکله د بل چا په پل پل نه ږدي ، ځيني کسان د دواړو پرتلنه کوي، زه دا پرتلنه لازمه نه بولم، تر کومه ځايه چي ما د غني په شعر کار کړی دی، هغه د زمان او وختونو يوجلا موهبت دی، هغه لکه بودا چي پادشاهي تاج يې پريښود او ملنګي يې غوره کړه، خو عطايي ملا د وخت له ضربونو لاندي او به ليدلي پولاد (پولاد آب ديده) دی ...

د هر پښتون ځوان نسل شاعرانو باندي د لايق يو اثر شته، کيدای شي د عطايي ملا په لومړيو شعرونو کي هم تر سترګو شي خو هيڅکله د حکم لپاره ځای نشته، چي ګواکي عطايي ملا دي د چا تقليد کړی وي.

یوه خبره دا هم ده چي عطايي ملا یې د شهرت لپاره او د اثارو د زياتولو لپاره لکه چي دود دی، شعر نه پنځوی بلکې دا خبره صدق کوي چي يو شاعر وايي:

**چـې پـرې غـم غلطـوم درې مـې همـدم دي**
**يـو قلـم، دويـم کتـاب، درېـيم اشـعار خپـل**

عطايي ملا د خپلو شعرونو په ساتلو او خوندي کولو کي هم پاتي راغلی دی، ډېر شعرونه يې ورک شوي دي.

هغه د اروا ښاد **سخي انتظار سلطانپوري** د خبري په مصداق سره چي يو وخت يې د «زيري» په جريده کي د يو شاعر په هکله ليکلي وو:

«کله په کومه څلورلاري کي دغه شاعر درسره مخامخ شي نو سملاسي زړه کتابچه راباسي او خپل څو وراسته او له موده پاتي شعرونه درباندي اوروي.»

خو عطايي ملا دا کار نه کوي، دی شعر چا ته د اورولو لپاره هم نه ليکي بس هماغه اوله خبره ده ، نه پرې شهرت ګټي او نه پرې ثروت، نه د چا پروا کوي او نه د چا خيال، يوازي شعر وايي او ليکي او د شعر د رب النوع عبادت کوي، نو ځکه خو يې زه وهڅولم چي څه پرې وليکم.

**پايله**

عطايي ملا يا د تېر دوران **هادي سهيک عطايي** چي يو وخت د انقلابي او هېوادپال غورځنګ له سرلارو څخه وو، په تدريج يې خپله ځواني د دوهۍ په اور کي کېښوده، خپله ورته کښيناست ، شاعر په داسي حال کي چي د خپلي مستي ځوانۍ لوګيو ته هم ګوري، د خپل ارمان او ايديالونو لوګيو ته هم ګوري سترګي يې د خپلي ځوانۍ په لوګيو اوښکي کوي، هغه

مبني، خو کله ناکله قلم را واخلي او له هماغه تورو لوګیو نه کلمې جوړي کړي ، کلمو ته کښیني او د تسبیحو د مریو په څېر یې د فکر په تارونو کي پېودي ، اوږد زنار ترې جوړوي، بیا یې په غاړه کي اچوي ، خپل کچکول هم را اخلي، امسا لګوي ، ګوري چې ځواني یې لوګی شوه ، کومه مدینه فاضله چي هغه یې ارمان درلود هغه هم وسوځیدله ، ورو ورو د دوهی له غاړي پاځیږي، سترګي مبني، خپل کچکول ته ګوري چي له څو غزلونو نه پرته نور په کي هیڅ نشته، تش کچکول، خو له ځان سره وایي:

«په تا کي هیڅ نشته خو یوه امپراتوري درکي پرته ده د غرور، متانت او معرفت امپراتوري.» دا امپراتوری لښکري او جنګیالي نه لري، خو قلمرو یې ډېر پراخ دی، پادشاهي یې ستره ده نو پروا نه کوي زما همدا بس دی.

هغه په لاره درومي خلک یې د غزلو او شعرونو ننداره کوي، چې څومره دروند پیټی یې په اوږو دی، خو هغه وایي چي په دې کي څه شی نشته . خلک وایي په دې کي ستا ځواني او عمر پروت دی، ستا احساس په کي پروت دی، ستا دردونه او کړاوونه په کي پراته دي، نو ځکه خو یوه په زړه پوري هستي ده، شاعر یوازي همدومره وایې:

**وخت باچا شانته روان دی، ژوند مجبور اسیر غلام دی**
**زه یم ناست تلم کلونه، ښادي پاو خېژي غم سېر وي**
**خپله خاوره مور چې نه وي، د بل فرش د ګلو څه کړم**
**د میرې بالښت اغزنه! خوب دي نسته بس شپه تېر وي**

**پای**

www.sikaraam.com

## سرچینې

۱. آشوري، داریوش. عرفان و رندی در شعر حافظ، نشر مرکز. ۱۳۸۲.

۲. احمدي، بابک. حقیقت و زیبایی (درسهای فلسفۀ هنر)، نشر مرکز، ۱۳۷۴.

۳. ادونیس، علي احمد سعید. تصوف و سورریالیسم، د ډکتر حبیب الله عباسي ژباړه، نتشارات سخن.

۳. زرین کوب، عبدالحسین. شعله طور (درباره زندگی و اندیشه حلاج)، تهران.۱۳۸۹.

۴. سارتر، ژان پل. دوزخ. د سمندریان ژباړه، څلورم چاپ، نشر قطره، ایران، ۱۳۹۷.

۵. شایګان، داریوش. بتهای ذهنی و خاطره ازلی، نشر فرزان، ایران، ۱۳۹۳.

۶. شمیسا، سیروش. نقد ادبی، څلورم چاپ، انتشارات فردوس، ۱۳۸۳.

۷. ، د وخت ضرب، لومړی چاپ. څلاند صحاف خپروندیه ټولنه، کوټه جنوبي پښتونخوا، ۲۰۱۵.

۸. نامداریان، تقي پور. رمز و د استانهای رمزي در ادب فارسي. نشر شرکت انتشارات علمي فرهنګي. درېیم چاپ. ۱۳۸۶

۹. هدایت، صادق. بوف کور، انتشارات ارزان، سویدن، ۱۳۸۹.

www.sikaraam.com

۱۰. لایق، سلیمان. کیږدی، د افغانستان د علومو اکادیمي، دویم چاپ.

۱۱. کرګر، محمد اکبر. د نوستالژي یا تېر ارمان، هاشمی خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۸.

۱۲. یونګ، کارل ګوستاو. روانشناسي ضمیر ناخود آگاه. اتم چاپ- انتشارات علمي فرهنګي.۱۳۹۷

www.sikaraam.com

## دوهمه برخه

# د عشق کرامات

# د اشراق (روښانتیا) حماسه

www.sikaraam.com

## د ملا

## کتاب

مینه، حسن، رنګ او لاره ده رمزونه
زړه او سترګي، روح او ژوند خیالي نومونه
کتاب ټول د لا، لا څلور سبقه
هستي ټوله د نیستۍ وهمي شعرونه

www.sikaraam.com

## ملا او د روښانتیا یا اشراق حماسه

د منظومې یا حماسې له مدخل نه پیل کوو، دوه کرکټره چې یو له بله پوښتنه کوي، د رازونو او رمزونو پوښتنه، د تېرو تجربو پوښتنه، د غمیزو او فریادونو پوښتنه...

اثر سمبولیک او له رازونو او رمزونو ډک دئ، زیاتره عرفاني اثار له سمبول او رمز نه مالامال دی، دا اثر هم داسې یوه شتمني ده، په ظاهر کې د اثر دوه کرکټرونه یعنې« **طالب**» او «**ملا**» دي خو د متن په راسپړنه کې یو کرکټر دی، یعنې پخپله ملا چې یو مهال طالب وو او د ملايي پړاو ته رسېدلی دی، خو پوښتنه دا ده چې ولې شاعر د ملا او طالب مفاهیم یا نومونه غوره کړي دي؟

هم دارنګه د اول سبق په پای کې« **رڼا**»«**مینه** »«**وفا** »«**حیا**» او« **جنون**» هم تمثیلیږي.

خو د یادو دوه کرکټرنو په اړوند بله پوښتنه دا ده چې ولې د خپل خیال او ایماژ د روند پیټی د دغه دوه کرکټرونو په اوږو پر مخ وړي؟ او که په بل عبارت یې ووایو ولې یې دا د روند خیالور پیټي او بار ته د خیال په وزرو جسماني شتون ورکړی دئ؟ که د زمان په اوږدو کې یې وګورو نو د زلمیتوب زمان د زړښت او بوډاتوب نه پوښتي.

یو روح دی، یو سرګردانه او د وخت تر ګوزارونو لاندې ریز مریز روح

چي په جسماني او فيزيکي څېره کې يې د وخت او زمانو داستان غځوني کوي، داستان د ناخوالو، له هېواده او له کلي کوره د پردي کېدو په دښتو او ساراوو کي د سر کيدو، په نااشنا توګه د ميلمه کېدو د غربت په د سترخوان د ميلمه کېدو داستان دی، شاعر دوه نومونه غوره کړي دي، دا دوه نومونه په اوږده داستان «**کتاب**» کي د اوسني پېر د سياست لوبغاړي نه دي چي د آدم د اولاد سر پريکوي او د «**الله اکبر**» ناره پر کوي،چي پسه حلالوي هم دا شعار ورکوي...

دا دوه نومونه په کتاب کي د جهالت عيني سمبولونه چي هم دا اوس يې په هېواد تناب اينبی دی او په دوښمن يې پلوري دغه ډول ملا او طالب نه دي بلکې شاعر د دې دوه نومونو په محتوا پسي زموږ د لرغوني فرهنګ ژورو ته ورکوزيږي، هلته طالب پُر وسواسه او د پوهيدني او احساسولو ليونی ذهن دئ، غواړي په شيبو کي د ژوند په معما ،په سر او پای پوه شي . خو ملا د سختو تجربو، ليدنو او کتنو پوهي او تفکراتو سيلانی دئ، دواړه پردي دي دواړه نااشنا دي نا اشنا په دې مانا :

**زه هـــم ســـتا شـــانتي پـــرديس يـــم**
**زه هـــم ســـتا شـــانتي پـــردی يـــم**
**زه هـــم ســـتا شـــانتي يـــوازي**
**د ژونـــد ســـتړی لاروی يـــم**
**خـــو تـــه زوړيـــې د وختونـــو**
**زه د وخـــت تنکـــی زلمـــی يـــم**

د پرديتوب مسأله په زړه پوري ده، پرديتوب يوازي په يو تن او جسم پوري نه دی بلکې د نورو په وړاندي يو احساس دئ. ژان پل سارتر وايي:

«زه د دې لپاره چې د ځان په باب په هغه یاد حقیقت پوه شم نو باید له نورو تېر شم ، نور یا «**بل**» زما د وجود لازمه ده، همدارنګه هغه پېژندنه چې له ځانه یې لرم د بل د وجود لازم دئ. په دې شرایطو کي زما د خپل «**ځان**» د کشف او په عین حال کي د «**بل**» د وجود د کشف سبب کیږي.

هغه وجود چې زما په وړاندي لکه اختیار موجود دئ او د هغه اندیښنه او لېوالتیا له دې پرته بل څه نه دي، چې زما موافق یا مخالف وي.

په دې اساس موږ په سملاسي توګه داسي نړۍ کشفوو چې د متقابلي دننه پالي (درون ګرایي) په نوم یې یادوو، په هم دې نړۍ کي ده چې انسان پرېکړه کوي چې خپله څه دی او نور څه دي؟»(۱: ۸۵)

په یاد مدخل کي ګورو چې شاعر خپله پردیسي او خپل پردیوالی او غربت احساسوي، د هغه پردی والی د هغه له غربت او پردیسۍ نه سرچینه اخلي، د هم دې مدخل په بل بند کي په داسي حال کي چې ځان،ځان ته مخاطب دی وایي:

**زما د پلار مینه په راسي**
**خو ته هغه شان هم نه یې**
**هغه تېول عقل او حلم**
**ته اوتر شانتي ښکاریږې**

دلته د فروید مشهوره خبره یاد ته راځي چې وایي:

«والدین د خپلو اولادونو په وجود کي له سره یا له پیله خپله ځوانيویني، دا یوه ستره ثمره ده چې له بچیانو څخه مور وپلار ته رسیږي.»(۲: ۲۴)

دې کي شک نشته چې زوی په زړښت کي د پلار څېره خپلوي خو دلته د

اوتر د کلمې خطاب هماغه پردیسي او پردی والی انځوروي ،طبیعي خبره ده کله چې د انسان تفکرات او خیالات یا ژور فکرونه د دې سبب شي چې انسان وپېژني او په انسان متمرکز شي، نو له نورو انسانانو سره یا له معمول تولني سره واټن او فاصله پیدا کوي، هم دغه واټن د دی سبب کیږي چې بیرته په خپل ځان یا تن کي سفر پیل کړي، زلمی روح خپله وروستۍ پوښتنه په دې ډول مطرح کوي:

**لږ مې پوه د ځان په خوله کړه**
**لږ مې سوال د ذهن حل کړه**
**که ملنګ د افسانو یې**
**نو په دې وره کې هم هل کړه**

***

## ځان پېژندنه

په ترتیب سره د خبرو وار عمر خوږلي لوی کمیسي ببرسري ته رسیږي، هغه خپل داستان وایي، ځان راپېژني، د سمبولونو او رمزونو په ژبه داستان وایي:

**زه شـــپونکی د ورکـــو هیلـــو**
**زه قاصـــد د ګـــونګي مینـــي**
**زه داســـتان د هیـــرو ورځـــو**
**زه کـــاروان د تللـــو شـــپویـــم**

په دې ډول پوخ عقل یا با تجربه روح او روان خپل داستان وایي، هغه وایي له لیري را روان یم ژبه مې د رمزونو ژبه ده، عقل مې محصور او بندي دی، ذهن مې مجبور دی، مینه مې ورکه شوې، رنګ مې خپل رنګ له لاسه ورکړی او بې رنګه شوی دی، د زړه د ښار حکیم او د سترګو د کور غل، په

دې ترتیب هغه د محسوساتو عالم ټکي په ټکي بیانوي، عامل یې هم په ګوته کوي، ځان د لالا لیونی او د خان مجرم بولي او په هم دې لړ کې ځان او کلمات په لاشعوري توګه په شعر کې لاره پیدا کوي، لکه:

**زمــا وطـــن د جنـــون دښـــته**

**ټولـــوم کـــاڼي ویشـــتو تـــه**

**اوبـــه وم ریښـــې د ګرګـــو**

**ورکـــوم ژبـــه اغـــزو تـــه**

هسې خو که لږ څه ځیر شو شعر د شعور او تعقل په ژبه حرکت نه کوي، هغه ژبه چې له هنرمند او شاعر سره د هغه په روح او روان کې ځاله کړې، کلی یې کړی،(کلی کور) ښار یې جوړ کړی او د کاغذ پر مخ د سیلاب په څېر لاره پیدا کوي، د **کلماتو** او **تصویرونو اواز** درته یادوم.

یوازیتوب ګوښیوالی نه دی، ګوښیوالي یوازیتوب ته اړتیا لري، په داسي حال کې چې یوازیتوب ځان په مشخصه توګه د ټولنې په منځ کې ښکاره کوي، کېدای شي ګوښیوالی په یوازیتوب بدل شي، دا پېښه هغه مهال رامنځته کیږي چې زه له نورو لیري او په ځان کې دننه شم، هغه څه چې یوازیتوب له زغمه بهر کوي هغه د ځانولۍ د اواز نشتوالی دئ. په عرفاني دونیا کې او د سېر و سلوک په لاره کې د **ځان** مفهوم ورو ورو نفي کیږي ، **ځان** نفي کیږي او په یو بله دونیا کې ورکیږي.

خو حماسي شاعر په خپله حماسه کې له بیلابیلو پړاوونو تېریږي، خپله نوستالژي او د هغې عوامل چې یو یې هم یوازیتوب دی، نه پټوي، سره له دې چې په پوره قوت د راز و رمز ژبه کاروي وایي:

**زمــا وطـــن د جنـــون دښـــته**

ټولـــوم کـــاڼي ویشـــتو تـــه
اوبـــوم ریښـــې د ګرګـــو
ورکـــوم ژبـــه اغـــزو تـــه

---

زمـــا هنـــر د بـــت نځـــا ده
د بـــــلا لـــــه برکتـــــه
زمـــا ذوق لـــه خلکـــو تیښـــته
د مـــــلا لـــــه نصـــــیحته

په دې حماسه کې په روښانه توګه لیدلي شو چې شاعر د خپل خیال او ذهن په قوت یو داسې وطن جوړوي چې هلته جنون او لیونتوب حاکم دی، د ګرګو ریښې اوبه کول اغزو ته ژبه ورکول، د بت نځول، ټول او ټول د بلا له برکته، خو ذوق د خلکو او د ملا له نصیحته تیښته ده.

شاعر ته د ژوند او د ژوند د ظواهرو لوبه چې په عیني نړۍ کې روانه ده له یو عبث او ابسورد کار پرته بل څه نه ده. له دویمې نړیوالې جګړې وروسته په اروپایي لیکوالو او شاعرانو کې د نهیلۍ او نا امیدۍ یوه څپه راغبرګه شوه، په خپلو اثارو کې یې ژوند یو ډول عبث او بې مانا لوبه وبلله، تر زیاتې اندازې دا جریان د البر کامو او نورو لیکوالو په اثارو کې لیدلی شو خو پاتې دې نه وي چې هغوی هم د خپل فکري خط نه ځانګړی تاویل او تفسیر لري، البر کامو وایي:

«تجربه نه هڅول کیږي بلکې په سرې راځي په واقعیت کې صبر او زغم دی نه تجربه. مو یږ یې زغمو یا په بل عبارت تېروو یې.»(۳: ۱۱)

ځوان او پُر وسواسه ذهن د مجرب او د عمرونو ستونزو کړولی ذهن و

www.sikaraam.com

خیال ته د هغه د ځانګړنو ستاینې په مخ کې بدې ، عشق ور یادوي د رمز او عرفان ژبه، د حسن په ادا مستي، په بېرنګۍ کې
د رنګ اسارت او نور ورته په مخ کې بدي ورته وایي چې کارونه او چارې دې قلندري دي د عقل سرچینه يې . ته د هر چا او د هر لاروي او د هر تږي لاسنیوی کولی شې . خو، بیا هم له هغه څخه د رازونو د راسپړلو استدعا کوي.
شاعر په هره برخه کې د رمز او راز د سمبول او اشارې د نښانې او استعارې له مفاهیمو زینه جوړوي او په پاټکو یې اسمان ته خېژي، هغه ځای ځای د ژوند او ملا تکې یادوي یا دا چې وایي: «**ما ته پلار هم وړوکتوب کې څه درسونه دي ویلي**»

**یا**

**بابا ولاړی زه تنها شوم**

**د دونیا په جنجالونو له سبقه راجلا سوم**

موږ د کتاب د منظومې چې وروسته ورته اشراقي حماسه وایو په بار بار دا خبره تکراروو چې په هره برخه کې یوه قوي نوستالژي ګورو که هغه د کتاب ده، که د زده کړې ده، که د پلار مینه ده او که هېواد دی، ټول او ټول د یو هدف په لور برابروي نو ځکه مجرب ذهن کې د شعور له تله د تائید اواز راپورته کېږي، په یوه شرط هغه څه وایي چې په روح او روان کې یې له کلونو راهیسې او که د یونګ په ژبه یې ووایو د تېرو اسلافو او نسلونو یادوني او غوښتني رابرسېره کوي، په هم دې ټوله لړۍ کې د رمز او راز په ژبه تائید کوي:

**د روښـــانتیا حماســـه او شـــوقي**

www.sikaraam.com

## عرفان

د نظري او شاعرانه عرفان یا د «**ذوقي عرفان**» یوه ځانګړنه دا ده چي سیستماتیک بنسټ نه لري

سره له دې چي د دې ډول عرفان له پیدا ښت نه په وروسته دوران کي د دوه نورو سیستماتیکو او نظري عرفاني جریانونو لکه د « **شیخ شهاب الدین سهروردي**» او « **شیخ اکبر محی الدین عربي**» له نظریاتي جریانونو سره ذوقي عرفان هم نږدې شو خو په لومړي سر کي تر زیاته حده په زهد او پرهیز ګارۍ، د خدای سره په مینه، له دوزخ او اخیرت نه په ډار کي غرق وو. یاد بهیر له درېیمي هجري پیړۍ نه وروسته په ادبیاتو کي وځلېده چي په پیل کي زیات د سالکانو او د قران او احادیثو په ارشاداتو متمرکز وو.

هغه عارفان چي په ریاضت بوخت او له دونیا په تېښته وو، ډېر عمده اصل ورته دا و چي ځان د خدای مطلقي ارادې ته چي د کلام لوړه مرجع ده تسلیم کړي، له هم دې امله دوی بل کوم کتاب او د لوستلو او معلوماتو مواد نه درلودل بلکې په پرله پسې توګه یې قران لوست، په دوه درېیو پېړیو کي یې د انسان او خدای رابطه د قران له نصوصو تاویل کړه، دوی ته ډېر عمده او اساسي سند، د آدم خلقت و و چي د هغه په اثر یې له خدای نه بې کچي ترهه او ډار څرګنداوه، ورو، ورو داسي تاویل ته ورسیدل چي خدای هم له انسان سره عشق لري او انسان ته مشتاق دی نو هغوی په هم دې بنیاد د هستۍ او د خلقت رموز او اسرار تعبیر او تفسیرکړل. د دې ډلي په نظر که هستي کوم هدف او موخه لري نو له عشق پرته بل څه نه دي. په هم دې اساس ده چي د وچو او نسبتاً متحجرو صوفیانو له منځه د ښه ذوق او شاعرانه

www.sikaraam.com

سلیقې خاوندان له خدایه ترهیدلي عارفانو له ډلي رابهر شول...

په شرقي ادبیاتو کي په تېره عربي، فارسي، پښتو او وروسته په اردو کي داسي با ذوقه شعر رامنځ ته شو چي د حماسې او خطابې په ژبه او قالب کي ایجاد شوی وو، نه یوازي په شعر کي بلکې په نثري اثارو کي هم دا خط پر مخ ولاړ...

د مثنوي، غزل، قصیدې او نورو فورمونو د ایجاد په برخه کي ډېر مثالونه لیدلی شو، روښانیانو نه هېریدونکی کار وکړچي په وروسته شاعرانو ان خوشحال خان په اثارو کي یې هم اثر پروت دی، رحمان بابا چي د عوامو او د ولس د اخلاقو د ښوونکي حیثیت لري هغه ته هم صوفي وویل شول او ویل کیږي.

دغه صوفیان چي د ذوق خاوندان دي، د عارف عنوان ورته ورکړل شو، هر څومره چي دوی د ایمان او ذوق له شوره او وجد نه ډکیده له شعر او شاعرۍ سره یې تړاو زیاتیده او څومره چي شاعران شول نو ومره له زاهد او شیخ سره په شخړه واوښتل «**رندانه**» ځانګړني یې خپلي کړې ا و هر څومره چي د شاعرانه روح پالنه او د شاعرانه ژوند منطق ته وروښوئېدل له طبعیت سره یې اړیکي د دې سبب شوې چي د کشف او کراماتو دعوې له ځانه لیري کړي نو له پورتني عالم سره یې د پټې رابطې مفکوره هم لیري کړه، ځمکني شول او له تصوف نه یې شاعرانه پوهاوی پیدا کړ، نو بیا صوفي او زاهد یو له بله سره زیات په شخړه کي ښکیل شول.

***

د ملا **اشراقي یا دروښانتیا حماسه** له مونو لوګ څخه وروسته په سبقونو پیل کیږي.

**لومړی سبق:**

مینـــه تنـــده د دیـــدن ده وصـــل اور دی
وفـا غلـــې لـــه حیـا نـــه جانــان کـــور دی
د لالا ســـــندره بـــــولي لـــــیلا ورکــــه
مجنون خاوري ښکلوي مطلب يې نور دی

دوهم سبق:

د صـورت د بـت لـه سـتر ګو فتنـه پـاڅي
نظـر ماتــه ائینــه کــړه صــورت څــاځي
خـان د خـط انـداز راوړی انـداز بـل شـو
د جـلال پـرده کـې نغښـتی جمـال نـاڅي

دریم سبق:

د وحـدت لـه جبره شپه د رنـګ تیـاره ده
د کثـــرت پـــه ادا ورځ خانـــدي نشـــه ده
دا چـې ښـار د عقـل وران جنـون پاچـا شـو
دا بـــلا لـــه کومــه راغلــه څــه کیســه ده؟

څلورم سبق:

لار تـــدبیر ویرانـــه کـــړې قـــدم ګـــوره!
د ثـــواب لـــه ګنــاه تښــته صــنم ګــوره
طالبــانو د محــراب ډیــوې کــړې تتـــي
مـلا ځـان لـه پـه دوهـۍ کـي همـدم ګـوره

***

د سوریې مشهور عالم او فیلسوف «**ادونیس علي احمد سعید وایي**»
چي هیڅوک د دې وس نه لري چي د نغمو د اوریدو په مهال له هغه څخه د

www.sikaraam.com

راپیدا شوي خوشحالۍ او غم اغېزه له ځانه لیري کړي، په ځانګړې توګه کله چې په مناسب رنګ رامنځ ته شي

د ابن عربي له نظره الهي حقایق چې نغمې په هغو تکیه کوي او ورپورې اړه لري، د هغه حقایقو په نسبت چې کلام پرې تکیه کوي، ډېر قوي او ځواکمني دي، په دې اساس هستي په ټوله کې د «کُن» د کلمې په اورېدو تکیه کوي.

د یاد فیلسوف په نظر، عشق درې پړاوه لري:

«الهی عشق «روحاني او «طبیعي. الهی عشق په انسان کې د خدای او د خدایي عشق په انسان کې تمثیل کیږي دویم ډول یې د معشوق د خوښۍ لپاره تمثیل پیدا کوي، په داسې ډول چې عاشق له معشوق سره په خپله رابطه او نسبت کې غرض او اراده ونه لري، خو په درېیم پړاو کې طبیعي عشق ټولو اغراضو ته په رسیدو کې تمثیل پیدا کوي که دا کار معشوق خوشحالوي او که نه یې خوشحالوي.»(۴: ۱۲۷)

په دې اساس د یاد پوه په باور معشوق په طبیعي عشق کې د ځان په خاطر د محبت تر اغېز لاندې نه راځي بلکې د هغه برخمن تیا او خوند له امله تر محبت لاندې واقع کیږي، دا هغه حقیقت دی چې روحاني او الهی عشق ته هم سرایت کوي، د طبیعي عشق موخه او غرض اتحاد دی، داسې چې د عاشق روح د شهوت د هڅولو لپاره معشوق ته یو روح وي.

د روښانتیا په حماسه کې لومړی سبق هم د میني یا عشق په باب دی، شاعر د میني یا عشق د اسطورې بنسټ رابرسېره کوي، هغه راسپړي او د خلقت په اسطوره کې د میني یا عشق داستان بیانوي، شاعر وایي:

**مینــه تنــده د دیــدن ده، وصــل اور دی**

**وفـا غلــې لــه حیانــه جانــان کــور دی**

**د لالا ســــندره وایــــي لــــیلا ورکــــه**

**مجنون خاوري ښکلوي مطلب یې نور دی**

د یاد سبق د ښې روښانتیا لپاره به بده نه وي چې یو څه د خلقت اسطورې ته مخه کړو.

مشهور ایرلیندي لیکوال« **جیمز جویس** »په خپل اثر «په ځوانۍ کې د هنرمند سړي څېره» کې لیکي د پیدایښت سفر چې په سپېڅلي کتاب کې راغلی دی، ښایي موږ ته له دې امله هم په زړه پوري وي چې څه پېښه په بې زمانۍ او بې مکانۍ کې تېرېږي.

په لومړي سر کې خدای آسمانونه او ځمکه هست کړل (مطلقه بې مکاني وه د آسمانونو او د ځمکې له خلقت څخه تر مخه) ځمکه شاړه او وچه وه او تورتم پرې خپور وو، د خدای روح د اوبو سطحه ونیوله، خدای وویل روښنایي دې شي او روښنایي شوه، ماښام وو، سهار وو په لومړۍ ورځ (د شپې او د ورځې له پیدایښت تر مخه مطلقه بې زماني) دا د لومړۍ ورځې پېښې دي خو دا ورځ څو ساعته اوږده وه، یو ساعت دوه ساعته! یو کال! یوه پیړۍ، یا یوازې یوه شپه او ورځ یا څلورویشت ساعتونه؟ وګورئ په پنځمه ورځ دا تول زیږون (تول بې شمېره حاصل) په یوه ورځ! نو د پیدایښت سفر په هم دې دلیل د ځانګړي مکاني او زماني منطق په اساس حرکت کوي...

شپږمه ورځ له ټولو ورځو بې جوړې ده، دا ځکه چې په دې ورځ خدای انسان (ځان ته ورته او له ځان سره موافق) هست کړ، انسان په هم دې ورځ بلوغ ته

رسیږي خپله جوړه پېژني.

یوه ډېره مهمه او اساسي خبره چي په هم دې داستان کي شته هغه د انسان خلقت دی، خدای ته ورته، په تورات کي لولو:

«پس خدا آدم را بصورت خود آفرید او را بصورت خدا آفرید. ایشان را نر و ماده افرید، و خدا ایشان را برکت داد و خدا بدیشان گفت: بارور و کثیر شوید و زمین را پر سازید و در ان تسلط نمایید و بر ماهیان دریا و پرندگان آسمان و همه حیواناتي که بر زمین می خزند حکومت کنید. (۵: ۲)

په بله برخه کي وایي:

«خداوند خدا پس آدم را ازخاک زمین بسرشت و در بیني وی روح حیات دمید، آدم نفس زنده شد. (۵: ۲)

هغه څه چي مو دمخه په لنډ، لنډ ډول وویل د دې داستان ځینو خواو ته اشاره ده، خو هغه څه چي زموږ د ملا د روښانتیا د حماسې د راسپړني لپاره اړین دي د هم دغه خلقت عرفاني جوړښت دی، په تېره برخه کي مو ورته اشاره وکړه چي اسلامي صوفیانو او عارفانو دغه خلقت د میني او عشق په بنیاد تاویل او تفسیر کړ.

دې کي شک نشته چي شاعر مینه د دیدن تنده بولي، یعني تنده، اشتیاق او بې پولي او بې سرحده لیوالتیا، په عرفاني ادبیاتو کي د هم دې تندي او د هم دې میني او عشق سرچینه په هماغه رباني روح کي ده، چي په آدم کي یوه «**پُف**» شوه او هغه ته یې نفس ورکړ...

شاعر هم وایي په لومړی ورځ خټه وه، ساده خټه، له سپېرو خاورو جوړه وه خټه پخه شوه، نو د روح په پوف کولو سره تنده هم پکي پیدا شوه، هم دې تندي د ښکلا او ښایست ملکه هم په انسان کې وزېږوله، کله چي ښکلا وزېږېدله او د خدای مثال« **انسان**» په خپلو پښو ودریده، نو خدای خپله

خدايي، قوت او وس، درک او احساس هم ور وبانبه، انسان د دې لپاره چي کائيناتو ته خدايي عظمت ور وښيي، د دې وس يې پيدا کړ او خپل رسالت يې وپيژانده، د حافظ دا غزل په هم دې برخه کي مسلې ته ښه اشاره ده.

**دوش ديـدم کـه ملايـک درميخانـه زدنـد**
**گـل آدم بسرشـتند و بـه پيمانـه زدنـد**
**سـاکنان حـرم سـتر و عفـاف ملکـوت**
**بـامن راه نشـين بـاده مسـتانه زدنـد**
**آسـمان بـار امانـت نتوانسـت کشـيد**
**قرعـه کـار بـه نـام مـن ديوانـه زدنـد**
**جنـگ هفتـاد و دو ملـت همـه را عـذر بنـه**
**چـون نديدنـد حقيقـت ره افسـانه زدنـد**
**شـکر ايـزد کـه ميـان مـن و او صـلح افتـاد**
**صـوفيان رقـص کنـان سـاغر شـکرانه زدنـد**
**اتـش آن نيسـت کـه از شـعله او خنـدد شـمع**
**آتـش آن اسـت کـه در خـرمن پروانـه زدنـد**
**کـس چـو حـافظ نگشـاد از رخ انديشـه نقـاب**
**تاسـر زلـف سـخن را بـه قلـم شـانه زدنـد**

په کائيناتو او موجوداتو کي هيڅ موجود او شته وې دا رسالت قبول نه کړ بلکې يوازي انسان وو چي دغه ستر امانت ته يې اوږه ورکړه، د هم دې امانت اخيستلو منشا او سر منشا عرفاني عشق يا مينه بولي ...

شاعر د روښنايي او رڼا خبره يادوي، کومه چي موږ تر مخه بحث کي ورته اشاره وکړه، هم دا رڼا يا نور چي د ذات الهی سمبول او رمز دی، خپل

www.sikaraam.com

اختیار میني یا عشق ته سپاري، په هم دې برخه کې له یادي افسانې راجلا کیږو او عرفاني یا صوفیانه نړۍ ته مخه کوو، په عرفاني دونیا کې عشق اساس وصلو ونکی مفهوم دی چې د عارف د تعالي سبب کیږي.

مینه یا عشق وايي:

**«واورئ واورئ! خلکـــــــــــــــو واورئ**

**دوجـــــود (!) د بنـــــار بنـــــاغلیو!**

**نـــــور زمـــــا دواک بـــــولی ده**

**تـــول زمـــا فرمـــان تـــه غـــوږ ســـی»**

## اشراق او روښانتیا یا رڼا

په عرفاني تغزلي شعر کي شاعرانه عرفاني روح خپل اوج ته رسیږي، او د باوري کولو له قدرت نه پوره ګټه اخلي، دا کارخو نه په دلایلو ترسره کیږي او نه خو د استدلال او منطق له لاري بلکې داحساس د راپارولو له لاري کیږي...
ګورو چې په زاهدانه عرفان کي له خدایه وېره او ترهه، ډار او د د وزخ له عذابه وېره عارف دې ته رابولي چي په وروستي پړاو کي عبادت او زهد ته پناه یوسي خو له هم دې ډار او ویري یو بل څه زیږي او هغه له خدای سره عشق، مینه او په نهایت کي له هغه سره وصال یو اروا پوهنیزه لړۍ ده، چي د «**ځان**» په نفي کولو سره په ویري او ترهي غالبیږي...
خو هغه لاره چي صوفیانو غوره کړې هغه د بې نهایته عشق لاره ده، دا یوه عجیبه او حیرانوونکې لاره ده، صوفیان او عارفان د الهی کلام په وار وار لوستلو سره یو نوی څه کشفوي خو د عشق او وصال په برخه کي د عارفانو لاره حیرانوونکې ده، هم دارنګه په دې برخه کي ډېر حساس او باریک لیده هم دي، په ناپایه زاهدانه زغم، صبر او ریاضت سره یو پټ داستان کشفوي، چي په تاویلاتو کي یې هم لیدلی شو، د مثال په توګه د عارفانو په باور ګناهکار آدم په مخکیني بېګناه آدم چي ګناه او سرغړونه یې نه وه کړې، برتره او غوره بولي، په ملایکو هم برتري پیدا کوي، د خدای اوا نسان د میني پیښه د یوې پټې ازلي پیښي په توګه رابرسېره کوي او تفسیر یې کوي، دلته ده چي دونیا دوښمنه او اخرت پالو لومړنیو عارفانو، زاهدانو له

www.sikaraam.com

بحث څخه د صوفي شاعرانه دونيا رابرسېره کيږي چي له «**ازلي محبوب**» سره د وصال مينه له دواړو جهانونو څخه مخ اړوي او سترګي د «**يار**» په لور ګنډي، نو د هم دغه عارفانه او عاشقانه خبرو او د هغه له بطن څخه او په عين حال کي د يوه نفي پوښتنه مطرح کيږي او هر پړاو کي د ترمخه پړاو نښي نښانې له ځانه سره لري.(۶: ۱۷۶)

يوه بله مساله چي يادښت يي اړين دی هغه دا دی چي عارفانه فرهنګ په اسلامي بڼه کي د زهد او رياضت په بستر په دويمه او درېيمه هجري پېړۍ کي وده وکړه او په تدريج سره د ويري او ترهي له داېرې څخه د عشق او د وصال په لور پر مخ ولاړ چي د سترو ادبي او شاعرانه شاهکارونو د ايجاد سبب شو، خو پاتي دې نه وي چي کله د ختيځ په لور راوغځېد دلته په او سني افغانستان، ايران او هند کي له «**مانوي**» او « **بودايي** »رهبانيت سره يو ځای شو، يوه ځرګنده بېلګه يې شاعرانه حماسي ژبه ده...

په هم دې سنت کي زاهدانه ډار په عاشقانه شور بدليږي او څومره چي پر مخ ځي اوج نيسي، د دې روح زمينه د صوفيانه تاويل له مخي د «**هبوط**» پېښه ده، يا د آدم په تن کي د روح د سفر حماسه ده او بيرته خپل اصل ته په ستنېدنګ باندي بدليږي، دا تاويل د څلورمي پېړۍ د لومړيو صوفيانو په اثارو کي رامنځ ته شو چي د «**منصور حلاج**» د صوفيانه عشق او سربښندني سبب شو. په صوفيانه ادبياتو کي د دې عشق ډېر ستر سمبول هم دا د منصور عشق او سربښندنه ده.(۶: ۱۷۷)

د روښانتيا په حماسه کي عشق او روښنايي خوا په خوا او په موازاتو کي پر مخ ځي او يا په بل عبارت يو د بل ځای نيسي، عشق دی چي روښانتيا پلنوي او روښانتيا ده چي د عشق له سرچينې اوبه څښي.

**واوری واوری! خلکـــــــــــو واوری !**

www.sikaraam.com

**دو جـــــود د ښـــــار ښـــــاغليو!**
**نـــــور زمـــــا د واک بـــــولۍ ده**
**ټـــول زمـــا فرمـــان تـــه غـــوږ شـــی**

د هستۍ جهان یا د وجود د ښار ښاغلیو ته خطاب د همدغه لیوني عشق پایله ده چې د هستۍ نړۍ ته خپله نندار ه په مخ کې ږدي، رڼا او روښنایي په اشراقي فلسفه او عرفان کې د یو ځانګړي حالت تمثیل دی، صوفي او عارف ته د وجد او شور په حالت کې د روښنایي یو پړک ورمخ ته کیږي، په هغه کې ټول شته او موجوداتویني، یا نړۍ د یو نور او رڼا په وړانګو کې ویني، یا په بل عبارت یو باطني معرفت ورکوي.

د « **سهروردي شهاب الدین** »یا «**شیخ مقتول**» فلسفه او اشراقي نظریات هم د نور د فلسفې په نامه یادیږي، خو دا نه یوازې د سهروردي په اثارو کې بلکې په هندي عرفان او د یونان په افلاطوني مثل کې هم لیدلی شو، یو غوره مثال یې په بودایي« **ذن** » کې د دې معرفت ښې ښانې هم وینو.

باطني پوهه یا عقل هغه څه دي چې د روښنایي حماسي شاعر یا «**د کتاب ملا**» شور ته د دې منظومې په پای کې ورننږدې کیږي، دې دونیا ته ننوتل او باطني سفر پیلول یوازې زموږ د عارفانو ستونزه نه بلکې په نورو عرفاني ډوله کیتونو کې یې هم لیدلی شو ...

د مثال په توګه «**کارل ګوستاویونګ**» په «**بودایي ذن**» باندې چې د «**د. ت. سوزوکي**» له خوا کښل شوی په سریزه کې دې مسالې ته اشاره کوي چې له هغه وروسته چې ځان مو د «**زه**» د جعلي مفهوم نه خلاص کړ نو لازمه ده چې زموږ باطني عقل چې نګه او سپېڅلی دی او د بودا یا بدی په ذهن یا د « **پراجنا**» په نوم مشهور دی د « **ذن**» د استادانو په وسیله را وینښ کړو.

هغه زیاتوي:

«د دغه باطني عقل په ابعادو کي موږ د ننه الهي او جنتي روښنايي وينو او د هغه د اخلاقي خزانو کيلي لرونکي او د نفوس او قدرت منبع او هم داسي منزلت بولو چي په هغه کي مهر او محبت، عدالت او انصاف، زړه سوی او ترحم، عشق او انسانيت او بالاخره له ټولو سره مهر ځای سي ، نو کله چي دغه باطني عقل په بشپړه توګه راويښ شو ، موږ د دې وس پيدا کوو چي په دې پوه شو چي موږ د يو « **بودا** »د روح له بابته د بودا له نړيوال ژوند سره جوهر او طبعيت يو شان وبولو او موږ هر يو له استثنا پرته له بودا سره مخ په مخ ژوند کوو.»(۷: ۱۱)

«**سهروردي**»: د (عقل سرخ) په رساله کي وايي:

«چون مدتی بر این امد ، قدری چشم من باز گشود ، بدان قدر چشم می نگریستم؛ چیزها می دیدم که دیگر ندیده بودم و از ان عجب می داشتم تا هر روز به تدریج قدری چشم من زیادت باز مې کردند ، و من چیزها می دیدم، که از ان شگفت می ماندم، عاقبت تمام چشم من باز کردند ، و جهان را بدین صفت که هست به من نمودند.»(۸: **۵۳**)

د سهروردي په نظر بيلابيل واقعيتونه له نور يا روښنايي پرته نور څه نه دي، چي د شدت او کمزورتيا له مخي يو له بله توپير لري، واقعيت تعريف ته اړه نه لري ځکه قاعده دا ده چي په پرله پسې توګه تورتم شيان په روښنايي سره تعريف کيږي، څرګنده ده چي هيڅ شی له رڼا او روښنايي نه روښانه نه دی، نو په دې اساس هغه په بل هيڅ شي نه شو تعريف کولی.

د « **داکتر سيد حسين نصر** » په باور حقيقت دا دی چي هر څه د روښنايي په وسيله پېژندل کيږي او څرګنديږي، نو ښايي چي د هغه په وسيله تعريف شي. خالص يا نګه نور چي سهروردي يې «**نورالانوار** »نوموي الهی حقيقت

www.sikaraam.com

دی چي روښنايي د نورانيت د شدت په اساس رڼدوونکې ده، اعلی نور د هر وجود سرچينه او منبع ده دا ځکه چي نړی د واقعيت په ټولو پړاونو کي د روښانتيا او تورتم له درجو پرته بل څه نه دی، د سهروردي خپل کلمات په دې برخ کې داسي دي:

«ذات نخستين نور مطلق، يعنې خدا پيوسته نور افشاني« **اشراق** » مي کند، وا همين را متجلي مي شود، وهمه چيز ها را بوجود مې اورد، وبا اشعه خود به آن ها حيات مي بخشد، هر چيزی د راين جهان منشعب از نور ذات او است، و رستګاري عبارت از وبول کامل به اين روشني است.»(۹: ۸۲)

په دې ډول کله چي د روښنايي د حماسي په هکله خپلي خبري راټولوو، نور ډېر څه د ويلو لپاره هم شته، هلته شاعر د « **وفا**»په باب، د « **حيا**» په باب د « **جنون**» په باب ډېري خبري لري چي بايد وويل شي، دا حماسي منظومه يا د روښنايي حماسه د هغه افسانوي مرغه مثال لري چي له ځمکي حرکت کوي او د لامکان پر لور الوتنه کوي، خپل پيغام په عوالمو کي د ځمکي خبرو او اګاه خلکو ته اوروي، مينه، روښنايي، وفا جنون وايي او په پای کي دا پيغام ورکوي چي نور له خپله تنه را بهر شي :

رڼـــا ننـــګ زمـــوږ د ليـــاري
پـــه هـــر رنـــګ کـــي يـــې جلـــوه ده
لـــــيلا موخــــــه د ســـــــفر ده
پـــــه منـــــزل کـــــي ميلمنـــــه ده
لـــــيلا تنـــــده د طلـــــب ده
پـــــه هـــــر ګـــــام کـــــي راســـــره ده
رڼـــا زمـــوږ د زړګـــــي ســـــترګي
مخکـــي وروســـته ښـــکته پورتـــه

www.sikaraam.com

پـــه هـــر لـــوري يـــې جلـــوه ده
ځـــئ! چـــې وزو لـــه خپـــل ځانـــه
ځـــئ ! چـــې ننوځـــو دونيـــا تـــه
ځـئ! چـي پيـل دا خپـل سـفر کړو

www.sikaraam.com

## ماخذونه

سارتر، ژان پل، اگزستانسیالیزم و اصالت بشر، د مصطفي رحیمي ژباړه، نیلوفر چاپ، ۱۳۷۶.

فروید، زیګموند. توتم و تابو، د محمد علي خنجي ژباړه، طهوري، ۱۳۴۹.

البر، کامو. یادداشت ها (لومړی ټوک - ۱۹۳۵ - ۱۹۴۲)، د خشایار دیهمي ژباړه، نشر ماهي، تهران، ۱۳۹۳.

ادونیس، احمد سعید. تصوف و سورریالیزم. د حبیب الله عباسي ژباړه، تهران، ۱۳۸۵.

تورات، عهد عتیق.

آشوري، داریوش. عرفان و رندي در شعر حافظ (باز نګریسته هستي شناسیس حافظ) نشر مرکز، ۱۳۷۹.

د. ت. سوزوکي. مقدمه ای بر ذن بودیسم، (پیشګفتار کارل ګوستاو یونګ) تهران، ۱۳۸۳.

سهروردي، شیخ شهاب الدین. عقل سرخ. (اثار فارسي شیخ مقتول) ویرایش فرشید اقبال. سبکباران، ۱۳۸۶.

نصر، سید حسین. سه حکیم مسلمان، د ع. احمد آرام ژباړه، څلورم چاپ، ۱۳۶۱.

www.sikaraam.com

د ملا کتاب

مینه، حسن، رنګ او لاره ده رمزونه
زړه او سترګي، روح او ژوند خالي نومونه
کتاب ټوله د لا، لا څلور سبقه
هستي ټوله د نیستۍ وهمي شعرونه

## د منظومې متن

### مدخل:

---

**طالب:**

اې پردیسه، ببرسرې اوږد لمنې
د سفر په دوړو پټې مخ او لاسونه
زخمي پوندي، وچي شونډي
هېښ کاته، سترې آهونه
ببرږیرې، سلېدلې، هډ او پوست زمول اندامونه

د تندي ګونجو کي لیک مرموز داستانه
اې پردیسه ببرسرې
ورک حیران، اوتر پرېشانه
په نامه زموږ انسانه
دا ته (!) څوک یې؟

www.sikaraam.com

دا له کومه راروان یې؟
چیرته درومې، څه دي هیله؟
څه دي شغل، څه دي مینه؟
د سفر پړاو دي چیري ؟
کومه موخه کومه پوله ؟

***

لـږ پـه حـال د ځـان مـې پـوه کـړه
ګونـدي وي چې زه دي دوسـت سـم
ګونـدي وي چـې سـره خپـل سـو
ګونـدي وي چـې سـره مـل سـو
زه هـم سـتا شـانتي پـردیس یـم
زه هـم سـتا شـانتي پـردی یـم
زه هـم سـتا شـانتي یـوازي
د ژونـد سـتړی لاروی یـم
خـو تـه زوړ یـې د وختونـو
زه د وخـت تنکـی زلمـی یـم

***

سـتا څېـره کـي یـو څـه مینـه
سـتا پـه سـترګو کـي څـه مهـر
زمـا د پـلار مینـه پـه راسـي
خـو تـه هغـه شـان هـم نـه یـې
هغـه ډېـول عقـل او حلـم
تـه اوتـر شـانتي ښـکاریږې

www.sikaraam.com

هغـــــه بنـــــه انـــــداز د ژبـــــي
تـــــه خاموشـــــه معلـــــوميږي

يــې هوښــيار خــوليــوني غونــدي ښــکاريږي

ترهيــــــــدلی، بوګنيــــــــدلی
لـــه خپـــل ځـــان څخـــه پټيـــږي

***

خيـــر! خيـــر خپـــه مـــه ســـې
يـــــه پرديســـــه بيرســـــرې
بيرږيـــــــرې ســـــــوليدلې
لـــــه ســـــفره ســـــترې ســـوې
لــږ مــي پــوه د ځــان پــه خولــه کــړه
لــږ مــي ســوال د ذهــن حــل کــړه
کـــــه ملنـــــګ د افســـــانويـــــې
نــو پــه دې وره کــي هــم حــل کــړه

***

ملا: هان، هان جو (۱) هان
زه به څه وايم چي څه يم
را روان د بل په حکم
را پرديس د بل په خوله يم

زه شپونکی د ورکو هیلو
زه قاصد د ګونګۍ مینې
زه داستان د هېرو ورځو
زه کاروان د تللو شپو یم
زه له لرې راروان یم
زه یو ورکې خوا ته ځمه
***
زما ژبه د رمزونو، زما پوهه د سوچونو
زما عقل محسور سوی
زما ذهن مجبور سوی
زما مینه ورکه سوې
زما جمال ډېره سوی
زما رنګ (!) بېرنګه سوی
زما لار بې لارې سوې
***
زه د زړه د ښار ملا یم
زه د سترګو د کور غل یم
زه د روح سترې وږمه یم
زه د ژوند تږې کیسه یم
زه لا لا لیونی کړی
زه خانانو راشړلی
زه بلا یم اسیر کړی
ملایانو تکفیر کړی

زه یو هېره ورکه څارم
زه یو ګونګه مینه پالم
زه په پټ حسن مین یم
زه یو تللی جانان غواړم

***

زه به څه وایم چي څه یم
زه به څه وایم چي څه یم
را روان د بل په حکم
را پردېس د بل په خوله یم

***

زه لا لا د لیونیو
زه مجرم یم د خانانو
زه بلا یم د وهمونو
زه ملا یم د رمزونو
زما کار مینه ښوول دي
بې سامانه لیونو ته

***

زما وطن د جنون دښته
تولوم کاڼي ویشتو ته
اوبوم ریښې د ګرګو
ورکوم ژبه اغزو ته

***

زما هنر د بت نڅا ده
د بلا له برکته

www.sikaraam.com

زما ذوق له خلکو تیښته
د ملا له نصیحته
***
**طالب:** ای د عشق په کتاب پوهه
ای د رمز د ژبې یاره
ای د حسن له ادا مسته
په بېرنګه رنګ، رنګ سوې
ای د ژوند په جام بدمسته!
ته رښتیا چې فرزانه یې
ستا انداز قلندري دی
خو د عقل خزانه یې
ته له تندي تږی نه یې
ته د ژوند د سیند په تل کې
د رڼو اوبو چینه یې
ته له لاري ستړی نه یې
ستا سفر نه دی یکړه
لا لا بولې ورسره یې
ته پلزن د چا د پله یې
لا رویو ته اسره یې جانان بولې ورسره یې
***
ستا له میني ستا له خانه
ستا له رنګه (!) ستا له لیاري (!)
لږه ما هم خبردار کړه

www.sikaraam.com

ستا له ښهره ستا له کوره
ستا له وهمه ستا له خیاله
لږه ما هم برخوردار کړه
لږ سبق د میني راکړه
لږ راوښیه خانان ستا
لږ دي رنګ د بلا وایه
لږ دي لار د ملا ستایه

***

زه طالب د حسن او میني
ته ملا د رنګ او لاري

***

ما ته پلار هم وړکتوب کي څه درسونه دي ویلي
څه د میني څه د حسن
څه د رنګ او لاري توري
څه د خان او لا لا مینه
څه د حسن او عشق جنګونه
دا د رنګ او بلا توري
دا د ژوند او ملا ټکي
زما د یاد په حافظه کي
له پخوا هم څه ښوربړي

***

خو زه پوه وربادي نه سوم
بابا ولاړئ زه تنها سوم

www.sikaraam.com

د دنيا په جنجالونو
له سبقه راجلا سوم
***
کاشکي بيا هغه کتاب وای
کاشکي بيا هغه درسونه
کاشکي بيا هغه حاشې وای
کاشکي بيا هغه متنونه
***
ملا راسه! ملا راسه !
ملا تم سه، ملا تم سه
زه طالب د حسن او ميني
ته ملا د رنګ او لياري
راځه جوړه حجره کړو
د لالا نغمه توده کړو
***
لږ دمه دلته وکړه
لږ دي پيټی له شا کيده
لږ مي سوال د ذهن حل کړه
لږ مي پوه د ځان په ژبه
لږ دي راز د رمز راځپل کړه
***
ملا : هان هان جو هان
دا منمه، دا منمه
دا منم ځوانه طالبه

www.sikaraam.com

چي زما زده ها به در زده کړم
ستا د ذهن سوال به حل کړم
تا به پوه د عشق په ژبه
تا به پوه د حسن په رنګ کړم
خو!
خویو شرط به پکي دا وي
په دغه به مو وعده وي، په دغه به بسم الله وي
چي څه وایم هغه زده کړه
چي زه یمه داسه مسه
***
**طالب** : ولي؟ ولي؟ ملا ولي ؟
دا دي څه جوړه معمه کړه
***
**ملا** : ملایي زما رمزونه د قال ژبه
د خو تورو ملکي ده
دا د جو د خیال خاني ده
او کول خو زما حال دئ
هغه پټ دننه روح کي، یو مبهم غوندي جهان دئ
بې تعبیره شان واکدار دئ، د کولو بولی بولي
دا بولی یوازي ما ته
داسي نه چي و هر چا ته
***
**طالب**: پوه سوم، پوه سوم

www.sikaraam.com

دا هغه زړه خبره

دا هغه پخوا متل دی

چي ملا کړي هغه مه کړه، او چي وايي هغه وکړه

***

**طالب:** زما د پلار له سبقونو

له زړو پاڼو او ليکو

ما ته څو توري يادېږي

زما په ژبه کي خواږه دي

زما و سترګو ته ښايسته دي

خو دا ژبه د رمزونو، زه به څه باندي پوهېږم؟

دا خو کار د فرزانه و

د هوښيارو مستانه و

دا خو ژبه د پيريانو، دا خو کار د ملايانو

هغه توري ملا دا دي

۱. «مينه تنده د ديدن ده، وصل اور دئ

وفا غلې له حيا نه، جانان کور دئ

د لا لا سندره بولي ليلا ورکه

مجنون خاوري ښکلوي مطلب يې نور دئ»

۲. «د صورت د بت له سترګو فتنه پاڅي

نظر ما ته آئينه کړه صورت څاڅي

خان د خط فرمان راوړی انداز بل سو

د جلال پرده کي نغښتی جمال ناڅي»

۳. « د وحدت له جبره شپه د رنګ تياره ده

www.sikaraam.com

د کثرت په ادا ورځ خاندي نشه ده
دا چې ښار د عقل وران جنون باچا سو
دا بلا له کومه راغله څه کیسه ده؟»
۴. «لار تدبیر وېرانه کړې قدم ګوره
د ثواب له ګناه تښته صنم ګوره
طالبانو د محراب ډیوې کړې تتې
ملا ځان له په دوهی کې همدم ګوره»

**اول سبق**

«مینه تنده د دیدن ده وصل اور دئ
وفا غلې له حیا نه جانان کور دئ
د لالا سندره وایي لیلا ورکه
مجنون خاوري ښکلوي، مطب یې نور دئ»

***

**ملا**: مینه تنده د دیدن ده
مینه؟... تنده؟...
ښه ښایسته تعبیر د میني
چې هم ښکلی هم رښتیا دئ
هم په خوله کې ښه جوړېږي
هم په ذهن کې ځایېږي
هم احساس ته آشنا دئ
هم تاریخ د آدمزاد کې
هم کتاب د تجربو کې
مثل سوی حق رښتیا دئ

www.sikaraam.com

همدغه مناسب وصف دئ

همدغه ښايسته تعريف دئ . .

مينه . . . تنده . . .

مينه تنده، مينه تنده او دا تنده داسي تنده

چې هيڅ ځاى نه اوبه کېږي

دا هيڅ وخت نه ختمېدونکې

دا هيڅ ځاى نه درېدونکې

له ازله تر ابده

له پرونه تر سبا

له انسان سره ملګرې

له انسان سره آشنا

د مکان دا ارت غولى

د زمان دا اوږد واټن هم

دغه تندي ته وړوکى

دغه تندي ته لنډوکى

***

د وجود په لومړۍ ورځه چي کلال خټه لمده کړه

د تخليق په اول ټاپي چي فطرت بټۍ توده کړه

دغه خټه وه ساز سوې

د هستۍ له سپېرو خاورو

له رڼو اوبو د ميني

دغه لوښى چي کامل سو

د کمال په کارخانه کي

www.sikaraam.com

دغه لوښی چي رنګه سو
د جمال په ښایسته سترګو
دغه خټه چي پخه شوه
د جلال د اور بټۍ کي
دغه تنده هم پیدا سوه
د دې لوښي په وجود کي
د بدن دننه پود کي
غلې غلې غزیدله
پټه پټه خپریدله، لویېدله، لویېدله
چي ښه لویه سوه ښایسته سوه
په نازونو آراسته سوه
یو خودکامه معشوقه سوه
بې پروا مغروره ښکلې
بې پردې شان رابښکاره سوه
***
د وجود د ښار ټولواک یې
په ادا د انداز خپل سو
هغه (!) واک د مکان ورکړ
هغه (!) واک د زمان ورکړ
نو د لوښي په وجود کي
د بدن دننه پود کي
په ښایسته تخت د معبود کي
معززه میلمنه سوه

www.sikaraam.com

***

یوه شپه چې لویه شپه وه
د اختر ګرمه مېله وه
ټول ښار په مستۍ مست وو
لوی واړه ټول نڅېدله
پاسبانان د ښار بدمسته
په ګلیو په کوڅو کې
په رګونو، پلو، هډوکې
پاڅېدله، نړېدله، خندېدله، لوبېدله
دغه شپه زبرګه شپه کې یو رڼا راغله له لیري
دا رڼا له دې نه مخکې
چیري هم چا نه لیدلې
دا رڼا له دې نه مخکې
هېچا هم نه اورېدلې
یو رڼا وه زودګزره
بس په یو رپ کې راتله وه
بس همدې لحظه کې تله وه

***

خو سهار؟ حالات بدل وو
ټوله ښار په غمو سر وو
لوی واړه هک پک حیران ول
ټول له تندي کړېدله
په حسرت کې سوځېدله

نه هغه بساط د عېش وو
نه هغه پیالې د ملو
نه هغه مسته خندا وه
نه هغه شور و د ښکلو
نه هغه د لمر ښایست وو
نه هغه د خوښۍ کښت وو
نه هغه ډکې ویالې وې
نه هغه لمدې وږمې وې
خلکو تور کالي اغوستي
ځانله ځانله ژړېدله
ښځې جوړه د غم ورا وه
لور په لورې ګرځېدله
ماشومان له ویرې چوپ وو
لیونیان له نرخه وتي
همغه شان خندېدله
همغه شان پسخېدله
***
«دا ماښام د شپې رڼا چې
زموږ له ښاره تېرېدله
د ټولواک واک یې اخیستی
باچا اوږد خوب کې ویده سو»
دا آوزا د ښار د مشر
چې هم مشر هم هوښیار وو

www.sikaraam.com

هم زیرک او هم خود دار وو

***

**مینه** : واورئ، واورئ!

خلکو واورئ!

د وجود (!) د ښار ښاغلیو!

نور زما د واک بولې ده

ټول زما فرمان ته غوږ سئ

زه یم مینه، مینه، مینه

زما اصل نوم دی مینه

خو له ذاته لیونۍ یم، لیونۍ یم

رښا ماته واک سپارلی

د وجود د ښار ټولواکه

کل اختیاره د هستۍ یم

زه یم مینه، مینه، مینه لیونۍ یم

***

رښا څه سوه، رښا څه سوه؟

دا رښا وه که جمال وو!

نه، نه دا جمال نه وو جلال وو

هم جمال وو هم جلال وو

څه وه...؟ څه وه...؟

دا یو خوب وو که نشه وه؟

د اووم اسمان له ها خوا

د نورونو یو شغله وه

www.sikaraam.com

راغله ولاړه پلوشه وه
عجیبه شانتي قصه وه
دا مي هېر چي ښکلې راغله
دا مي هېر چي چیرته ولاړه
دا مي هېر چي څه وه؟ څه سوه؟
خو اصلي خبره دا ده
چي رڼا له ما څه وړي څه راکړي
***
رڼا ما ته رابخښلې د دې ستر ښار پاچاهي ده
خو آرام یې له ما وړی!
هو آرام یې له ما وړی!
د آرام پیاله یې یووړه
د غمونو ښار یې راکړ...
پاچهي ده، پاچهي ده
د یوې پیالې په بیه پادشاهي ده سلطنت دی
بس یو سوځنده حسرت دی
ټول بدن مي تندي وسو
مرګ له تندي مي قسمت دی
***
**رڼا:** تګ وخت کي ویله
زما لوري تې کتله
یه! زما لیونۍ میني
یه !زما لیواله تندي

یا په ما پسې رادرومه
یا مي لار د راتګ څاره
ستا آرام زما اسیر دی
ستا تقدیر زما تدبیر دی
ستا هستي دغه پیاله ده
دا له ما څه راسره ده
خو دا واوره، چې یې بیه
د ژوند بیه! د ژوند بیه! د ژوند بیه!
***
زه هغه د بټۍ اوریم
ته هغه د ختې جوړه
تږې تږې پیمانه یې
زه هغه مرموز کلال یم
ته هغه خاوري اوبه یې
***
راسه راسه!
ګوره ګوره!
اوبه دلته پیاله دا ده
خو دا واوره چې بیه
د ژوند بیه د ژوند بیه
بیا هغه د بټۍ اور دئ بیا هغه خاوري اوبه
***
مینه: واورئ واورئ خلکو واورئ

د وجود د ښار ښاغيلو
زه خو مينه ليونۍ يم، ليونۍ يم
او اوس تږې، او اوس تږې
تږې ، تږې سخته تږې
سوځونکې شانتې تنده
دردونکې شانتې تنده
خوريدونکې شانتې تنده
ځورونکې شانتې تنده
***
زما تنده د ديدن ده
زما مينه له رڼا ده
رڼا پټه په پرده کې
او پرده د ژوند پرده ده
***
ږوم به ښار او کلي
سوځوم به تاسي ټوله
سوځوم به هر څه، هر څه
چې رڼا بېرته پيدا سي
چې زما تللى آشنا راسي
زما هستي سي بيا سېرابه
زما پياله بيرته پُرآبه
زما اور د بدن مړ سي
زه، اشناسو سره پاته

www.sikaraam.com

***

**ملا:** «مینه څه ده، مینه څه ده ؟

مینه ګوره لیونۍ ده

لیونۍ د دیدن تنده

او دیدن د بریښنا منډه

وصل اور دئ، وصل اور دي»

***

د ښار نوي ټولواکمني

څه په قهر څه په مینه، څه په جبر څه په زوره

همدغه بولۍ بللې، همدغه نارې وهلې

مینه تنده ده او تنده!... وصل اور دئ! وصل اور دئ

مینه تنده ده او تنده

وصل اور دئ، وصل اور دئ

***

د دې ځوان تنکي وجود کي

د ګفتار له جدیته

د انداز له کیفیته

د حالاتو له ګرمیه

له یوې وروستۍ بولیه

له یوې وروستۍ بولۍ

وصل اور دی! وصل اور دی!

یو ناپېښه اور پیدا سو

ښار یې ټول لمبه لمبه کړ

وجود ټول رڼا رڼا سو
د هستۍ له لویه نومه
د ټولواک له سلطنته
د صانع له ستر خلقته
بس یوه شینکۍ لوخړه
څو سپېره د ایرو موټي
د مکان پر غولي پاته
هغه هم سیلۍ د ورځو
د زمان د باد له پوکو
د نېستۍ نامه ته نذر د هستۍ په نوم قربان کړل
***
خو!
خو عجیبه قصه دا ده
چې له دې عظیم قیامته
او له دې جابر هیبته
له دې لوی ښار د وجود نه
له دې ستر اور د نمرود نه
د وران سوي ښار کوڅو کې
د سوځلي کښت په پولو
د نکلونو هدیرو کې
دوه موجود ژوندي وجوده
له دې پېښو بچ او سوي
په دې اور کې پاته سوي

www.sikaraam.com

د پخوا په شان مرموزه
د پخوا په شان خودداره
د پخوا په شان خپلواکه
د پخوا په شان سرزوره او سرشاره
همغسي شانتي ګرځي
همغسي شانتي پرزي
یو ساکت حیرت خاموشه
له حیا ګوته په خوله
بل بدمسته غزلخوانه
ببر سری بې سامانه
ترهېدلی اوږدلمنی بې ګریوانه
ناخبره له جهانه
زموږ له مځکي له اسمانه
***
لیونۍ اوس ټولواکمنه
بس د دغه دوو ښاریانو
د دې کلی د دې کور اوس
بس د دغه دوو یارانو
د دې توند خطاب د «واورئ» !
د دې دروند آوزا د «ګورئ» !
اوس و دغه دوو (!) ته پاته
د دې هیله د دې حکم
اوس د دغه دوو !و خواته

***

**مینه:** «واورئ! واورئ! ګورئ! واورئ !

اې له اوره بچا سوو

په مړه ښار کې پاته سوو

لا فاني شانتي هستیو

اې مرموزه موجوداتو

د سوځلي ښار کوڅو کې

د ایرو پاسبانو!

د زما ن د کتاب کرښو

د بابللي تخت راویانو!

د وجود په حرم سرای کې

زما د حسن ناظرانو

د حسرت د اور لمبو کې

زما د مینې شاهدانو!

څنګه څنګه لا ژوندي یاست؟

ولې ولې (لا فاني) یاست؟

وایاست دا په څه باقي یاست؟

ما هستي ټوله لمبه کړه

ما نېستي د ښار کوربه کړه

او، خو...

تاسو هغه شانتي مست یاست

دا په کومو میو مست یاست؟

دا مو څه وینه په تن کې

دا مو څنګه سا بدن کې؟

***

**وفا**: «زما کیسه ګوره اوږده ده

هم جانسوزه هم خوږه ده

خو سکوت د جانا حکم

او حیا زما پرده ده»

***

زما یو وخت د «**هو**» دوه ټکې

په مستۍ کې ترخوله وتې

خو زه پوه وربانديې نه سوم

دغه «**قال**» مې «**حال**» بدل کړ

د تسلیم د توري واري

یو جابره ګزار وکړ

د هستۍ په درشل باندې

د وجود په اتل باندې

زما هستي او وجود دواړه

له سرونو سوه بې سره

***

له دې لويې قربانيه

په دې ستر شان آزمايښت کې

زما له غلې شانتي صبره

زما له غلې خاموشيه

د جلاد په زړ کې رحم

د مقتل په پوله وصل
«ه» او «و» غاړه غړۍ سوه
د اجل د مرګ زندۍ سوه
لایزاله زما هو(!) سو
لا محدوده زما عمر
جاویدانه زم «جو» شو
زه اوس نه لرم اجل
زه اوس نه سوځم په اور کي
زما سر کي د «هُو» شور دی
زما زړه کي د «جُو» وینه
زما تن کي د «هان» زور دی
او دا نه مري له مرګونو
او دا نه سوځي په اور کي

***

**حیا**: زما وینه زما مینه
زما کور زما وطن
ټوله ټوله هُو او جُو دي
زما روح او زما تن
ټوله ټوله «هان» او «هو» دی
هو زما د روح سندره
هو زما د تن سایه ده
هان زما د سوز مقام دی
جو زما د ساز پرده ده

www.sikaraam.com

دا خو حکم زما د هُو دی
چې زه پټه یم حیا یم
او دا امر زما د جو دی
چې ملګرې د وفا یم
***
زه د عشق په سوز او ساز کې
په حسرت او په ګداز کې
په غمونو د بېلتون کې
په خوښیو، پیوستون کې
په هر حال کې یم خاموشه
د رازونو پرده پوشه
د شکران (۲) د پیالې «**شرنګ**» یم
یو مجبور سکوت مدهوشه
***
دا په دا چې جانان کور دئ
هغه (!) زما د زړه میلمه دئ
په هر حال کې مې ناظر دئ
په هر ځای کې راسره دئ
د هغه جلال هیبت
ګونګه کړې زما حیا ده
د هغه جمال دولت
رانیولې زما وفا ده
***

**جنون:** «زه جنون یم زما سندرده د لا، لا
او لا لا زما لیلا
زه بابا د لیونو یم
زه لا لا د اندېښنو یم»

***

زه یو وخت د عقل پلار وم
زه یو وخت د پوهی ښار وم
په څلور کنجه دنیا کي
هم په ارض هم په سما کي
زما د پوهي ستر شهرت وو
زما د ذهن لوی طاقت وو
د فطرت و کارخانو ته
د خلقت پټو رمزو ته
زما د عقل رسايي وه
د اسمان په ستورو باندي
زما د فکر حکومت وو
ژور تل د ارتي ځمکي
ما پی کړی په حکمت وو

***

زما کار پوهه ښوول وه
مدرسې او کتابونه
مسئلې او ځوابونه
ډلي ډلي شاګردان

www.sikaraam.com

زما د علم و الوت ته
ځمکه سوې پاس اسمان
زه واعظ وم د دې اصل
چې «**اختیار**» د انسان زور دئ
زه قایل وم د دې حکم
چې «**حادث**» د «**قدیم**»ورور دئ
دا هستي د هستۍ خپل رنګ
او «**جوهر**» د «**عرض**» کور دی
دا خبر چې ژوند راګرځي
د بې مغزه مغزو جوړ دئ

***

خو یوشپه؟
یوه شپه دخوب له واري
په څه ګونګه شان رڼا کي
د ښایست په انتها کي
د هیبت ډکه فضا کي
زما د زړه دننه ښار کي
زما د ذهن په دنیا کي
د چا (؟) دوې سترګي پیدا
زما و خوا ته غلي غلي په خندا سوې په ادا
پټي پټي
ګونګي ګونګي
رانزدې سوې په مسکا

www.sikaraam.com

ټوله مینه تمام حسن!
بېرته بېرته، غلي غلي
رانه لري سوې پنا
او سهار؟
***
سهار عقل مرور وو حکمت تللی
کتابونه مسئلې
ها د جز او کل قضیې
ها درسونه شاګردان
ها بساط ځمکه اسمان
هر څه، هر څه نااشنا
ټول خوندونه وو بې خونده
ټوله پوهه یو معمی
هر څه هر څه بې معنی
له «**اختیار**» سره جګړه
عشق د «**جبر**» انتها
له ازله تر ابده
له پرونه تر سبا
جوهري څاڅکي را اوري
په رنګینه ده دنیا
نیستي ورکه سي نیستۍ کي
هستي مسته خودنما
ډکوي جام له مینا

www.sikaraam.com

حریفان پر اته مدهوشه
ساقي پټ د خم تر شا
د مالي خیال دی ګلریزه
ګل روان موج د خندا
عجیبه د مکر جال دی
مرتد عقل نیم ملا
څه ښایسته د سترګو کښت دی
په مقتل کي د لیلا
او لیلا عقل دښمنه
له جنون سره پخلا
***
او جنون؟
دا جنون د مجنون سترګي؟
که ښایسته د حق لیلا؟
دا ښایست له عشقه ساز دی
او که عشق د رنګ پیدا؟
هر څه هر څه د سوال کرښي
ستر حیرت لویه معنا
سل پوښتني، یو ځواب
خنجري وار د لا، لا
***
د لا لا د خنجر لا
هم په غیرو سینو ښخ دی

هم خودکشه بې پروا
دا د عشق د اثر ننګ دی
د جابرو تورو جنګ دی
بیوي د انکار ویني
او بوي د اثبات پولي
نړوي بتا ن د عقل
پرې کوي د اختیار پړي
***
زه جنون یم زما سندره ده لا لا
او لا لا زما لیلا
د لا لا ، لا لا سندره
دا د لا او لا سندره
تښتوي درانه خوبونه
ویښوي ویده خیالونه
نڅوي د وجود څلي
سوځوي د عقل خوني
سازوي د جنون ساز
او دغه د بقا راز
***
زه جنون یم لا فاني
زه مجنون یم بې پروا
زما سندره ده لا لا
او لا لا زما لیلا

www.sikaraam.com

لیلا حسن د صورت دی
پکې پټ رمز د ادا
او ادا؟
ادا پټ مجهول اثر دی
نه په عقل سي پیدا
نه په جهد لیده کېږي
نه بل چا ته بیانېږي
نه قاضي د مسئلو
نه شیخان د وظیفو
نه راویان د مسندونو
نه ملا د مدرسو
هېڅوک هم نه دی خبر
چې دا څه دی دا اثر؟
***
یو مجنون د جنون سترګې
یو لیلا د ادا موج
یو جابر سلطان د حسن
څلور خوا د حیرت فوج
***
بس دغه د کوَن معنی
بس دغه د کان رڼا
بس دغه د مکان رنګ دی
بس دغه د زمان ډنګ دی

***

زه مجنون یم زما سندره د لا ، لا

او لا لا زما لیلا

لیلا ورکه د منزل ده

لیلا پټه ده په شپو کي

لیلا ایښي قدمونه

زموږ د کلي په کوڅو کي

ځکه لاري دي رنګیني

ځکه خاوري دي حیسني

***

پلټم د قدم لاري

ښکولوم د کوڅو خاوري

لا لا توره چلولې

ښار میدان د کربلا

لیلا سترګي توري کړي

کلی ځاله د بلا

عافیت خوشي خبره

هستي نذر د ښکلا

**او ښکلا؟**

او ښکلا هغه رڼا

چي جلوه ده د لا لا

چې لیده شي پې لیلا

***

www.sikaraam.com

**زه جنون یم لا فاني**

**زه مجنون یم بې پروا**

**زما سندره ده لا، لا**

**او لا لا زما لیلا**

***

**مینه: «پوه سوم پوه سوم**

**یه سرتیرو لیونیو!**

**د مرتد عقل دښنه وو**

**شرپسنده! مستانه وو!**

**د احساس له جام بېخوده**

**له دلیله بېګانه وو»**

***

**یو د «هو» د ننګ اسیر**

بل د «**لا**» د جنګ فقیر

یو هر څه «**هو**» کي میندلي

بل هر څه په «**لا**» بایللي

***

**مرګ سزا د عاقلانو**

**جنون ژوند جاویداني**

**اور اجل د هوښیارانو**

**چرته سوځي لیوني؟**

***

**ځار سه ځار سه سل خرواره پوهه، عقل**

www.sikaraam.com

له یوې ذرې جنونه
ځار سه ځار سه، زر کلونه عیش د وصل
له یوه آه د بېلتونه
څوک خبر چي «هستي» څه ده؟
د «نېستۍ» و خواته منډه...
هر څه هر څه نذرانه...
څوک خبر چې مستي څه ده؟
دا یو هل دی رندانه
د «خودۍ» بت کړئ چپه
څوک خبر چي« وجود» څه دی؟..
د رازونو جیلخانه ده
د حیرت نګهباني ده
د نظر سرمه سايي ده
د شهود پاسباني ده
څوک خبر چې مینه څه ده؟..
د مطلوب د طلب تنده
د طالب ورکه دنیا ده
ګونګه ګونګه بې تعبیره
په پیدا کي ناپیدا ده
مبهم متن دی بې تورو
بې تفسیره یو معنا ده
د آدم د جوهر رمز دی
څه ژړا ده څه خندا

www.sikaraam.com

د حیات د اوبو رنګ دی
د ممات د لوبې خوند دی
مقدسه مشغولا
***
د بدن د خټو کور کې
عشق ډیوه ده آسماني
د شهود په بتکده کې
دا یو فیض دی رباني
***
ځئ چې ووځو له خپل تنه
ځئ چې درومو و مطلوب ته
ځئ چې ځو و خپل وطن ته
ځئ چې ورکه مو پیدا کړو
ځئ چې ننوځو دنیا ته
ګوندي وي چې هلته مومو
د لیلی د قدم نښې
ګوندي وي چې هلته واورو
د لا لا سوځنده ساز بیا
ګوندي وي چې هلته لمس کړو
د رڼا سوځنده سوز بیا
***
رڼا ننګ زموږ د لیاري
په هر رنګ کې یې جلوه

لیلا موخه د سفر ده
په منز ل کې مېلمنه
لیلا تنده د طلب ده
په هر ګام کې راسره
رڼا زموږ د زړګي سترګي
مخکې، وروستو ښکته پورته
په هر لوري يې جلوه
ځئ چي ووځو له خپل ځانه
ځې چي ننوځو دنیا ته
ځئ چي پیل خپل سفر کړو...

د اول سبق پای(د اول سبق پای )
۱۹۸۶، ۱۴، ډسمبر
د تبعید د اول کال وروستۍ ورځ
د مفرور ملا پردېسه هوجره
میامي، امریکا

www.sikaraam.com